دويم حديث: دسلمة بن الاكوع ﷺ: قَالَ كُنَّا نُصَلِّيْ مَعَ رَسولِ الله اَلمغربِ اِذَا تَوَارَتْ بِالْحِجَابِ وَفِيْ رَوَايةٍ، اِذَا غَرَبَتِ الشَّمْسُ وَتَوارَتْ بِالْحِجَابِ (٣).

---

١. مسلم صـ ٢٢٨ج – ١ نسائي صـ ٨٢ ج-١

٢- بخاری عـ ٥٥٩ مسلم عـ ٧٥١ ابوداودعـ ٤١٦ طحاوی صـ ٢١٢ ج – ١

٣- البخاری عـ ٥٦١ مسلم ٦٣٦

ترجمه: سلمه بن اکوع ﷺ فرمائی چې مونږ به د رسول الله ﷺ سره دماښام لمونځ وکړ کله به چې لمر په پردو کې پټ شو په یوروایة کې داسې دی چې کله به لمر ډوبشو اوپه پردوکې به پټ شو.

# جمع بين الصلوتين

## دوه لمونځونه په يووخت کول

مسئله: داده چې په يووخت دوه لمونځونه جمع کول روادی اوکنه؟
دامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دقرانی ايتونو اواحاديثوپه رڼاکې دادی چې بغيردعرفات اومزدلفه نه دوه مونځونه په يو وخت کول ګناه ده د دلائلو دوړاندی کولونه دمخاګځو مسائلو ته فکرکوي.
مسئله: الله جل جلاله دهرلمونځ لپاره خپل خپل وخت ټاکلی دی.
مسئله: په عرفات اومزدلفه کې دوه مونځونه په يو وخت کول روادي.
مسئله: په عرفات اومزدلفه کې يواځی اويواځی دماسپښين اومازديګر لمونځونه يوځائی کول اوماښام اوماسخوتن لمونځونه يوځائی کول روادي
مسئله: په حالت دسفرکې جمع بين الصلوتين کول صورةً روادی .
جمع صورة: مطلب دادي چې دماسپښين لمونځ اخروخت ته روسته کړی اودمازديګرلمونځ اول وخت ته راوړاندی کړی مينځ کې لږه فاصله ورکړی دارنګه ماښام لمونځ اخروخت ته روسته کړی اودماسخوتن لمونځ اول وخت ته را وړاندی کړی اومينځ کې لږه فاصله ورکړی .
نودلته لمونځونه يوځائی شو ليکن هريولمونځ په خپل وخت کې وشو داهم روادی .

**مسئله:** څوک چې جمع بين الصلوتين رواګڼي هغوی هم يواځې دماسپښين اومازديګرلمونځونه جمع کول اودماښام اودماسخوتن لمونځونه جمع کول رواګڼي نورنه. اوهغه هم په حالت دسخت عذر، سفر. باران کې.

**مسئله:** نوځمونږه په مذهب کې جمع بين الصلوتين به غير دعرفات اومزدلفه نه ګناه ده اوجمع حقيقي (يووخت کې دوه لمونځونه جمع کول) ګناه ده.

# دلائل

**اول دليل:** ځمونږ ټول هغه ايتونه دی چې په هغی کې په خپل وخت دلمانځه امرشو يدی چې يوڅوئی درنو لوستونکو ته وړاندی کوو.

**اول ايت:** اِنَّ الصَّلٰوةَ كَانَتْ عَلَى الْمُؤْمِنِيْنَ كِتَاباً مَوْقُوْتا([1]).

**ترجمه:** يقينالمونځ په مؤمنانو وخت په وخت فرض دی.

دويم ايت. حٰفِظُوْا عَلَى الصَّلَوٰتِ ([2]).

**ترجمه:** ساتنه وکړی په لمونځونو

دپورتنی ايت لاندی حافظ ابن کثير رحمه الله ليکی چې يَاْمُرُاللهُ تعالى بِالْمُحَافَظَةِ عَلَى الصَّلواتِ فِىْ اَوْقَاتِهَا ([3]).

---

[1] - سورة نساء ايت ۱۰۳

[2] - البقره ۲۳۸

[3] - ابن کثير ص ۲۹۰ ج ۱

دریم ایت ﴿وَالَّذِينَ هُمْ عَلَىٰ صَلَوَاتِهِمْ يُحَافِظُونَ﴾ (١).

ترجمه: اومومنان هغه خلک دی چې دخپلولمونځونو ساتنه کوی.

تفسیر: زیات دتفسیر پوهان لکه ابن مسعود رضي الله عنه مسروق تابعي رحمه الله قتاده تابعي رحمه الله ددی ایت لاندی فرمائی چې دلمونځونو په خپل وخت کې کول دلمونځونو په حفاظت او ساتنه کې داخل دی (٢).

څلورم ایت: ﴿هُمْ عَلَىٰ صَلَاتِهِمْ دَائِمُونَ﴾ (٣).

ترجمه: دامؤمنان په خپلو لمونځونو همیشوالی کوی.

حافظ ابن کثیر رحمه الله ددی ایت لاندی لیکلی چې معنا د (دوام) لمونځ په خپل وخت کې کول دی.

دهرلمونځ لپاره ټاکلی وخت په متواتر احادیثوثابت دی.

په ټولوکتابونو داحادیثو صحاح سته وکې دلمونځ وختونو باندی مستقل بابونه لیکل شوي دی اوپدی کې په سلګونواحادیث دمونځ په معلوم اومقرر وختونو باندی دلالت کوی اودټولو احادیثونه جوتیږی چې هرلمونځ به په خپل ټاکلی وخت کې کیږی اودټاکلی وخت نه ئی غیر کول ګناه ده.

**دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه مرفوع حدیث دی**

قَالَ سَأَلْتُ النَّبِيَّ ﷺ أَيُّ الْأَعْمَالِ أَحَبُّ إِلَى اللهِ قَالَ الصَّلٰوةُ لِوَقْتِهَا (٤).

---

١ - مومنون : ٢٣

٢ - ابن کثیر ص ٤٢١ ج ٤

٣ - سورة معارج: ٢٣

٤ - بخاری ص ٧٦ ج-١ ،مسلم ص ٦٢ ج-١ مشکوة ص ٥٨ ج-١

ترجمه: ابن مسعود ﷺ فرمائی چې مادرسول الله ﷺ نه پوښتنه وکړه چې په نیکو کارونوکې کوم یونیک کار الله ﷻ ته خوښ دی رسول الله ﷺ وفرمایل چې غوره اوخوښ عمل الله ﷻ ته لمونځ په خپل وخت کول دی.

## دلمونځ دوخت نه دروستوکولو ګناه:

دنبی علیه السلام سختی ښیری !
کله چې په غزوه احزاب کې دسخت جنګ په وجه دمازدیګر لمونځ قضاء شو نونبی علیه السلام دلمرپریوتو نه پس دهغی قضاء وکړله اوکافرانوته ئې په سختوتهکوښیری وکړی چې دښیرو الفاظ رانقلوو.
شَغَلُوْنَا عَنِ الصَّلٰوةِ الْوُسْطٰى صَلٰوةِ الْعَصْرِ مَلاَءَ اللّٰه بُيُوْتَهُمْ وَقُبُوْرَهُمْ نَارًا (١).

ترجمه: دوی (کافرانو) مونږ دغوره لمانځه (مازدیګر لمانځه) نه مشغول کړو الله ﷻ ددوی کورونه اوقبرونه ذاورنه ډک کړی.
استدلال : (١) که جمع بین الصلوتین رواوی نونبی علیه السلام به دماسپښین لمانځه سره دمازدیګرلمونځ کړی وائی.
(٢) نبی علیه السلام دطائف په سخت سفرکې اوداحدپه ورځ دغاښونودشهادت په وخت کې ښیری نکوی اودعاکوي اودلته دومره سختي ښیری.

---

١ - بخاری ص ٤١٠ ج - ١ مسلم ص ٢٢٨ ج - ١ ،مشکوة ص ٦٣ ج - ١

## دسختي جګړې او ويرې په حالت کې به هم په خپل تاکلي وخت لمونځونه کوي.

دصلوة خوف دعنوان نه لاندې په شلګونو احاديث شته چې دهغې نه دامعلوميږي چې لمونځ به په خپل تاکلي وخت کوي.
نوکه جمع بين الصلوتين رواوی نونبی عليه السلام به په حالت دويرې کې جمع بين الصلوتين کړې وائې.

## بغيردعذرنه جمع بين الصلوتين ګناه ده

**اول حديث شريف دابن عباس** ﷺ: عَنِ النَّبِيِّ ﷺ مِنْ جَمَعَ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ فَقَدْ اَتٰى باباً مِنْ اَبْوَابِ الْكَبَائِرِ ([1]).
ابن عباس ﷺ دنبی ﷺ نه حديث نقلوی چې چادوه لمونځونه بغيردعذرنه يوځائی وکړل نودلوی ګناهونو يوه دروازه ئې خلاصه کړه.
**دعمرفاروق فرمان!**

داسلامي خلافت واليانو، حاکمانوته عمر ﷺ يوخط وليکه چې اِنَّ الْجَمْعَ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ فِىْ وَقْتٍ واحِدٍ كَبِيْرَةٌ مِنَ الْكَبَائِرِ ([2]).
**ترجمه:** بيشکه (جمع بين الصلوتين) دوه لمونځونه په يووخت کول يوه لويه ګناه ده دګناهونونه.

**يادونه:** که چيرته جمع بين الصلوتين رواوئی نوعمر ﷺ ولی فرمان صادر وی خليفه راشددی نبی عليه السلام دخلفاء راشدينو

[1] - ترمذی ص ٢٦ ج - ١
[2] - مؤطا امام محمد ص ١٣٢ ، سنن بيهقی ص ١٦٩ ج - ١

ﷺ په هکله فرمائی چې عَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ تَمَسَّكُوْا عَلَيْهَا وَعَضُّوْا عَلَيْهَا بِالنَّوَاجِذِ.

**ترجمه**: لازم دی په تاسی څماسنت اودخلفاء راشدينو سنت ، منګولی پری ولږوی اودژامنی په غاښونوئی کلک ونیسی.

ابوموسی اشعری رضی الله عنه حکم دی چې

اَلْجَمْعَ بَيْنَ الصَّلٰوتَيْنِ مِنْ غَيْرِ عُذْرٍ مِنَ الْكَبَائِرِ (۱).

**ترجمه**: جمع بین الصلوتین (دوه لمونځونه یووخت کول) بغیر دعذرنه دلویو ګناهونه یوه ګناه ده.

## جمع بين الصلوتين په دين کې کمښت دی

**حديث شريف دابوقتاده** رضی الله عنه: اِنَّ رَسُوْلَ اللّٰهِ ﷺ اِنَّمَا التَفْرِيْطُ عَلٰى مَنْ لَّمْ يُصَلِّ حَتّٰى يَجِيْئَ وَقْتُ الصَّلٰوةِ الْاُخْرٰى (۲).

ترجمه: بیشکه رسول الله ﷺ فرمائی چې بیشکه کمې په هغه چادی چې لمونځ ونکړی تردی چې دبل لمانځه وخت راشی.

په پورتنی عبارت دابوهریرة رضی الله عنه اثرهم په طحاوی ص ۱۲۲ ج – ۱ کې شته.

**یادونه** : جمع بین الصلوتین یواځی په عرفات اومزدلفه کې رواده نبی ﷺ یواځی په عرفات کې دماسپښین اومازدیګرلمونځونه

۱ - مصنف ابن ابی شیبه ص ۴۵۹ ج – ۴

۲ - مسلم ص ۲۳۹ ج – ۱

يوځائى دماسپښين په وخت كې كړي وه اودماښام اوماسخوتن لمونځونه ئې دماسخوتن په وخت كې په مزدلفه كې كړى وه.

اول حديث دعبدالله بن مسعودﷺ: قَالَ مَارَئَيْتُ رسول الله ﷺصَلّٰى صَلٰوةً الاّ لِمِيْقَاتِهَا اِلاّ صَلٰوتَيْنِ صَلٰوةِ الْمَغْرِبِ وَالْعِشَاءِ بِجَمْعٍ (١).

ترجمه: ابن مسعودﷺ فرمائى چې مارسول اللهﷺپه بى وخته لمانځه ندى ليدلى مگر يواځې په عرفات كې چې د ماښام اوماسخوتن لمونځونه ئې په يو وخت اويو ځائى وكړل.

دويم حديث هم دابن مسعود ﷺ: كَانَ رسول الله ﷺيُصَلِّيْ صَلٰوةً لِوَقْتِهَا اِلاَّ بِجَمْعٍ وَعَرَفَاتٍ (٢).

ترجمه: رسول اللهﷺ به هرلمونځ په خپل وخت كولو مگريواځې په عرفات، اومزدلفه كې جمع بين الصلوتين كوله.

تشريح: دپورتنو اوداسې نورواحاديثونه معلوميږي چې نبى عليه السلام دعرفات اومزدلفه نه سواپه هيڅ ځائى كې اودحج دوخت نه غيرپه هيڅ وخت كې دوه لمونځونه يوځائى ندى كړى.

په كوم‌واحاديثوكې چې جمع بين الصلوتين راغلى هغى نه مرادجمع صورى مرادده جمع صورى: مطلب په وړاندى كرښوكې بيان شوچې دماسپښين لمونځ دماسپښين اخروخت ته روسته كړى

---

١ - بخارى ص ٢٢٨ ج – ١، مسلم ص ٤١٧ ج – ١، مشكوة ص ٢٣٠ ج – ١

٢ - نسائى ص ٤٤ ج – ٢

اودمازدیګرلمونځ اول وخت دمازدیګرتـه رامخکې کړی اودارنګه دماښام لمونځ دماښام اخروخت تـه روسته اودماسخوتن لمونځ دماسخوتن اول وخت ته رامخکې کړی نولمونځونه په خپل وخت کې وشو.

## دلائل په جمع صوری

**اول حدیث دعایشة (رضي الله عنها)**

كَانَ رسـول الله ﷺ فِي السَّفَرِ يُؤَخِرُ الظُّهْـر وَيُقَـدِمُ الْعَـصْرَ وَيُوَخِّرُ الْمَغْرِبَ وَيُقَدِّمُ العِشَاءَ (١).

ترجمه: رسول الله ﷺ پـه سفرکې دماسپښین لمونځ اخروخت تـه روسته کړ اودمازدیګر لمونځ اول وخت ته راوړاندې کړ . او دماښام لمونځ به ئی اخر وخت ته روسته کړ اودماسخوتن لمونځ بـه ئی اول وخت ته راوړاندی کړ.

**دویم حدیث دعبدالله بـن عمـر رضي الله عنه:** كَانَ قَبْـلَ غُيُوْبِ الـشَّفَقِ فَـنَزَّ لَ فَصَلَّى الْمَغْرِبَ ثُمَّ اِنْتَظَرَ حَتّٰى غَابَ الشَّفَقُ فَصَلّى الْعِشَاءَ ثُمَّ قَـالَ اِنَّ رسولَ اللهِ ﷺ كَانَ اِذَا عَجَّلَ بِهِ اَمْرٌ صَنَعَ مِثْلَ الَّذِیْ صَنَعْتُ (٢).

**ترجمه:** عبدالله بن عمر رضي الله عنه به مخکې دډوبیدو دشفق نـه راکوزشو نودماښام لمونځ به ئی وکړ بیا به ئی تر ډوبیدو دشفق انتظارویـسته نوبیا به ئی دماسخوتن لمونځ وکړ بیا ئی وفرمایل چې پـه رسـول الله ﷺ به کله دڅه کارله امله جلتی وه نوځماپه شان لمونځ به ئی کولو.

---

(١) - مسنداحمد ص ١٣٥ ج – ٦ طحاوی ص ١٢٢ ج – ١ مستدرك حاكم

(٢) - ابوداود ص ١٧٨ ج – ١، دارقطنی ص ٣٩٣ ج – ١

**دریم حدیث دمعاذبن جبل ﷺ:** خَرَجْنَامَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فِيْ غَزْوَةِ تَبُوْكَ فَجَعَلَ يَجْمَعُ بين الظهر والْعَصْرِ ويصلى الظهر فِيْ اٰخِرِوَقْتِهَا وَيُصَلِّيَ الْعَصْرَ فِي اَوَّلِ وَقْتِهَا (۱).

**ترجمه:** معاذ ﷺ فرمائی چې مونږه درسول الله ﷺ سره دتبوک په غزا ووتو نودماسپښين اومازديګرلمونځ به ئې يوځائې کول پدې طريقه چې دماسپښين لمونځ به ئې په اخروخت کې کولو اودمازديګرلمونځ ئې په اول وخت کې کولو.

**څلورم حدیث دسعدبن ابی وقاص ﷺ:** ابوعثمان تابعی رحمه الله فرمائی چې زه اوسعد ﷺ دکوفی نه مکی معظمی ته دحج سفرکولو فَكَانَ يَجْمَعُ بَيْنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ يُؤَخِّرُ مِنْ هٰذِهِ وَيُعَجِّلُ مِنْ هٰذِهِ وَيُصَلِّيْهِمَا جَمِيْعاً.
وَيُؤَخِّرُالْمَغْرِبَ وَيُعَجِّل الْعِشَاءَ ثُمَّ يُصَلِّيْهِمَا جَمِيْعاً (۲).

**ترجمه:** نوسعد ﷺ به دماسپښين اومازديګر لمونځونه داسې جمع کول چې ماسپښين به ئې اخری وخت ته روسته کړ اومازديګربه ئې اول وخت ته رامخکې کړ اودواړه به ئې يوځائې وکړه اودارنګه ماښام بې ئې اخری وخت ته روسته کړ اوماسخوتن به اول وخت ته رامخکې کړ اويوځائې به ئې وکړل.

**تشريح:** دپورته احاديثونه ثابتيږي چې جمع بين الصلوتين يواځې دمازديګر او ماسپښين لمونځونو کې اوماښام اوماسخوتن لمونځونو

---

۱ - طبرانی ص فی الاوسط

۲ - مصنف ابن ابی شیبه ص ٤٥٧ ج - ۲ مسندعبدالرزاق ص ٤٩ ج - ۲ طحاوی ص ۱۲۳ ج - ۱

کې شته اوهغه یواځې په حالت دسفرکې اوهغه هم جمع حقیقي نه وه جمع صوري وه.

اودې خبرې ته زیاته پاملرنه پکارده چې جمع بین الصلوتین یواځې هغه لمونځونو کې ده چې سرحدات ئې سره ملاویږي ددوی وختونه سره متصل اوپیوست دی.

ددې مسئلې دپوره تحقیق اوڅیړنې لپاره عمدة القاری شرح بخاری ص ۱۴۸ ج – ۷ فتح الملهم ص ۲۶۱ ج ۲- معارف السنن ص ۴۸۱ ج- ۴ اوجزالمسالک شرح موطاء امام مالک ص ۵۸ ج – ۲ دکتنې وړدی.

## اذان اواقامت

داذان په مسائلو کې اختلاف نشته البته دومره خبره ده چې څمونږه مذهب دادې چې اذان کې ترجیع نشته

## اقامت

داقامت کلمات اوولس (۱۷) دي اودوه دوه ځله ویل کیږي داذان په شان یواځې قَدْ قَامَتِ الصَّلٰوةُ قدقامت الصلوة پکې زیات دی.

اول حدیث دابومحذوره ﷺ: اَنَّ رسول الله ﷺ عَلَّمَهُ الْاَ قَامَةَ سَبْعَ عَشَرَةَ كَلِمَةً (۱).

**ترجمه:** بیشکه رسول الله ﷺ ابومحذوره ته داقامت (۱۷) کلمات ښودلي وه.

---

۱ - ص ۸۰ ج ۱ ص ۵۲۰ نصب الرایه ص ۲۶۸ ج – ۱ ابن ماجه ص ۷۰۹ ابن الجارودفی المنتقی ص ۵۰ ج – ۱ ص ۱۶۲.

**دویم حدیث هم دابومحذوره** ﷺ: وَالاِقَامَةُ سَبْعَ عَشَرَةَ كَلِمَةً (1).

**ترجمه**: اواقامت (۱۷) کلمات دی

**دریم حدیث دعبدالله بن زیدالانصاری** ﷺ: جاء الى النبى ﷺ فقال يارسول الله رَئَيْتُ فِيْ الْمَنَامِ كَاَنَّ رْجُلاً قَامَ وَعَلَيْهِ بُـــرْدانِ اَخْضَرانِ فَقَامَ عَلى حَائطِ فَاَذَّنَ مثنى وَاَقَامَ مَثْنٰى مَثْنٰى (2).

**ترجمه**: عبدالله بن زیدالانصاری ﷺ رسول الله ﷺ تـه راغی اوورتـه ئی وویل چې یارسول الله ماخوب کې یوسړی ولیده چې ودریده اوپـه ده دوه شنه څادرونه وه نوپه دیوال ودریده اذان اواقامت ئی دوه دوه ځله وکړه.

**دماښام لمانځه نه مخکې نفل نشته**: څمونږه دامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب دقران اوسنت مواقق دادی چې دماښام لمانځـه نـه مخکې اوداذان نه روسته نفل نشته ددغه دلائلو په بناء.

**اول دلیل**: دابن عمر ﷺ حدیث: سُئِلَ ابـــن عمـــر ﷺ عَـنِ الرَّكْعَتَيْنِ قَبْلَ الْمَغْرِبِ فَقَالَ: مَارَئَيْتُ اَحَداً عَلَى عَهْدِ رَسُوْلِ الله ﷺ يُصَلِّيْهِمَا(3).

---

(1) - ترمذی ص ۲۷ ج – ۱ نسائی ص ۶۳۰ دارمی الدرایه ص ۱۱٤ ج – ۱، صحیح ابن خزیمه صحیح ابن حبان صـ ۵۷۷ طحاوی ص ۱۳۵ ج – ۱

(2) - مصنف ابن ابی شیبه ص ۱۸۵ ج – ۱ صـ ۲۱۱۸ سنن الکبری للبیهقی ص ٤۲۰ ج – ۱ صـ ۱۸۲۹، طحاوی ص ۱۳٤ ج – ۱ الدرایة ص ۱۱۵ ج ۱ تلخیص الخبیر ص ۲۱۰ ج ۱.

(3) - ابوداود صـ ۱۲۸٤، بیهقی فی السنن الکبری ص ٤۷۲ ج – ۲ صـ ٤۲۸۵ مسند عبدبن حمید ص ۲۵۶

**ترجمه:** دابن عمر ﷺنه دماښام دلمانځه نه مخکې ددوه رکعتونو په باره کې پوښتنه وشوه ابن عمر ﷺوفرمایل چې مادرسول الله ﷺ په وخت کې هیڅوک په دغه لمانځه ندی لیدلی.

**دویم دلیل:** دبریدة ﷺ حدیث: قَالَ قَالَ رسول ﷺ اِنَّ عِنْدَ کُلِّ اَذَانَیْنِ رَکَعَتَیْنِ مَاخَلاَ الْمَغْرِبَ (١).

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائی چې هراذان اواقامت په مینځ کې دوه رکعته نفل شته سوا دماښام نه ١٢.

**دریم دلیل:** دجابر ﷺحدیث: قال سَاَلْنَا نِسَاء رسول الله ﷺ هَلْ رَاَیْتُنَّ رسول الله ﷺ یُصَلِیْ رَکْعَتَیْنِ قَبْلَ الْمَغْرِب فَقُلْنَ لَا، غَیْرَ اَنَّ اُمَّ سلمة (رضی الله عنها) قَالَتْ صَلاَّ هُمَامَرَّةً فَسَاَلْتُه مَاهٰذِهِ الصَّلٰوةُ فَقَالَ نَسِیْتُ الرَّکْعَتَیْنِ مِنْ قَبْلِ الْعَصْرِ فَصَلَّیْتُهُما الْاٰن (٢).

---

١ - بیهقی فی السنن الکبری ص ٤٧٤ ج – ٢ عـ ٤٢٧٢.

٢ - طبرانی فی مسندالشامین ص ٢١٢ ج – ٣ صـ ٢١١٠ هیثمی فی موارد الظمان ص ١٦٤ ج- ١ عـ ٦٢٣.

# دلمونځ سنت طریقه

دهرڅه نه وړاندې دلمانځه دطریقې په هکله هغه احادیث لیکو چې دټول لمانځه طریقه په کې په لنډه طریقه ذکرشوی بیادلمونځ دهرحکم په هکله دوه صحیح احادیث لیکوځکه چې د ډیرواحادیثو نقلول پدې وړه رساله کې امکان نه لري اودلمانځه دمشهورو اختلافي مسائلو لکه لاسونه نامه نه لاندې ایښودل، امین پټ ویل، رفع الدین نکول اوداسې نوروڅه اندازه تفصیلي بیان درنولوستونکو ته وړاندې کوو ترڅو احناف پدې پوه شي چې ددوی لمونځ دقران اواحادیثو موافق دی اوهیڅ حکم دلمانځه دقران اوسنت نه خلاف ندی.

## قبلې ته مخ کول فرض دی

۱. الله ﷻ فرمائي چې ﴿فَوَلِّ وَجْهَكَ شَطْرَ الْمَسْجِدِ الْحَرَامِ﴾ (١)

ترجمه:په لمانځه کې مخ بیت الله ته واړوه.

۲. دابوهریره رضي الله عنه حدیث ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ (٢).

ترجمه: اوبیاقبلې ته مخ کړه

## په ولاړه کې خپې قبلې ته کول

يَسْتَقْبِلُ بِأَطْرَافِ رِجْلَيْهِ الْقِبْلَةَ (٣).

---

١ - سورة بقره ایت ١٤٤

٢ - مسلم ص ٧٠ ج - ١

٣ - بخاری ص ١٠٥ ج - ١

ترجمه: نبی علیه السلام فرمائی چې دخپو دګوتو سرونه قبلې ته کړه.

**(۱) دلمونځ نیت فرض دی**

**دلیل**: دعمر ﷺ مرفوع حدیث دی: قال رسول الله ﷺ انّمَاالأَعْمَالُ بِالنِّيَاتِ (۱).

**ترجمه**: رسول الله ﷺ فرمائیلی چې دارمدار دعملونو په نیت دی.

**مسئله**: نیت دزړه ارادې نوم دی دزړه نه پوه شی اوفکرو کړی چې مثلا دماښام لمونځ کوم دیته نیت وائی.

**مسئله**: دنیت الفاظ په ژبه ویل لازمی ندی البته دزړه دنیت دحاضرولو دپاره په ژبه نیت ویل ښه دی خودومره لازمی ګرزول چې په ژبه لړیاوی اوتکبیراولی اویارکعت درنه لاړشی نوبیا بدعت دی لکه دځینو خلکو داعادت وی (۲).

**(۲) قیام (ولاړه) په لمانځه کې فرض ده**

الله ﷻ فرمائی چې (قُوْمُوْا لِلّٰهِ قَانِتِيْنَ) (۳).

**ترجمه**: ودریږی (په لمانځه کې) دالله لپاره په عاجزی.

**حدیث شریف دعمران بن حصین ﷺ**: كَانَتْ بِیْ بَوَاسِيْرُ فَسَأَلْتُ رسول الله ﷺ عَنِ الصَّلٰوةِ فَقَالَ صَلِّ قَائِمًافَاِنْ لَّمْ تَسْتَطِعْ فَقَاعِدًا (۴).

---

۱ - بخاری ص ۲ ج - ۱ اونورصحاح سته

۲ - فتح القدیر صـ ۲۳۲ ج ۱، فتاوی عالمګیری ص ۶۵ ج - ۱.

۳ - البقره: ۲۳۸.

۴ - البخاری صـ ۱۱۱۷، ترمذی صـ ۳۷۱، ابوداود صـ ۱۵۲، ابن ماجه صـ ۱۲۲۳، احمد صـ ۴۲۶ ج -

ترجمه: عمران رضي الله عنه فرمائي چې ماته دبواسيروتکليف وه نومادرسول الله ﷺ نه دلمانځه په هکله پوښتنه وکړه نبی علیه السلام وفرمائيل چې په ولاړه لمونځ کوه اوکه په ولاړه لمونځ نشی کولی نوپه ناسته ئی وکړه.

## په لمانځه کی ازاد ودریدل

په لمانځه کې ددواړو خپو مينځ کې څومره فاصله پکار ده امام اوځان له لمونځ کوونکی به دخپل بدن دجوړموافق بغير دمشقت نه داسې ودريږي چې دګوتو سرونه يې قبلې طرف ته وي اودولاړې ،رکوع او سجدې په حالت کې خپې په يو ځاې وي دسجدې په وخت کې خپي ټولولوته ضرورت نه وي اود تکبر شکل هم نه وي .

### مقتدي:

البته دجمع د صفونو برابرولو په احاديثو کی څو شيانو زيات تاکيد راغلی دی

(۱) مقتديان به اوږی ،ځنګری اوښتونه داسی برابر کړی چی صف بيبښی نيغ جوړ شی چی هيڅ لمونځ کوونکی مخکی اوروسته نه وی اوصف کوږنه وی

(۲) لمونځ کوونکی به دومره نږدی نږدی ودريږی چی دوو لمونځ کوونکو په مينځ کی فاصله پاتی نه وی

دصف دبرابرولو په باره کې احاديث ولولي :

اول حديث :

قَالَ سَمِعْتُ نعما ن بن بشيرٍيَقُوْلُ اَقْبَلَ رَسولُ الله صلى الله عليه وسلم عَلَى النَّاسِ بِوَجْهِهِ فَقَالَ اَقِيْمُوْا صُفُوْفَكُمْ ثَلاَ ثًا وَاللهِ لَتُقِيْمَنَّ صُفُوْفَكُمْ

اَوْلَيُخَالِفَنَّ اللّٰهُ بَيْنَ قُلُوْبِكُمْ وَقَالَ فَرَاَيْتُ الرَّجُلَ يَلْزِقُ مَنْكَبَهُ بِمَنْكَبِ صَاحِبِهِ وَرَكْبَتُهُ بِرَكْبَةِ صَاحِبِهِ وَكَعْبَهُ بِكَعْبِهِ.

ترجمه :- نعمان بن بشیر (رضی الله عنه) فرمائی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم مونږ ته مخ راواړولو اودری ځله ئی وفرمائیل چی خپل صفونه نیغ کړی په الله جل جلاله قسم که تاسو خپل صفونه نیغ نکړی نو الله جل جلاله به تاسی په زړونو کی مخالفت پیدا کړی ،۔نعمان بن بشیر رضی الله عنه فرمائی چی ددی نه پس ما ولیده چی هر انسان به خپله اوږه دملګری داوږی سره لږولو اوخنګری دملګری دخنګری سره اوقدم دملګری دقدم سره (ابو داود)

**دویم حدیث:**

عَنْ اَنَسٍ عَنِ النبی صلی الله علیه وسلم قَالَ اَقِيْمُوْا صُفُوْفَكُمْ فَاِنِّيْ اَرَاكُمْ وَرَاءَظَهْرِیْ وَكَانَ اَحَدُنَايُلْزِقُ مَنْكَبَهُ بِمَنْكَبِ صَاحِبِهِ وَقَدَمَهُ بِقَدَمِهِ (بخا ری).

دریم حدیث :

ابن عمر (رضی الله عنه) اَنَّ رسولَ الله صلی الله علیه وسلم قَالَ اَقِيْمُوْا الصُّفُوْفَ وَحَا ذُوْا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ وَسُدُّوْا الْخَلَلَ وَلِيْنُوْا بِاَيْدِیْ اِخْوَانِكُمْ وَلَا تَذَرُوْا فُرُجَاتٍ لِلشَّيْطٰنِ .

ترجمه :ـ عبدالله بن عمر رضی الله عنه نه روایت دی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل :خپل صفونه نیغ کړی اوږی برابری کړی خالی ځایونه ډک کړی دخپل ورونو په مخکی نرم اوسی او دشیطان لپاره خالی ځایونه مه پریږدی (ابوداود ج ۱/ ص ۹۷ )

ځلورم حدیث :

عَنْ انس بن مالک (رض) عَنْ رسول الله صلی الله علیه وسلم قَالَ تَرَاصُّوْا صُفُوْفَکُمْ وَقَارِبُوْا بَیْنَهَا وَحَاذُوْا بِالْاَعْنَاقِ فَوَالَّذِیْ نَفْسِیْ بِیَدِهٖ اِنِّیْ لَاَرَی الشَّیْطَانَ یَدْخُلُ مِنْ خَلَلِ الصَّفِّ کَاَنَّهَا الْحَذَفُ.

ترجمه:- انس بن مالک (رضی الله عنه) فرمائی چی رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمائیل خپله صفونوکې نزدی نزدی شی اوغاړی برابری کړی ځما قسم په هغه ذات چی ځما ساه دهغه په لاسو کی ده یقینا زه شیطن وینم چې دورغومی په شان دصفونو په مینځ کی ننوځی په نورو صحاحو کی هم دصفونو نیغولو تاکید راغلی دی نو په یوحدیث کی هم دانشته چی کچه ګوتی دکچی ګوتی سره ولږوی

## ددي احاديثونه څوخبري معلومي شوي

(۱) اصلي هدف دصفونو نيغول دي او لمونځ كونكي داسي صفونه جوړ كړي چي په مينځ كي خالي ځايونه نه وي

(۲) خنګري نه مراد خپه ده يعني خپي دخپو سره لږول ځكه خنګري په هغه وخت كي سره لږول كيږي چي لاندي طرفنه خپه كږه كړي په داسي طريقه سره ودريدل په لمانځه كي مشكل دي

(۳) په احاديثو كي ددرى شيانو لږول راغلي دي (۱) اوږي داوږو سره (۲) خنګري دخنګرو سره (۳) قدم دقدم سره

په هيڅ حديث كي دكچی ګوتي لږول دكچي ګوتي سره نشته كه چاته معلوم وي نو په هغه بيانول او په مونږه منل

(۴) په احاديثو كي ملاو وهل او لږول راغلي دي ليكن حقيقي او واقعي لږول مراد ندي ځكه دا كيدي نشي بلكي ددينه مراد نزدي

کول دي ځکه چي نعمان بن بشير (رضی الله عنه) په حديث کي دري شيان ملاووهل راغلي دي

(۱) خنګري (۲)دزنګون سترګه (۳) اوږه دزنګون سترګه خو په هيڅ شکل نه لړول کيږي او دپخو لړولو لپاره که چيرته پښتونه تنګ کړو نو داوږو تر مينځ فاصله زياتيږي اوکچيرته مکمل خپي دخپو سره او اوږي داوږو سره ولړول شي نو لمونځ کول ګرانيږي.

دچاچه داصرار وي چي په حديث کي خو د(الزاق) ملاووهل حکم دي ددي نه مراد دخپو سره لړول مراد کړي دي نو دهغه نه دايوه پوښتنه پکارده چي په حديث کی خو د(کَعْبَ) لفظ راغلی دی نوبايد چی دواړه طرفته خنګری سره ولړوی او دارنګه دزنګون سترګه دزنګون سترګی سره اوبايداوږه داوږی سره ملاوکړی اوولړوی

(۵)اودحديث نه داهم معلومه شوه چی دخپوترمينځ فاصله اواندازه په شريعت کی مقرره نده البته جسمانی ساخت موافق پکارده اوپه لمانځه کی په ځانګړی توګه دسجدی په حالت کی خپی دخپل ځائی نه ونه خوزيږی ځکه دادلمانځه دسکون خلاف ده اول بايد اوږی سره ولړوو اوبرابری کړو چی داوږو تر مينځ فاصله نه وی اوبيا په هم دغه اندازه دواړه خپی کيدو دليدو خبره ده چی کوم انسان زيات غټ اوغوښن نه وی دهغه لپاره دځلورونه تر شپږوګوتوپوری اندازه بسنه کوی ددی له امله مونږ احناف په دغه اندازه بسنه کوو

(٦) دابوداود داخرنی حديث نه معلوميږي چې شيطن به دورغومي په شان دصفونو په مينځ کې ننوځي ورغومي دبيزي وړوکي بچي ته

وایـي دا وړوکـي هـم وي اوتیـتـ هـم وي نـو بـه دننوتلـو ځـای دوهابیانوددواړو خپو مینځ دی

## غیر مقلدین (وهابیان ) دې خپل لمونځونه سم کړي:

نن صبا وهابیان چی څومره فاصله دخپو تر مینځ پریـدی دهغی نه څونقصانونه لازمیږی :

(۱):۔خپی دومره ازادی وی چی سجده او دسجدی نه پس کینا ستل مشکل وی ددی له امله په نا سته اوسجده کی را ټولوی او دودریـدو په حالت کی بیرته ازادې چې دادسکون خلاف دی .

(۲) ۔ داوږو تر مینځ فاصله زیاتیږی اودا کار داحادیثو خلاف دی

(۳)تاسـو وګـوری او تجـر بـه وکـړی چـی څـوک خپـی ازادوی اواهـل السنت دخپو تر منځ فاصله څلور څلور یا لږه زیاتـه فاصلـه پریـدی نو که دوه وهابیان ازادودیږی نودیوکس ځاې خالی پاتي کیږي اوپه احـادیثو کـې دځـاې دډکولـو حکـم دي او کـه پنځـوس وهابیـان ازادودریږی نود ډیروکسانو ځای خالي پاتي کیږی عبدالله بن عباس (رض) فرمائی چی پـه تاسـو کـی غـوره هغـه لمـونځ کـوونکی دی چـی داوږو په اعتبار سره نرم وی (چی ددوو لمونځ کوونکو پـه مینـځ کـی خـالي ځـائی وی اوبـل څـوک راشـی ځـائی ورکـوی او مـانع نـه واقـع کیږی )که دوو کسانو پـه مینـځ کـی ځـائی وی نوبایـد نـزدی نـزدی ودریږی په هیڅ حـدیث کـی دانشته چـی خپـی ازادی کـړی اوخـالی ځائی ډک کړی دغیر مقلد ینو (وهابیانو) دهرو دووکسانو پـه مینـځ کی دیوکس ځائي خالي وی دوی خپی ازادوی اوځـائی ډکـوی چـی دا دپورتنی حدیث نه خلاف دی او صف هم نا قص اوکم وی .

(۴) په حديث كي دخپو دزنگون ستر گي او اوږو دنږدي كولو حكم دي وهابيان خپي خو دسره نه لګوي بلكه كچي ګوتي لرږوي چي په هيڅ حديث كي ثبوت نشته او دزنگنو اوږو تر منځ فاصله زياتوي دا هم دحديث نه خلاف دي اَللّٰهُمَّ اهْدِهِمْ (اي الله هدايت ورته وكړه)

## غوښتنه !!!

وهابيان دي دخپل دعوى موافق دنعمان بن بشير (رضى الله عنه) بغير دتاويل نه پوره عمل وكړى .

(۱) خنګرى ددخنګرى سره ولږوى.

(۲) زنګون ددزنګون سره ولږوى.

(۳) اوږه دداوږى سره ولږوى .

اويادې په خپل موجوده عمل چې : (۱) كچه ګوته دكچې ګوتي سره لږول . (۲) خنګري دخنګري نه .(۳) زنګون ستر ګه دزنګون ستر ګي نه .(۴) اواوږه داوږي نه په لري ساتلو .

يوقولي يافعلي صحيح ،صريح ،مرفوع متصل حديث وښائي بلكې ددغه حديث صحت ددوي دعوى موافق په قران اوحديث ثابت كړي

## هَلْ مِنْ مُبَارِزٍ

تاسو فكر وكړي چې ايا غيرمقلد چې لمانځه ته ولاړ وي څټ يې پورته كړي وي ښپي يې ازادې كړي وي په سينه يې لاسونه ايخي وي اوسينه يې ايستلي وي سر يې لوڅ وي .

اوبل طرف ته اهل السنة ولاړ وي په عاجزي سره ئې سر دعاجزي نه خكته وي لاس په نامه ولاړوي اوپه خپله اندازه ولاړ وي اوسجدي ځاې ته ګوري اوسريې په ښكلي پټكي يا په خولي پټ وي

کوم يو به ادب ناک وي ؟ کوم يو بـه پهلواني تـه راوتـي وي؟ اوکوم يو عبادت ته ؟

## يادونه:

امام بخاري رحمه الله دصف دنيغولو په باره کې حـديث راوړي (ج۱ ص ۱۰۰).

اول حديث : همدغه دنعمان بن بشير رضی الله عنه حديث دی :
قَالَ رسولُ الله صلى الله عليه وسلم لَتُسَوُّنَّ صُفُوْفَكُمْ اَوْ لَيُخَالِفَنَّ اللهُ بَيْنَ وُجُوْهِكُمْ.

ترجمه : تاسو به خامخا صفونه نيغوي ورنه الله تعالی به ستاسو پـه زړونو کې مخالفت واچوي .

اوپه همدغه مفهوم يوبل حديث راوړي چې پـه هغوي کې د (تَـرَاصُّوْا) لفظ دي جوخت شي ، نزدي شي ، پـه مينځ کې فاصله مـه پريږدئ .

دويـم : امـام بخـاري رحمـه الله بـاب لـږوي چـې ( بـاب الـزاق المنکب بالمنکب والقدم بالقـدم ) اوبيادنعمـان بـن بـشير رضی الله عنه قول په دليـل کې وړاندې کوي اوبيانعمـان بـن بـشير رضی الله عنه دبل صحابي حالت بيانوي البته دپورتني حديث سند نشته . امام بخاري رحمه الله دڅو لکو احاديثو حافظ وو .

لـيکن سره ددينـه دسـند والاحـديث نـه راوړي ځکـه چـې دسندوالا قولي يافعلي حديث درسول الله صلى الله عليه وسلم نه نه دي ثابت

دریم : دحضرت انس رضی الله عنه حدیث : امام بخاري رحمه الله باب لږوي اوبیاحضرت انس رضی الله عنه دصحابه کرامورضی الله عنهم حالت بیانوي چې مونږه به دیوبل سره اوږه اوقدم ولږولو .

اولاً : ګوري دیو صحابي فعل اوکړنه ده اودصحابه قول اوفعل دوهابیانو په نزدحجت ندي اودوي دامام بخاري رحمه الله تقلید کوي اوبیاتقلید ته شرک وایي .

ثانیاً بل د(یُلْزِقُ) نه ازاد ودریدل نه معلومیږي ( اِلْزَاقْ) دتنګ ودریدلو سره هم راځي .

ثالثاً بل داچې که دلته د( اِلْزَاقْ) نه مراد لږول شي نودابوداؤد په حدیث کې به هم د ( اِلْزَاقْ الرکبة) نه او ( اِلْزَاقْ الکعب) نه مراد زنګون سترګه دزنګون سترګي سره لږول اوخنګري دخنګري سره لږول مراد شي اودانه شي کیدي اودوي هم نکوي نو معلومه شوه چې ددینه نزدي نزدي ، جوخت جوخت ودریدل مراد دي .

ابوداؤد په ج ۱ ص ۹۷ کې یو حدیث راوړي دهغې مطلب دادې چې شیطان لپاره مینځ کې فاصله مه پریږدي .

په دویم روایت کې دي چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم به زمونږه په صفونو کې راننوت اوزمونږه صفونه به یې نیغول زمونږه اوږي اوسیني به یې په لاس برابرولې .

په دریم حدیث کې داسې راغلي دي :( قَارِبُوْا بَیْنَهُمَا وَحَاذُوْا بِالْاَعْنَاقِ) نزدي نزدي شي اوڅټونه برابر کړي .

په څلورم حديث کې داسې ذکر دي چې: (حَاذُوْا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ) اوږې برابرې کړي .

په دې رواياتو کې د ( اَعْنَاق) او ( مَنَاكِبْ) سره لفظ د(حَاذُوْا) راغلي دي اود (حَاذُوْا) معنی ده برابرول ددې معنی ( ملاوهل لږول يو ځای کول ) هيڅکله نه دي ځکه چې که د(حَاذُوْا بَيْنَ الْمَنَاكِبِ) معنی لږول وي نوبيابه د(حَاذُوْا بَيْنَ الْاَعْنَاقِ ) معنی هم لږول وي اوڅټونه هيڅکله نه لږول کيږي .

اودلته دڅلورو شيانو دملاوهلو بيان دي اوداڅلور شيان نه ملاويږي

(۱) اوږه داوږې سره .

(۲) ګيټي دګيټې سره .

(۳) پنډي دپنډې سره.

(۴) څټ دڅټ سره .

اوږه داوږي سره ملاويږي ليکن دا دري نور هيڅکله نه ملاويږي نو ضروربه معنی دبرابرولو کوي .

## حاصل داچې:

داپه څومره احاديثو کې چې د(حَاذُوْا) برابرول (يُلْزِقُ) لږول (تَرَاصُّوْا) جوختيدل وغيره راغلي دي ددي نه مراددصفونوبرابرول دي خالي ځايونه ډکول دي ، صفونه نيغول دي اوپه دې کې ښه تاکيد راغلي دي.

مونږه داخبره دځان نه نه کوو بلکې دبخاري شريف شارح مشهور محدث دجرح اوتعديل امام حافظ ابن حجررحمه الله ذکر کړي دي

المراد بذلك المبالغة في تعديل الصف وسد خلله . (١)

ترجمه : ددې حکم نه مطلب دصفونو په برابرولو ،نيغولو ، دخالي ځايونوپه ډکولوکې ښه مبالغه او کوشش کول دي .

دوهابيانو مشران علماء هم دغه مطلب بيانوي ددوي مشهور کتاب فتاوى علماء ج٣ص ٢١/٢٠ کې همدارنګې په ( صلوة النبي صلى الله عليه وسلم ص ١٥٠) اوداسې نورو کتابونو کې هم ددې خبرې بيان دي چې مراد ورنه دصفونو نيغول ،برابرول اوجوخت جوخت ودريدل دي .

**(٣) اولنۍ تكبير فرض دى**

(١) الله ﷻ فرمائي وَرَبَّكَ فَكَبِّرْ (١)،

**ترجمه**: اودخپل رب لوى بيان کړه (الله اكبر ووايه)

(٢) وَذَكَرَاسمَ رَبِّهِ فَصَلَّى (٢).

**ترجمه**: اودخپل رب نوم ئې واخست اولمونځ ئې وکړ.

**(١) دعلى رضي الله عنه مرفوع حديث دى**

قال رسول الله ﷺ تَحْرِيْمُهَا اَلتَّكْبِيْرُ (٣)

**ترجمه**: رسول الله ﷺ فرمائى چې دلمونځ تحريمه په تكبير ده.

---

(١) فتح البارى ج٢ ص ٣٥٣

١ - مدثر: ٣

٢ - اعلى : ١٥

٣ - ابوداود ع ٦١ ابن ماجه ع ٢٧٥ دارمى ع ٦٨٧ ، ترمذى مستدرك ع ٤٥٧ .

(۲) دابوهریرة رضی الله عنه مرفوع حدیث دی.

قَالَ النبی ﷺ اذَا قُمْتَ اِلیَ الصَّلوٰةِ فَاسْبَغ الْوُضُوْءَ ثُمَّ اسْتَقْبِلِ الْقِبْلَةَ فَكَبِّرْ (١).

**ترجمه**: نبی ﷺ یوسړی ته وویل چې کله لمانځه ته ودریږی نوپوره کامل اودس وکړه بیا قبلی ته مخ کړه بیاتکبیرووایه.

**یادونه**: دپورتنی حدیث نه دری فرائض دلمانځه معلومیږي (۱) اودس (۲) قبلی ته مخ کول (۳) الله اکبرویل.

# تکبیرتحریمه

شروع دلمانځه په تکبیر (الله اکبر)

دعایشی رضی الله عنها مرفوع حدیث: كَانَ رَسُولُ الله ﷺ يَسْتَفْتِحُ الصَّلوٰةَ بِالتَّكْبِيْرِ (٢).

**ترجمه**: نبی علیه السلام به شروع دلمانځه په تکبیر کوله.

دتکبیراولی سره لاسونه پورته کول سنت دی.

**دابوحمید رضی الله عنه مرفوع حدیث.**

كَانَ رسولُ الله ﷺ اذَا قَامَ اِلَی الصَّلوٰةِ اِسْتَقْبَلَ الْقِبْلَةَ وَرَفَعَ يَدَيْه وَقَالَ الله اكبر (٣).

---

١ - مسلم ع ۳۹۷ بخاری ع ٦٢٥١

٢ - مسلم ص ١٩٤ ج - ١، مشكوة ص ٧٥ ج - ١.

٣ - ابن ماجه ص ٥٨

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله لمانځه ته ودریده مخ به ئې قبلې ته کړ لاسونه به ئې پورته کړل او الله اکبر به ئې وویل.

**په تکبیر اولی کې لاسونه غوږونوته پورته کول سنت دي.**

**(۱) مالك بن الحویرث رضي الله عنه مرفوع حدیث**

كَانَ رسول الله ﷺ اِذَاكَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِيْ بِهِما اُذُنَيْهِ (۱).

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله الله اکبر وویل لاسونه به ئې تر غوږونو پورته کړل بل روایت کې هم ددغه صحابی نه داسې راغلی چې (فُرُوْعَ اُذُنَيْه) ترنرمودغوږونوبه ئې پورته کړل (۲).

**(۲) دوائل بن حجر مرفوع حدیث**

اَنَّهُ رَاَى النَّبِىَ ﷺ رَفَعَ يَدَيْهِ حِيْنَ دَخَلَ فِى الصَّلٰوة كَبَّرَ حِيَالَ اُذُنَيْه (۳) .

ترجمه: وائل بن حجر رضي الله عنه نبی علیه السلام ولیده چې کله لمانځه کې داخل شو نو الله اکبر ئې وویل اونبی علیه السلام لاسونه ترغوږونو پورته کړل.

**(۳) دانس رضي الله عنه مرفوع حدیث**

قَالَ كَانَ رسولُ الله ﷺاِذَا افْتَتَحَ الصَّلٰوةَ كَبَّرَ ثُمَّ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى يُحَاذِىْ اِبْهَامَيْه اُذُنَيْه (۴).

ترجمه: انس رضي الله عنه فرمائی چې کله به نبی علیه السلام په لمانځه شروع کوله نوالله اکبربه ئې وویل بیا به ئې لاسونه پورته کړل تردې چې ګټې ګوتې به ئې دغوږوبرابری شوی.

---

۱ - مسلم صـ ۱٦۸ ج ۱ مشکوة صـ ۷۵

۲ -مسلم صـ ۱٦۸ ج – ۱.

۳ - مسلم صـ ۱۰٤ .

٤ - دارقطني ص ۳۰۰ بيهقى فى السنن الكبرى ص ۲٤ ج – ۲ ۲۱۳۹ .

(٤) دبراء بن عازب ﷺ مرفوع حدیث: قَالَ كَانَ النبی ﷺ اِذَا كَبَّرَ رَفَعَ يَدَيْهِ حَتّٰى نَرٰى اِبْهَامَيْهِ قَرِيْبًا مِنْ اُذُنَيْهِ (١)

نبی علیه السلام به چې کله تکبیروکړ نولاسونه به ئی پورته کړل تردی چې مونږ ئی ګتې ګوتی غوږونه ته نزدی ولیدی.

(٥) دانس ﷺ حدیث: قال رَئَيْتُ رسولَ الله ﷺ كَبَّرَ فَحَاذٰى بِاِبْهَامَيْهِ اُذُنَيْهِ (٢).

ترجمه: انس ﷺ وائی چې مارسول ﷺ ولیده چې کله ئی الله اکبر وویل نو ګتې ګوتی غوږونوپوری برابری کړی.

یادونه: په ځینو احادیثوکې لاسونه تر اوږوپورته کول راغلی دی ددغه احادیثوپه مینځ کې تطبیق امام شافعی ﷫ داسی کوی چې دلاسونوتلی تر اوږو برابر وی اوګتې ګوتی د غوږونو دنرمیو(پوڅکیو) برابروی اونوری ګوتی دغوږونو دپاس سرونو سره برابروی (نووی شرح مسلم ص١٦٨ ج ١). مونږه احناف هم همداتطبیق خوښه وُو ملاعلی قاری ﷫ لیکی چې (هُوَ جَمْعٌ حَسَنٌ) (٣).

ترجمه: داډیرښه تطبیق اوداحادیثوجمع کول دی.

---

١ - مسند احمد ١٧٨٠٢.

٢ - مستدرك حاكم ص ٢٦٢ ج ١

٣ - مرقات شرح مشكوة ص ٢٥٤ ج ١ بذل المجهود ص ١ ج - ٢

## دښځو لپاره سينې پورې لاسونه پورته کول سنت دي

(١) حديث دوائل بن حجر ﷺ: قَالَ رسول الله ﷺ اذَا صَلَّيْتَ فَاجْعَلْ يَدَيْكَ حَذْوَ اُذُنَيْكَ وَالْمَرْءَةُ تَجْعَلُ يَدَيْهَا حَذْوَ ثَدْيَيْهَا (١).

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائي چې کله ته لمونځ کوې نولاسونه ترغوږونو پورته کړه اوچې کله ښځه لمونځ کوي نولاسونه به ترسينې پورته کوي.

دلاسونوپورته کولو په وخت کې گوتې خورول سنت دي

**دابوهريرة ﷺ مرفوع حديث**

كَانَ رسول الله ﷺ اِذَاكَبَّرَ لِلصَّلوةِ نَشَرَ اَصَابِعَهُ (٢).

ترجمه: رسول الله به چې کله لمانځه ته تکبير کولو نوگوتې به ئې خورې کړې.

## دگوتو خيټې قبلې طرفته کول سنت دي

دابن عمر ﷺ مرفوع حديث: اذَا اسْتَفْتَحَ اَحَدُكُمْ فَلْيَرْ فَعْ يَدَيْه وَلِيَسْتَقْبِلْ بِبَاطِنِهِمَا القِبلَةَ فَاِنَّ الله اَمَامَه (٣).

---

[1] - كنزالعمال ص ١٧٥ ج - ٣ طبراني اوجزالمسالك شرح موطا امام مالك ٢٠٢ ج - ١

[2] - ترمذي ح ٢٣٩، صحيح ابن حبان ص ١٩٥ ج - ٣.

[3] - طبراني في الاوسط، مجمع الزوائد ص ١٠٢ ج - ٢.

ترجمه: چې کله یوستاسې ته په لمانځه پیل کوي نولاسونه دپورته کړی اودلاسونو خیټه اوورغوی دقبلې ته کړی ځکه چې الله ﷻ دده مخې ته دی.

## ښی لاس په چپ (کس) لاس ایښودل سنت دی

١. دوائل بن حجر مرفوع حدیث: اَنَّه رَاَی النَّبِیَّ ﷺ رَفَعَ یَدَیْهِ حِیْنَ دَخَلَ فِی الصَّلٰوةِ وَكَبَّرَ ثُمَّ وَضَعَ الْیُمْنٰی عَلَی الْیُسْرٰی (١).

**ترجمه:** وائل ﷛ نبی ﷺ ولیده چې کله لمانځه کې شروع کوله لاسونه ئې پورته کړل اوالله اکبر ئې ووئیل بیائې ښی لاس په چپ لاس کیښود.

(٢) دویم حدیث دوائل ﷛.

رَئَیْتُ رسولَ الله ﷺ اِذَاكَانَ قَائِماً فِی الصَّلٰوةِ قَبَضَ بِیَمِیْنِه عَلٰی شِمَالِه (٢).

ترجمه: وائل ﷛ فرمائی چې مارسول الله ﷺ ولیده چې کله به په لمانځه کې ولاړوه نوبه ښی لاس به ئې چپ لاس ونیوه.

(٣) دریم حدیث هلب ﷛ مرفوع حدیث: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ یَؤُمُّنَا فَیَاْخُذُ شِمَالَهُ بِیَمِیْنِهِ (٣).

ترجمه: رسول الله مونږ ته امامت راکولو نوچپ لاس ئې په ښی لاس ونیوه.

---

[١] - مسلم ص ٧٣ ج – ١ مشکوة ص ٧٥ ج – ١

[٢] - نسائی ص ١٤١ ج – ١، ابن ماجه

[٣] - ترمذی ص ٢٤ ج – ١ ابن ماجه، مشکوة ص ٧٦ ج – ١

(٤) څلورم حديث دسهل رضی الله عنه : كَانَ النَّاسُ يُوْمَرُوْنَ اَنْ يَضَعَ الرَّجُلُ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى ذِرَاعِهِ الْيُسْرٰى فِي الصَّلٰوةِ [1].

ترجمه: خلكوته په لمانځه كې دښى لاس په چپ مټ دايښودو امر كيږى.

(٥) پنځم حديث دوائل بن حجر رضی الله عنه مرفوع حديث: ثُمَّ وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلَى كَفِّهِ الْيُسْرٰى وَالرُّسْغِ وَالسَّاعِدِ [2].

ترجمه: بيائې ښى لاس په چپ (ګس) ورغوى او مړوند اومټ كيښود.

يادونه: په پورتنو احاديثوكې كه فكروشى نوڅوخبرى ترينه ثابتيږى

١. په لمانځه كې لاسو نه ايښودل.
٢. ښى لاس په چپ (ګس) لاس ايښودل.
٣. په پورتنو احاديثوكې بيلابيل الفاظ راغلي دى.

١. وَضَعَ (ايښودل)
٢. قَبَضَ (نيول)
٣. اَخَذَ (نيول). اوپدى دريواړو هله عمل راځى چې داحنافو موافق لاسونه كيښودل شى.

يادونه : دا رنګه په احاديثوكې مختلفي طريقى ذكردي.

١. ايښودل دښى لاس په څنګل دچپ لاس.
٢. ايښودل دښى لاس په ورغوى دچپ لاس.
٣. ايښودل دښى لاس په مړوند دچپ لاس.

---

[1] - بخارى ص ١٠٢ ج – ١ موطا امام مالك.

[2] - نسائى ص ١٤١ ج ١، ابود اود مسنداحمد.

۴. ایښودل دښی لاس په لیچودچپ لاس.

نوپه پورتنو احادیثو اوداحادیثوپه الفاظو هله عمل راځی چې داحنافو موافق لاسونه کیښودل شی ځکه چې مونږه اوتاسو لاسونه په داسې طریقه گدوچې.

۱. دښی لاس گوتی په لیچو کیدو

۲. دښی لاس په گوتو (په قچه گوته، کته گوته) مړوند کلک ونیسو.

۳. دښی لاس ورغوی دچپ لاس په مړوند کیدو.

۴. دښی لاس لیچه دچپ لاس دورغوی په شاکیدو.

## په لمانځه کې لاسونه دنامه نه لاندې ایښودل سنت دی.

زمونږ دعوه مسلک اومذهب دادی چې په مانځه کې لاسونه دنامه نه لاندې ایښودل سنت دي.

**اول دلیل:** حدیث دوائل بن حجر (رضي الله عنه) قَالَ رَئَیْتُ النَّبِیَّ صلی الله علیه وسلم یَضَعُ یَمِیْنَهُ عَلٰی شِمَالِهٖ فِی الصَّلٰوةِ تَحْتَ السُّرَّةِ. (۱)

**ترجمه:** وائل بن حجر (رضي الله عنه) فرمایي چې مانبی (علیه السلام) ولید چې په مانځه کې ښي لاس په چپ لاس دنامه نه لاندې کیښوده.

داحدیث دمصنف ابن ابی شیبه په کنونسخوکې ذکردی مشهور محدث محمدقاسم بن قطلوبغاپه خپل کتاب (تخریج احادیث الاختیارشرح المختارکې لیکې چې ((هَذَا سَنَدٌ جَیِّدٌ)) ص ۳۷۷ج ۱ داعلی اوکره سند دی.

---

۱ - مصنف ابن ابی شیبه ص ۳۹۰ ج ۱، مصنف ابن ابی شیبه ص ٤٢١ ج ۱ طیب اکادمي ملتان)

محدث ابوالطيب المدنی په شرح ترمذي کې ليکې چې «هٰذَا حَدِيْثٌ قَوِیٌّ مِنْ حَيْثُ السند» داحديث دسندپه لحاظ سره قوي دی.

شيخ محمدعابد السندهی ليکې چې «رجاله ثقات» يعنې ددې حديث راويان ثقه اوقابل اعتماد دي (طوابع الانوارشرح درمختار) ابن ابی شيبه رحمه الله دمعمولي درجې محدث ندې دامام بخاری رحمه الله شيخ اواستاد او تابعي دی په دغه کتابونوکې ددې حديث توثيق شوي[1]

ځينې ورونه وايي چې پورتنې حديث په مصنف ابن ابی شيبه کې نشته.داهسې دحق نه سترګې پټول دي زما په کتب خانه کې چې کوم مصنف دی په هغې کې شته د دې حديث دښه ځيرنې لپاره هغه مصنف ابن ابی شيبه چې تحقيق پری محمدابو عوامه کړي اوبيروت نه چاپ دي دکتنې ډير زيات وړدي اوديوچانه ليدل په عدم وجود دلالت نکوي.

البته که دوی کوم چاپ کړې وي اوداحديث يې ترينه ايستلې وي نوهغې کې به نه وي لکه څنګه چې د دوي عادت دی چې کتابونو نه حديث وباسې او داکار ډير بد دی ځکه داديهودوکار وو.

همدغه حديث دوائل بن حجر رضي الله عنه امام ترمذي ذکرکوي خوهلته دځای تعين نشته اوبيا فرمايي چې صحابه کرامو رضي الله عنهم کې دوه ډلې وی بعضو به دنامه دپاسه لاسونه ايښودل اوبعضويه دنامه نه لاندې لاسونه کيښوده.

وَرَای بَعضُهم اَنْ يَّضَعَهمَا فَوْقَ السُّرةِ وَرَای بَعضهم اَنْ

[1] - بذل المجهود دشرح ابی داود ص ٢٣ ج٢ تحفه الاحوذی شرح ترمذی ص ٢١٤ ج١)

يَضَعَهُمَا تحت السرة (١).

خوامام ترمذی ﷺ په سينه لاسونه ايښودل ديوصحابي نه هم ندي نقل کړي اوبيايې فرمايلی دي چې (وَكُلُّ ذَالِكَ وَاسِعٌ عِنْدَهُمْ) يعنې دواړه روا دي دنامه نه لاندې اودنوم دپاسه امام ترمذي چې کتاب يې په احاديثوکې څلورمه مرتبه لري دامام بخاري شاګرد دی فرمايي چې دصحابه کرامو ديوه لوی جماعت مذهب دا ووچې لاسونه دنامه لاندې ايښودل سنت دی، او وهابيان وايې چې ثابت ندی. دوي دامام ترمذي نه ځان پوه کنې.

**دوهم دليل:** حديث دعلی ﷺ اميرالمومنين علی ﷺ فرمايي چې: مِنْ سُنَّةِ الصَّلٰوةِ وَضْعُ اليمين عَلَىَ الشمالِ تَحْتَ السرة (٢)

**ترجمه:** دمانځه دسنتونه دادي چې ښې لاس په چپ لاس دنامه لاندې کيږدې.

همدغه حديث امام ابوداود داسې نقلوي: عَنْ عبدالرحمن بن اسحق عن زياد بنْ زيد عن ابی جحيفه ان عليا ﷺ قَالَ اَلسُّنَةَ وَضعُ الكَفِ على الكف فی الصلوة تحت السرة (٣) کله چې صحابه داسې الفاظ استعمال کړي چې مِنَ السُّنَّةِ يا (اُمِرْنَا بِکَذَا نُهِيْنَا عَنْ کَذَا) اويادې پشان الفاظ داپه حکم دمرفوع حديث کې وي عندالجمهور.

---

١ - ترمذي ص ٥٩ ج١.

٢ - مسنداحمد ص ١١٠ ج١ مصنف ابن ابی شيبه ص ٤٢١ ج١ دارقطنی ص ٢٨٧ ج٢، سنن بيهقی ص ٣١ ج٢)

٣ - سنن ابی داود ٧٥٦.

**دریم دلیل:** ابوهریرة رضي الله عنه فرمایي چې «وَضْعَ الْكَفِّ عَلَى الْكَفِّ فِي الصَّلٰوةِ تَحْتَ السُّرَّةِ» (١).

**ترجمه:** کیدي ښودل شي و رغوي په و رغوي په مانځه کې لاندي دنامه نه.

پورتني حدیث علامه علاء الدین المارديني هم نقل کړي (٢) اومحدث ابن حزم ظاهري هم روایت کړی دي پدې الفاظوچې «عَنْ اَبِيْ وَائِلٍ عَنْ اَبِيْ هريرة اَخْذُالْاَكُفِّ عَلَى الْاَكُفِّ فِي الصَّلٰوةِ تَحْتَ السُّرَةِ(٣).

**څلورم دلیل:** انس رضي الله عنه فرمایي چې ثَلَاثٌ مِنْ اَخْلَاقِ النبوة تَعْجِيْلُ الاِفْطَارِ وَتَاْخِيْرِ السَّحُوْرِ وَوَضْعُ الْيُمنى عَلَى اليُسْرٰى تَحْتَ السُّرةِ (٤).

**پنځم دلیل:** علامه ابن حزم رحمه الله دعائشې رضي الله عنها نه تعلیقاروایت رانقلوي چې« ثَلَاثٌ مِنْ اَخْلَاقِ النُّبُوَةِ تَعْجِيْلُ الافطار، تَاْخِيْرُ السحور وَوَضْعُ الْيَدِ الْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى فِى الصَّلٰوةِ تَحْتَ اَلسُّرةِ(٥).

**ترجمه:** درې شیان دنبوت دخویونو نه دي. ١ په روژه ماتې کې تیزي کول (چې کله یقینالمر غائب شي) ٢ په پیشنمي کې روسته والې کول خو چې صبا راختلو نه وړاندی خوراک بندشی ٣ ښي لاس په چپ لاس دنامه نه لاندي ایښودل. (٦)

---

[1] - ابوداود بروایة الاعرابي.

[2] - الجوهر النقي ص ٣١ ج ٢.

[3] - المحلى ص ٣٠ ج ٢.

[4] محلى لابن حزم ص ١٣ ج ٤ الجوهر النقي ص ٣٢ ج ٢.

[5] - محلى ابن حزم ص ١٣ ج ٤.

[6] - محلى ابن حزم ص ١٣ ج ١.

همدغه حدیث په مسندالامام زیدکې دسندسره دعلی رضی الله عنه نه نقل دی. نبی علیه السلام فرمایي چې په وخت داختلاف کې دخلفاء راشدینوپه سنت عمل وکړي احناف هم دخليفه راشدعلی رضی الله عنه په سنت عمل کوي چې لاسونه دنامه نه لاندې ایښودل دي.

## اقوال اواثار دصحابه کرامو رضی الله عنهم.

١. اثر دخليفه راشد اميرالمومنين علی رضی الله عنه ورته سنت هميشني عمل درسول الله عليه السلام وايي.(١).

٢. ابوهريرة رضی الله عنه چې په صحابه کرامو رضی الله عنهم کې زيات احاديث دده نه روايت دی وائی چې سنت دی(٢).

٣. انس بن مالک رضی الله عنه ورته مِنْ اَخْلَاقِ النُّبُوَّةِ (دنبوت خصلت اوخوی وایي) (٣).

۴. عائشه صديقه رضی الله عنها روايت چې حواله ئی مخکې وړاندې شوه ورته دنبوت عادةوائی نودخليفه راشد علی رضی الله عنه چې دنبی عليه السلام زوم اودمسلمانانو خليفه دی فرمايي چې لاسونه دنامه نه لاندې ايښودل سنت دي. ابوهريرة رضی الله عنه چې کثيرالروايات صحابی دی فرمايي چې لاسونه دنامه نه لاندې ايښودل دي انس بن مالک رضی الله عنه چې لس کاله ئې درسول الله ﷺ خدمت کړی دی وائي چې دنامه نه لاندې لاسونه ايښودل دنبوت داخلاقونه دي عائشه رضی الله عنها چې درسول الله ﷺ بي بي ده اوپه رواياتوکې دوهم نمبرده فرمايي چې دنبوت خوي اوخصلت دادي چې لاسونه دنامه نه لاندې کيږدي داهغه صحابه کرام رضی الله عنهم دي چې دحضور

---

١- احمد ص ١١٠ ج١، دارقطنی ص ٢٨٢ ج٢.

٢- ابوداود برواية الاعرابی.

٣- پورتنې حواله (المحلی لابن حزم ص ٢٥ ج ٣.

ﷺ ژوند تل د دوي سره وه سره له دينه دا وهابيان وايې چې داثابت ندي دومره بې انصافي چې اندازه يې نشته.

**اقوال اواثار دتابعينو (رحمهم الله)**

۱. **حضرت ابومجاز تابعي** رحمه الله فرمايي چې: يَضَعُ بَاطِنَ يَمِيْنِهِ عَلٰى ظَاهِرِ كَفِّ شِمَالِهِ وَيَجْعَلُهُمَا اَسْفَلَ مِنْ السُرَةِ[1].

ترجمه: دښي لاس ورغوې به دچپ لاس د ورغوي په شاه دنامه نه لاندې كيږدي د دې سند جيد اوكره دى[2].

۲ **مشهور تابعي امام نخعي** رحمه الله **فرمايي چې:** يَضَعُ يَمِيْنَهٗ عَلٰى شِمَالِهِ فِى الصَّلٰوةِ تَحْتَ السُرَةِ[3].

ايښودل دښي لاس په چپ لاس په مانځه كې لاندې دنامه نه.

**اخيرنۍ خبره:**

درنولوستونكو تاسو په دغه مسئله دلائل ولوستل داخبره به درته ثابته شوې وي چې لاسونه دنامه نه لاندې ايښودل درسول الله ﷺ سنت دي دصحابه كرامو عمل دى دنبوت خوي اوهميشني سنت دي اويوثابت عمل دى اودټولو احنافو عمل دى او ۱۲۰۰ كاله په دغه متواتر سنت عمل كېږي هيچا په هيڅ ملک کې ورته خلاف

---

[1] - مصنف ابن ابى شيبه ص ۳۹۱ ج۱، الجوهر النقى على البيهقى ص ۳۱ ج۲، اداره تاليفات اشرفيه ص ٤۲۱ ج۱.

[2] - الجوهرالنقى ص۳۱ ج۲، كذافى التمهيد لحافظ ابى بكر اثار السنن ص ۹.

[3] - مصنف ص ۳۹۰ ج۱.

سنت ندي وٺيلي اوس دانګريزانو د دورحکومت پيداوار ورته خلاف سنت وايي نودا دوي تعصب دی اوددوی په ناپوهۍ دلالت کوي.
دپورتني مسئلې په باره کې اودنورو مسائلوپه باره کې اودوهابيت دګمراه کوونکي فتنې نه بچ کيدو لپاره تجليات صفدر (دمولانا محمدامين اکاړوی) کتل يېبنی زيات ضروري دي اوددغې مسئلې دڅيړنې لپاره دبنده رساله (الدرة فی اثبات وضع اليدين تحت السرة) دکتنې وړ ده.

## تکبيراولاسونه پورته کول به يو ځائی کوی اوکه مخکې روسته؟.

دلته دري روايت راغلي اوځمونږه داحناف په نزد دری واړه روادہ.

## لاسونوتړلو نه روسته سبحنك اللهم ويل سنت دی.

**اول دليل:** الله ﷻ فرمائی چې (وَسَبِّحْ بِحَمْدِرَبِّكَ حِيْنَ تَقُوْمُ) (١).
**تفسير:** امام ضحاک تابعي رحمه الله ددی په تفسير کې ليکی چې تسبيح نه مراد سُبْحٰنَكَ اَللّٰهُمَّ ويل په لمانځه کې ويل دی (٢).
**دويم دليل:** دابوسعيد رضي الله عنه مرفوع حديث.
كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَاقَامَ اِلَى الصَّلٰوةِ بِاللَّيْلِ كَبَّـرَ ثُـمَّ يَقُــوْلُ (سبحنك اللهم) ترآخره (ابوداود صـ ۱۱۹ ج – ۱ ،ترمـذی صـ ۳۳ ج – ۱ نسائی، ابن ماجـه ، مـشکوة صـــ ۱۰۸ مسنداحمد .)

---

١ – طور: ٤٨

٢ – مصنف ابن ابی شيبه ابن جرير طبری درمنثور ص ١٢٠ ج ١

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله دشپی لمانځه ته ودریده نوالله اکبر به ئی ووئیل بیا به ئی سبحنک اللهم تراخره ولوسته.

دریم دلیل: دانس ﷺ مرفوع حدیث: كَانَ رسول الله ﷺ اذا افْتَتَحَ الصلوة كَبَّر ثُمَّ يقول سُبْحٰنَكَ اَللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ (تراخره) ([1]).

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله په لمانځه شروع کوله نو الله اکبر به ئی ووئیل بیا به ئی سُبْحٰنَكَ اللّٰهُمَّ وَبِحَمْدِكَ ولوسته.

څلورم دلیل: عمر ﷺ به سبحنک اللهم وئیله ([2]).

پنځم دلیل: ابوبکر ﷺ به سبحنک اللهم وئیله ([3]).

شپږم دلیل: عثمان ﷺ به سبحنک اللهم وئیله ([4]).

یادونه: نوری دعاګانی هم راغلیدی لیکن دنبی علیه السلام دخلفاء راشدینوعمل زیاتره په همدی دی.

## اعوذبالله ویل سنت دی

امام اومنفرد (ځان له لمونځ کوونکی) به اعوذبا لله وائی.

(۱) قران شریف کې الله ﷻ فرمائی چې فَاِذَا قَرَاْتَ الْقُرْآنَ فَاسْتَعِذْبِاللهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ.

ترجمه: کله چې قران لولی نو اعوذبالله ووایه

---

[1] - دارقطنی ص ۱۱۳ ج ۱، مغنی ابن قدامه ص ۵۱۸ ج ۱ نصب الرایه ص ۳۲۰ ج ۱

[2] - مسلم ص ۱۷۲ ج –۱ دارقطنی ص ۲۹۹ ج –۱ طحاوی

[3] - دارقطنی ص ۳۰۲ ج –۱.

[4] - دارقطنی ص ۳۰۲ ج ۱

(۱). دعمر فاروق رضي الله عنه حديث عن الاسودبن يزيد قَالَ رَئَيْتُ عمر بن الخطاب حِيْنَ افْتَتَحَ الصَّلوٰةَ كَبَّرَ ثُمَّ قَالَ : سُبْحٰنَكَ ثُمَّ يَتَعَوَّذُ (۲).

ترجمه: اسود بن يزيد رحمه الله فرمائی چې ماعمر رضي الله عنه وليده چې کله شروع په لمانځه کوله نوالله اکبر ئې ووئيل بيا ئې سُبْحٰنَكَ اَللّٰهُمَّ ووئيله بيا ئې اعوذبالله ووئيله.

(۲) دابوسعيد خدری رضي الله عنه حديث :كان رَسُوْلُ الله ﷺ اِذَاقَامَ مِنَ اللَّيْلِ كَبَّرَ ثُمَّ يَقُوْلُ اعوذبالله السميع العليم من الشيطن الرجيم (۳).

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله دشپې لمانځه ته ودريده نوالله اکبرئې ووئيل.

(۴) دجبيربن مطعم رضي الله عنه حديث په ابن ماجه صـ ۵۹ مشکوة صـ ۷۸.

يادونه: داعوذبالله مختلف الفاظ په احاديثوکې روايت شوی دی زيات مشهور او ثابت دقران اوسنت (اعوذبالله من الشيطن الرجيم) دی اعوذبالله پټ لوستل سنت دي چې دلائل ئې راروان دي .

تسميه: بسم الله الرحمن الرحيم ويل سنت دی.

(۱) دعلی رضي الله عنه مرفوع حديث: اول دليل كانَ رسول الله ﷺ يَقْرَءُ بسم الله الرحمن الرحيم (۴).

ترجمه: رسول الله ﷺ به بسم الله الرحمن الرحيم په لمانځه کې لوستله.

---

[1] - النحل : ۹۸

[2] - دارقطنی ص ۳۰۰ ج -۱ سنن کبری للبیهقی ص ۳٦ ج -۱ ۲۱۸۸

[3] - ابوداود ص ۱۲۰ ج ۱ ترمذی ص ۱۰۸ ج -۱

[4] -دارقطنی ص ۳۰۲ ج - ۱

(۲) نعیم تابعی رحمه الله فرمائی چې صَلَّيْتُ خَلْفَ اَبِىْ هريرة رضي الله عنه قَرَءَ بسم الله الرحمن الرحيم ثُمَّ قَرَءَ بِاُمِّ الْقُرْآنِ (۱).

**ترجمه:** مادابوهریره رضي الله عنه پسې لمونځ وکړ نوبسم الله الرحمن الرحیم ئې ولوسته بیا ئې الحمدلله ولوستله.

**تسمیه:** بسم الله پټ لوستل سنت دی

**انس** رضي الله عنه مرفوع حدیث انَّ النبی ﷺ وابابکر وعمر (رضی الله عنهما) كَانُوا يَفْتَتِحُوْنَ الصَّلٰوةَ بِالْحَمْدُلِلّٰهِ رب العلمين (۲).

**ترجمه:** بیشکه نبی ﷺ اوابوبکر اوعمر (رضی الله عنهما) به شروع دلمانځه په الحمدلله رب العلمین کوله.

په روایت دمسلم ص۳۹۹ کې دا الفاظ زیات دی چې لَایَذْكُرُوْنَ باسم الله الرحمن الرحیم فِىْ اَوَّلِ قِرَاءَةٍ وَلَافِىْ اٰخِرِهَا.

**دويم حديث دانس** رضي الله عنه: قَالَ صَلَّيْتُ خَلْفَ رسول الله ﷺ وابی بکر وعمرو عثمان رضي الله عنهم فَلَمْ اَسْمَعْ اَحَدًا مِنْهُمْ يَجْهَرُ بِسْمِ الله الرحمن الرحيم (۳).

**ترجمه:** مادرسول الله ﷺ ابوبکر عمر عثمان رضي الله عنه پسې لمونځونه کړی مادیونه هم بسم الله په زوره نده اوریدلی.

---

[۱] - نسائی ص ۱٤٤ ج ۱ ص ۹۰۵، طحاوی ص ۹۹ ج ۱ صحیح ابن حبان ص ۱۸۰، مستدرك ص ۳۵۷ ج ۱، صحیح ابن خزیمة ٤۹۹.

[۲] - بخاری ۷٤۳ مسلم ۳۹۹

[۳] - نسائی ۹۰۷، صحیح ابن حبان ۱۷۹۹ صحیح ابن خزیمه ص٤۹٦، طحاوی ص ۲۰۲ ج ۱

په پورتني موضوع نور احاديث هم روايت شويدی ابن خزيمه صـ ۲۵۰ ج ۱ طبراني في الكبير صـ ۲۵۵ ج ۱ مجمع الزوائد صـ ۱۰۸ ج ۲ مصنف ابن ابی شیبه صـ ۳۵۹ ج ۱ نه تر صـ ۳۶۰ ج ۱.
په ترمذی صـ ۳۳ ج ۱ نسائی صـ ۱۴۴ ج ۱ ابن ماجه صـ ۵۹ ج ۱ طحاوی صـ ۱۱۹ ج ۱ کې دعبدالله بن مغفل په روايت حديث، په مسلم صـ ۱۹۴ ج ۱ ،مشكوة صـ ۷۵ ج ۱ بیهقی کی دعائشه رضي الله عنها په روايت حديث .

**قراة (په ولاړه لوستنه دقرآن شريف دڅه برخی) فرض دی**

الله جل جلاله فرمائی چې ﴿فَاقْرَءُوْا مَا تَيَسَّرَ مِنَ الْقُرْاٰنِ﴾ (۱).
**ترجمه**: ولولی (په لمانځه کې) هغه چې اسان وی دقران شريف نه .

**دابوهريرة رضي الله عنه مرفوع حديث.**

اَنَّ رسول الله ﷺ قَالَ لَاصَلٰوةَ اِلاَّ بِقِرَاءةٍ (۲).
**ترجمه**: بيشکه رسول الله ﷺ فرمائی چې لمونځ نکيږی بغير دقراة نه.

**دابوسعيد رضي الله عنه حديث**

قَالَ اُمِرْنَا اَنْ نَّقْرَءَ بِفَاتِحَةِ الْكِتَاب وَمَاتَيَسَّرَ (اسناده صحيح، ابوداود ۸۱۸ وقال الحافظ فی التخليص اسناده صحيح وقال

---

[۱] - المزمل ايت ۲
[۲] - مسلم ۳۹۶.

فی الدرایه صحیح ابـن حبـان عـ ۹۲ کـ ۱۷۹۰ طـبرانی فی الاوسط صـ ۳ ج ۳ عـ ۱۳۰۶).

درفاعه ﷺ مرفوع اوداوېد حدیث په یوه برخه کې دی چې

وَيَقْرَءُ بِمَاشَاءَ مِنَ الْقُرآن (۱).

**ترجمه:** اوودی لولی هغه چې اسان وی دقران نه.

**دابوسعید خدری ﷺ حدیث چې دلمانځه فرائض پکی بیان شویدی.**

قَالَ رسول اللهﷺ مِفْتَاحُ الصَّلوٰة الطُّهُوْرُ، وَتَحْرِيْمُهَـا اَلتَّكْبِيْـرُ، وَتَحْلِيْلُهَا التَّسْلِيْمُ وَلَاصَلوٰة لِمَنْ لَّمْ يَقْرَءْ بِالْحَمْدِوَسُوْرَةٍ فِىْ فَرِيْضَةٍ اَوْغَيْرِهَا (۲).

**ترجمه:** رسـول اللهﷺ فرمـائی چـې دلمانځـه کـونجی اودس دی اودلمانځه شروع الله اکبر ده اودلمانځه نه وتل په سلام دی.

دپورتنو اوداسی نورواحادیثونه معلومه شوه چې نفس قراءة (لوستل دقران) فرض دی.

امام به په لمانځه کی سورة فاتحه اویوسورة وائی.

**دابوقتاده ﷺ مرفوع حدیث.**

کَانَ النبی ﷺیَقْرَءُ فِی الْاَوْلَیَیْنِ مِنَ الصَّلوٰةِ الظُّهْرِ بِفَاتِحَةِ الْکِتَـابِ وَسُوْرَتَیْنِ (۳).

---

۱ - بخاری ۷۵۷ مسلم ۳۹۷ ترمذی ۳۰۳ ابوداود ۸۵۶.

۲ - ترمذی ۲۳۸.

۳ - بخاری ص ۱۰۵ ج ۱ مسلم ص ۱۸۵ ج ۱ مشکوة ص ۷۹ ج ۱.

ترجمه: نبي ﷺ به په اولنو دوه رکعتونو د ماسپښين لمانځه کې الحمدلله او دوه سورته لوستل.

دويم حديث دابوقتاده رضي الله عنه: اَنَّ النبي عليه السلام يَقْرَءُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ الْأُوْلَيَيْن مِنَ الظُّهْرِ وَالْعَصْرِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ سُوْرَةً وَيُسْمِعُنَا الْآيَةَ اَحْيَاناً وَيَقْرَءُ فِيْ الرَّكْعَتَيْنِ الْأُخْرَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ (١).

ترجمه: نبي ﷺ به د ماسپښين اومازديګر د لمانځه په اولنو دوه رکعتونو کې الحمد لله اويو سورة لوسته اوکله کله به ئې مونږ ته دتعليم راکولو په مقصد يو ايت په زوره وئيل چې زه غلي ولاړ نه يم څه لولم.

اونبي ﷺ به په اخرنو دوه رکعتونو کې يوائې اَلْحَمْدُ لله لوستله.

تشريح پورتني حديث نه څومسئلې معلومې اوثابتې شوې.

١. د ماسپښين اومازديګر دلمانځه په اولنو دوه رکعتونو کې الحمدلله اوسورة دواړه شته اواخرني رکعتونه تش دي يعنې يوائې الحمدلله به وائي.

٢. په دغه دوه لمونځونو کې قرأة پټ لوستل واجب دي.

٣. دتعليم لپاره کله کله يوايت نيم ايت په زوره لوستلو.

٤. مقتدي به په دغه دوه لمونځونو کې قرأة نه کوي چې دامسئله به روسته په پوره تفصيل سره ثابته شي.

**منفرد ( ځان له لمونځ کوونکي ) به هم اَلْحَمْدُلِلّه اوورسره سورة وائي اول حديث درفاعة رضي الله عنه مرفوع حديث.**

---

١- بخاري ٧٥٦.

چې نبی ﷺ يواعرابی ته دلمونځ تعليم ورکولو.

اذَا قُمْتَ فَتَوَجَّهْتَ اِلَى الْقِبْلَةِ فَكَبِّرْ ثُمَّ اقْرَءْ بِامِّ الْقُرآن وَبِمَاشَاءَ اللهُ اَنْ تَقْرَءَ (۱).

ترجمه: کله چې لمانځه ته ودريږې اومخ قبلی ته کړی نوالله اکبر ووايه بيا اَلحَمدُلِلّه اودالله ﷻ دخوښی موافق قران ووايه.

**دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه اثراوحديث:**

كَانَ لاَيَقْرَءُ خَلْفَ الْاِمَام فِيْمَا يَجْهَرُ فِيْهِ وَفِيْمَا يُخَافِتُ فِيْهِ فِي الْاُوْلَيَيْنِ وَلاَفِيْ الْاُخْرَيَيْنِ، وَاِذَاصَلَّى وَحْدَهُ قَرَءَ فِيْ الْاُوْلَيَيْنِ بِفَاتِحَةِ الْكِتَابِ وَسُوْرَةٍ وَلَمْ يَقْرَءُ فِيْ الْاُخْرَيَيْنِ شَيْئاً (۲).

**ترجمه:** عبدالله بن مسعود رضي الله عنه به إمام پسی په جهر اوخفيه لمانځه کې قرأة نه لوستلو نه په اولنو دوه رکعتوکې اونه په اخرنو دوه رکعتوکې اوکله به ئی چې ځان له لمونځ کولو په اولنو دوه رکعتونوکې به ئی الحمد لله اوسورة لوستلو او اخرنودوه رکعتونو کې به ئی هيڅ نه لوستلو.

**تعديل الارکان (رکوع اوسجده پوره اوبرابر کول) واجب دی.**

**دابوهريرة رضي الله عنه مرفوع حديث:** هغه مشهور حديث چې يواعرابی (بانده چې) په لمانځه کې رکوع اوسجده برابره نه کوله نبی عليه السلام ورته

---

[1] - ابوداود ص ۱۳۱ ،مسنداحمد ص ۳٤۰ ج - ٤ نصب الدرايه ص ۳٦٤ ج ۱.

[2] - موطا امام محمد ص ۱۰۰

وفرمایل چې اِرْجِعْ فَصَلِّ فَانَّكَ لَمْ تُصَلِّ ......اوبیا نبی صلی الله علیه وسلم ورته دلمانځه پوره طریقه ښودنه کوي اواخرکې فرمائي چېوَاِذْ فَعَلْتَ ذَالِكَ فَقَدْ تَمَّتْ صَلَاتُكَ (۱).

**ترجمه**: کله چې دا «رکوع اوسجده» برابره وکړې نوستالمونځ پوره اوکامل شو.

**استدلال** : د«تَمَّتْ صَلَاتُكَ» الفاظو نه ثابتیږی چې تعدیل الارکان په لمانځه کې واجب دی فرض ندی.

## رکوع اوسجده سمه نه کول دلمانځه نه غلاده.

**دابوقتاده رضي الله عنه حدیث** : قَالَ رسول الله ﷺ اَسْوَءُ النَّاسِ سَرَقَةً اَلَّذِیْ سَرَقَ مِنْ صَلَاتِه قَالُوْا یَارَسُوْلَ الله کَیْفَ سَرَقَ مِنْ صَلَاتِه؟ قَالَ لَایُتِمُّ رُکُوْعَهَا وَلَا سُجُوْدَهَا وَلَایُقِیْمُ صُلْبَه فِیْ الرُّکُوْعِ وَلَافِیْ السُّجُوْدِ (۲).

**ترجمه**: رسول الله ﷺ وفرمایل چې بدترین غل دخلکو نه په غلاکې هغه کس دی چې خپل لمانځه نه غلاکوي صحابه کرامو رضي الله عنهم پوښتنه وکړه چې څنګه دلمانځه نه غلاکوي؟ نبی ﷺ وفرمایل چې هغه داسې چې دلمانځه رکوع اوسجده نه پوره کوي اودرکوع نه ملانه نیغوی اونه په سجده کې ملانیغوی.

---

۱- بخاری ۷۵۷ ۷۹۳ مسلم ۳۹۷ ابوداود ۸۵٦

۲- احمد ص ۳۱۰ ج ۵ حدیث ۲۲٦۹۵ طبرانی فی الاوسط حدیث ۸۱۷۹ مستدرک الحاکم ص ۳۵۳ ج ۱ حدیث ۸۲۵.

**یادونه:** دپورتنی حدیث نه هم ثابتیږی چې تعدیل الارکان واجب دی ځکه چې ددی نه تعبیر په غلا سره شویدی یعنی لمونځ خوشوي دی خوغلاده اونقصان دی.

## مقتدیان به امام پسی چپ ولاړوي

## نه به په جهری لمانځه کې څه لولی اونه په خفیه لمانځه کې

**اول دلیل:**

اصل دین آمد کلام الله معظم داشتن

پس حدیث مصطفی برجان مسلم داشتن

مسلمانانو ته داخبره جوته اوښکاره ده چې په اوله مرتبه کې به قران دلیل وي اوچاسره چې قران نه یوایت په طور د دلیل وي هغه ډله به په حقه وي الحمد لله احنافو سره دامام پسې دقرائت په باره کې نص قطعي شته چې مقتدي به امام پسې هیڅ قسمه قرائت نه وایي چپ اوغلي به ولاړوي.

﴿ وَإِذَا قُرِئَ الْقُرْآنُ فَاسْتَمِعُوا لَهُ وَأَنصِتُوا لَعَلَّكُمْ تُرْحَمُونَ﴾[1].

**ترجمه:** کله چې قران شریف لوستل کیږي نوتاسو ورته غوږ ونیسي اوچپ شي ددې لپاره چې په تاسې رحم وشي.

دا ایت دلمانځه په باره کې نازل دی.

اول دلیل: عبدالله بن مسعود ﷺ امامت کولو مقتدیانو څه لوستل چې کله لمونځ نه فارغ شو نو فرمایل چې ایاهغه وخت ندې راغلې چې تاسې عقل اوپوهې نه کار واخلې کله چې قران لوستل کیږي نو غوږ ورته ونیسي اوچپ شی لکه څنګه چې الله ﷻ درته امرکړیدي [2].

---

[1] - سورة اعراف ایت ۲۰٤.

[2] - تفسیر ابن جریر طبری ص ۱۰۳ ج۹.

دوهم دلیل: ابن مسعود ﷺ فرمایي چې په لمانځه کې قران تـه چـپ شه لکه چې الله ﷻ امر کړیدی [۱].

دریم دلیل: رئیس المفسرین عبدالله بن عباس ﷺ هم فرمایي چې پورتنې ایت دمقتدي لپاره دی اودلمانځه په باره کې نازل دی [۲].

څلورم دلیل: په نـورو وختونوکې کـه څـوک قـران اوري اوکـه نـه خوبـه لمانځه جمعه ، اخترونوکې غوږ نیول لا زمې دي . [۳].

پنځم دلیل امام مجاهدبن جبر رحمه الله المتوفی (۱۰۲)کې فرمایي چې دا ایت دلمانځه په باره کې نازل دی (پورتنې حواله).

شپږم دلیل: دامام سعید (المتوفی ۹۰).

اووم دلیل: حسن بصری رحمه الله.

اتم دلیل: امام زهری (المتوفی ۱۲۴) کتاب القراة ص ۳۷).

نهم دلیل : امام عبیدبن عمیر المتوفی ۷۴.

لسم دلیل: امام عطابن ابن ابی رباح (المتوفی (۱۱۴) ددې دوه اخیرنو امامانویه وړاندې یـو واعـظ تقریـر کولـو او دوي خپـل مینـځ کې خبـری کولې راوي وایې چې ماورته ووئیل تاسې ولې غـوږ نـه نیـسي اوځانونـه دوعید مستحق ګرزوي دواړو ماته وکتل اوبیا خبرو کې لګیا شو درې ځلـه مـاداخبره وکـړه پـه دریـم ځـل یـې راتـه ووئیـل چـې کـوم ایـت ستامقصددی هغه دلمانځه په باره کې نازل دی [۴].

---

[۱] - کتاب القراة للبیهقی ص ۷۳.

[۲] - کتاب القراة ص ۷۳.

[۳] - کتاب القراة ص ۷۳.

[۴] - تفسیرابن جریرص ۱۱۰ ج۹، ابن کثیر ص ۶۲۳ ج ۳.

يولسم دليل: محمدبن كعب قرظي (المتوفى ۱۸۸) مشهور تابعي دی فرمايي چې صحابه كرامو رضی الله عنهم به حضور عليه السلام پسې لمانځه کې قراة كولو نوېدې باره کې پورتنۍ ايت نازل شو چې (وَاِذَا قُرِاَ) چې كله قران شريف لوستل كيږي غوږ ونيسي (كتاب القراة ص ۷۴).

دولسم دليل: حافظ ابن كثير رحمه الله دپورتنۍ ايت په باره کې دمفسرينو اقوال نقلوي اوبيا ليكي چې وَكَذَا قَالَ الضحاك وَاِبْرَاهِيْمُ النخعي وَقَتَادَةَ والشعبي وَالسُّدِّیْ وعبدالرحمن بن زيدبن اسلم اَنَّ الْمُرَادَ بِذَالِكَ الصَّلٰوة (۱).

ترجمه: امام ضحاک، ابراهيم قتاده، شعبي، سدی، عبدالرحمن رحمهم الله ټول فرمايي چې ددې ايت شان نزول لمونځ دې.

ديارلسم دليل: تفسير امام ابن جرير طبری رحمه الله ددې ايت په باره کې د مفسرينو اقوال نقلوي اوبياليكي چې مراد دی ايت نه لمونځ اوخطبه ده (۲) نومعلومه شوه چې پورتنۍ ايت دلمانځه په باره کې نازل شوېدې كله چې امام پسې ولاړ وې نوغلي اوچپ ودريږي نور تفاسير ،لکه معالم التنزيل ص ۲۲۳ ج ۳، كشاف ص ۵۳۳ج ۱ بيضاوی ص ۳۰۸ ،ابن كثير ص ۲۲۳ ج ۳، ابوالسعود ص ۵۰۳ ج ۴، روح المعانی ص ۳۳ ج ۹. نودالله جل جلاله صفابنكاره واضحه حكم اوامردې چې كله په مانځه کې امام قرائت كوي نو تاسې چپ اوسې

[1] -ابن كثير ص ۲۸۱ج ۲.

[2] - تفسيرابن جرير ص ۱۱۲ ج ۲.

احادیث: دقـران شـريـف نـه وروسته دحجـت اودلیـل بـه بـاب کـې دټولـو مسلمانانو په نزد داحاديثو مقام دی کومـه مـسئله چې رسول الله صلى الله علیه وسلم په قول اوفعل کې بیان کړی وي نور زیات تـشریح اوتفصیل تـه هيڅ حاجت نلري غير مقلدين (وهابيان) دخپلـو کاغـذونو اورسالو دلارې دعوامـو پـه ذهـن کـې داغورڅـوي چـې ګويـا احنـاف داحاديثونـه خـلاف روان دي راڅې ګورو چې په دغه مسئله کې احنافو سره څومره احاديث دی.

اولنې حدیث: ابوموسی اشعری ﷺ فرمايي چې خَطَبَنَـا رَسُـولُ الله ﷺ فَعَلَّمَنَا سُنَّتَنَا وَبَيَّنَ لَنَا صَلَاتَنَا فَقَالَ اِذَا كَبَّرَ الْاِمَامُ فَكَبِّرُوْا وَاِذَا قَـرَءَ فَانْصِتُوْا (١).

ترجمـه: نبـی علیه السلام مـونږ تـه بيـان وکـړ او دسـنت تعلـيم يـې راکـړ اودمانځـه طريقـه يـې راوښوده اوبيايې وفرمائـل چـې کلـه امـام تکبير ووايي نوتاسوهم تكبير ووائی اوچې کله امام قراة وايي نوچپ شی.

دحديث نه صفا معلوميږي چې امام پسې قرائت نشته هغه که جهری لمونځ وي او که سری.

دوهم حدیث: ابوموسی ﷺ فرمايي چې نبی علیه السلام مونږ ته بيان وکړ اودسنت تعليم يـې راکـړ اوبيـا و فرمايـل چـې وَاِذَا كَبَّـرَ الْاِمَـامُ فَكَبِّرُوْا وَاِذَا قَرَءَ فَانْصِتُوْا (٢).

---

[1]- صحيح مسلم شريف ص ١٧٤ ج١ مسند احمد ص ٤٩٥ج٤، صحيح ابوعوانه ص ١٣٣ ج٢، ابن كثيرص ٢٨٠ ج٢.

[2]- ابوعوانه ص ١٢٣ ج٢، ابوداود ص ١٤٠ ج١.

ترجمه: کله چې امام تکبیروواېې نوتاسوهم تکبیرووائی امام قرائت کوي نوچپ شې.

دريم حديث: ابوموسى اشعرى رضى الله عنه فرمايي چې قال رسول الله ﷺ اذَا قَرَءَ الْاِمَامُ فَاَنْصِتُوْا وَاذَا قَالَ غير المغضوب عليهم وَلَاالضَّالِّيْنَ فَقُوْلُوْا اٰمِيْنَ (١).

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمايي چې کله امام قرائت واېې تاسو چپ شې اوچې کله غيرالمغضوب تراخيره وواېې نوتاسو امين وواېې.

ددې تولو صحيح رواياتونه صفا معلومه شوه چې دامام کار قرائت دى اودمقتدي کار خاموش اوچپ کېدل دى که جهري وي اوکه سري.

داسې ئې ندي وئيلي چې کله امام جهر کوي بلکې داسې فرمايي چې قرائت کوي او ددې روايت نه صفا معلوميږي چې دامين نه مخکې چې امام کوم قرائت کوي اومقتديان غلي وي هغه سورة فاتحه ده يعني چې کله امام سورة فاتحه لولي تاسوچپ اوسې.

**پورتنې حديث ته لاندېنوااماما نوصحيح وئيلی**

امام احمد، امام مسلم، امام نسائى، ابن جرير، ابن حزم، منذرى، ابن كثير، اسحق بن راهويه، ابن حجر، ابن خزيمه، ابوزرعه، ابن قدامه، ابن تيميه، ابوعوانه رحمهم الله.

څلورم حديث: ابوهريرة رضي الله عنه فرمايي چې رسول الله عليه السلام و فرمايل چې اِنَّمَا جُعِلَ الْاِمَامُ لِيُؤْتَمَّ بِهِ فَاِذَا كَبَّرَفَكَبِّرُوا وَاِذَا قَرَءَ فَاَنْصِتُوْا (الحديث). (٢).

---

[1] -ابوعوانه ص ۱۲۲ ج۲.

[2] - نسائى صـ ۱۰۷ ج۱.

ترجمه: امام ددې لپاره مقرر دی چې تابعداری وشي کله چې امام تکبیر ووایي نوتاسو هم تکبیرووایې اوکله چې امام قرائت لولي نوچپ شې.

ددې حدیث نه هم معلومه شوه چې په ټولو لمونځونوکې دامام وظیفه قرائت دی اودمقتدیانو وظیفه چپ کېدل دی.

٦- پنځم حدیث: انس بن مالک ﷺنه روایت دی چې: اَنَّ اَلنَّبِیَّ علیه السلام قَالَ اِذَاقَرَاَ اْلاِمَامُ فَانصِتُوْا (١).

ترجمه:نبی علیه السلامو فرمایل چې کله امام قرائت کوي نوتاسو چپ شې.

شپږم حدیث: دابوهریرة ﷺ په روایت اوږد حدیث دی نبی علیه السلام پسې یوصحابي قرائت لوسته چې کله لمونځ خلاص شو نونبی علیه السلام و فرمایل چې چاماپسې قرائت کولو صرف یوصحابی عرض وکړچې ماحضور منع کړلو نوټول صحابه کرام رضی الله عنهم قرائت نه منع شو. (٢).

اووم حدیث: ابوهریرة رضی الله عنه فرمایي چې حضور علیه السلام و فرمایل چې کُلُّ صَلوةٍ لَایُقرَءُ فِیْهَابِاُمِّ الکِتَابِ فَهِی خِدَاجِ الاَّصَلوةَ خَلفَ الاِمْاَمِ (٣).

ترجمه: هرلمونځ کې چې الحمدلله ونه لوستل شي هغه ناقص دی مګر هغه لمونځ چې امام پسې وي په هغه کې به الحمدلله نه وایې.

---

١ - کتاب القراة للبیهقی ص ٩٢.

٢ - موطامالك ص ٢٩، ٣٠، ابوداود ص ١٢٠ ج ٢.

٣ - مغنی ص ٦٠٦ ج ١ شرح مقنع ص ١٢ ج ٢، کتاب القراة للبیهقی ص ١٣٥.

ددی حدیث نه صفا معلومیږي چې کوموا حادیثو کې دالحمدلله دلوستوذکردی هغه دامام اومنفرد لپاره دی نه دمقتدي لپاره.

اتم حدیث: جابربن عبدالله فرمايي چې نبی علیه السلام و فرمایل چې: مَنْ كَانَ لَهُ امَامٌ فَقِرَاءَةُ الْاِمام لَهُ قِرَاءَةٌ (١).

ترجمه: جابر (رضی الله عنه) فرمائی چې څوک امام لری نودامام قراة دمقتدي قراة دی ابوداود رحمه الله فرمايي چې نبی علیه السلام نه پوښتنه وشوه چې په هرلمانځه کې قرائت دی نو نبی علیه السلام و فرمایل چې هویوانصاري صحابی ووئیل چې بیا خوقرائت لازمي شو؟ نبی علیه السلام ته زه دټولو خلکونه زيات نزدی ووم نبی علیه السلام و فرمایل چې زه پدې پوهیږم چې دامام قرائت دمقتدي لپاره کافي وي. (٢).

## دصحابه کرامورضی الله عنهم اقوال

١. امام عبدالرزاق دموسی بن عقبه رحمه الله نه نقلوي چې: اَنَّ اَبَابَكْرٍ وَعُمَرَو عُثْمَانَ يَنْهَوْنَ عَنْ الْقِرَأَةِ خَلْفَ الاِمَامِ (٣).

ترجمه: ابوبکر، عمر، عثمان رضی الله عنهم به دقرائت خلف الامام نه خلک منع کول.

٢. اَنَّ عمربن الخطاب رضی الله عنه قَالَ لَيْتَ فِیْ فَمِ الَّذِیْ يَقْرَءُ خَلْفَ الاِمَامِ حَجَرٌ (موطامحمد رحمه الله ٩٨.

ترجمه: عمر رضی الله عنه به فرمایل چې کاش دهغه چاپه خوله کې تیږي شي څوک چې امام پسې قرائت وایې.

---

١- فتح القدير ص ١٣٩ ج١ مسنداحمد.

٢- دارقطنی ص ١٢٦ ج١، نسائي ص ١٠٧ ج١.

٣- عینی ص ٦٧ ج٣، اعلاء السنن ص ٨٥ ج ٤.

۳. اَنَّ ابن مسعود رضي الله عنه قَالَ لَيْتَ الَّذِیْ يَقْرَءُ خَلْفَ الاِمَامِ مُلِئَ فُوْه تُرَابًا[1] ترجمه: ابن مسعود رضي الله عنه فرمايي چې كاش دهغه چاخوله دخاورونه ډكه شي څوک چې امام پسې قرائت لولي.

۴. ابن عباس رضي الله عنه نه پوښتنه وشوه چې ايا امام پسې قرائت ووائم هغه و فرمايل چې نه.

۵. عبدالله بن عباس رضي الله عنه نه پوښتنه وشوه چې بعض خلک دمازيګر اوماسپښين په مانځه كې امام پسې قرائت وايې اياداصحيح ده؟ ابن عباس رضي الله عنه و فرمايل چې كه ځماپه دوی زور رسيدلي، نومابه دوي نه ژبې غوڅې كړې وې دنبی عليه السلام قرائت به ځمونږ لپاره قرائت وو اودنبی صلی الله عليه وسلم چپتيا به ځمونږ لپاره چپتيا وه.[2]

۶. اثر اوقول زيدبن ثابت رضي الله عنه قَالَ لَاقِرَاءَةَ مَعَ الاِمَامِ فِیْ شَيْءٍ[3]

۷. زيد رضي الله عنه فرمايي چې دامام سره په هيڅ لمانځه كې قرائت نشته (جهری وی اوكه سری).

۸. اثر اوقول دعبدالله بن عمر رضي الله عنه اوجابر رضي الله عنه دی دواړو نه پوښتنه وشوه چې ايااامام پسې قرائت شته دواړو عرض وكړو چې په هيڅ لمانځه كې امام پسې قرائت نشته.[4]

۹. اثرانس رضي الله عنه وُدِدْتُ اَنَّ الَّذِيْ يَقْرَءُ خَلْفَ الاِمَامِ فِیْ فِيْهِ جَمْـرَةٌ[5] ترجمه: زه خوښوم چې څوک امام پسې قرائت وايې دهغه په خوله كې

---

[1] - طحاوی ص ۱۰۷ ج۱، جوهرالنقی ص ۱۲۹ ج۱.

[2] - طحاوی صـ ۱۲۱ ج۱.

[3] - نسائی ص ۱۱۱ج۱،مسلم ص ۲۱۵ج۱، ابوعوانه ص ۲۰۷ج۲.

[4] - طحاوی ص ۱۲۹ ج۱، زيلعی ص ۱۲ ج۲، موطامالك ص ۲۹، دارقطنی ص ۱۵٤.

[5] - جزء القراة للبخاري ص ۱۱ موطاامام محمد ص ۹۸.

سکروټه وی درنـو لوستونکو پـه لنـډول موستاسـې پـه خـدمت کـې دقران ، احادیث ،تفاسیرو ، دصحابه کرامو ﷺ اقوال اوحوالې نقل کړي دفریق مخالف د دلائیلـو تحقیق اوڅیړنـه موونـه کـړه دزیـاتې څیړنـې لپاره په دغه موضوع دعلامـه سرفراز خـان صفدر ﷫ کتاب احسن الکلام کتل ضروري دي اودلږ تحقیق لپاره دبنده رِسَـالَه اَلَـذُّالْکَلَامِ دکتنې وړ ده.

## دالحمدلله نه روسته امین وئیل سنت دي

**دابوهریرة ﷛ حدیث:** اَنَّ النبی ﷺ قَالَ اذَا اَمَّنَ الْاِمَامُ فَاَمِّنُوْافَانَّه مَنْ وَافَقَ تَاْمِیْنُهُ تَامِیْنَ الْمَلَائِکَةِ غُفِرَلَه مَاتَقَدَّمَ مِنَ ذَنْبِه (١).

**ترجمه:** نبی ﷺ فرمائی چې کله امام امین ووائی نوتاسوهم امین ووائی دچا امین چې دملائکو دامین سره یوځائی شی نوالله ﷻ ئی مخکنې ګناهونه ببنبي.

---

[1] - بخاری ص ۷۸۰ ج ۱.

# امين پټ ويل سنت دي

## داحنافو دلائل په پټ لوستو دامين

**اماالدليل الا ول من القرآن الكريم:**

دمقدمه اوتمهيد په طور داخبره ليکم چې حضورﷺ حضرت معاذبن جبلؓ يمن ته ليږه نوورته وفرمائيل چې (بِمَاذا تَقْضِ يَامَعَاذُقَالَ بِكِتَابِ الله قَالَ فَاِنْ لَمْ تَجِدْ قَالَ فَبِسُنَّتِ رَسُوْلِ اللهﷺقال فَاِنْ لَمْ تَجِدْ قَالَ اَجْتَهِدُبِرَاْیِ الى آخر الحديث) نوددی حديث اوداسې بې شميره احاديثونه معلوميږي چې مسئله به اول په قران شريف کې ګورو کچيرته موبيانه مونده اويا قران اوحديث کې صراحتا اوښکاره حکم موجودنه وی نود قران اوحديث نه به مسائل راوبا سو اواستنباط به کوو ځکه چې هره مسئله صراحتًا نه په قران کې شته اونه په حديث کې اوداخبره بدهی اودلمر په شان ښکاره ده پدي کې بحث نه کوو ددغه حديث په بنا مسئله دامين دجهر په قران کې شته اوکه نه؟ هوداخبره ښکاره ده چې دامسئله په قران کې شته.

ځمونږه مدعا داوه چې امين بالسر افضل اوغوره دی اوبالجهر جائز اوغير اولی دی اودادجمهور صحابه مذهب دی (کَمَابُيِّنَ).

مونږه وايو امين دعاده اودعابالسر اوبالاخفاء اوپټه وئيل پکاردی دوه مدعاګاني اودوه خبری دی (۱) چې امين دعاده (۲) اودعاپټه وئيل پکاردی نه بالجهر اوپه زوره هرچې اثبات داولی مدعی چې امين

دعاده نوداپه قران اوحديث ثابتـه خبـره ده اوهيڅوک تـرينـه انکارنشي کولي وَالاَفَعَلَيْهِ الاَدِلّه مِنَ الْقُرْآنِ وَالسُّنَّةِ عَلىٰ عَدَمِ دُعَائِيَّتِه. (١) دلغت په اعتبارسره دايوه دعائيـه کلمـه ده اودمعـاني لغويـه لپاره داهـل لغت بيـان هـم دليـل کيديـشي اګرکـه بـل دليـل نـه وی سـره ددينـه چـې ددعائيت دامين لپاره نوردلائل هم شته چې پوره تفصيل ئي ذکرکوو.

امين دعـاده: (٣) ايـت القـران دليـل سـوره يـونس ايـت ٨٩، قَـدْ اُجِيْبَتْ دَّعْوَتُكُمَا (ترجمـه) يقينـا قبولـه شـوه دعادستاسو دواړو (يعنـي دموسی او هارون عليهما السلام) تفاسيردذی ايت لاندې ليکی چې كَانَ مُوْسَىٰ[1] يَدْعُوْ وَهَارُوْنَ يُؤَمِّنُ فَسَمَّا هُمَاالله دَاعِيَيْنِ [1] (قال ابوالعاليـه وعکرمـه ومحمدبن کعب بيع بن موسی ذکره مثل مافی القرطبی).

نوالله تعالی ددعانسبت دواړوته وکړو اوحالانکـه دعـايواځې موسی عليه السلام کوله اوهارون عليه السلام پری امين وئيلو ددې نـه معلومـه شوه چې پـه دعـاامين وئيـل هـم دعـاده نـوددی ايـت نـه ثابتـه چـې امـين دعـاده نودهارون عليه السلام امين درب العالمين په نزددعاوه.

(٣) دکتابونونــه داخبــره ثابتــه ده چــې امــين دعــاده امـام بخاری رحمه الله په خپـل صحيح کې ليکـی چـې (وَقَالَ عَطَاء آمِيْن دُعَـاء [2]) وَرُوِیَ عَنْ اِبْنَ مَرْدُوْيَه عَنْ اَبِیْ هُرَيْرَةَ رضي الله عنه اَنَّ رَسُـوْلَ اللهِ صلى الله عليه وسلم قَـالَ اَلآمِيْنُ خَاتَمُ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ عَلىٰ عِبَادِهِ الْمُؤْمِنِيْنَ(الحـديث) (اَخْرَجَهُ الحافظ

[1] - قرطبی ص ٩١/ ج ١
[2] - بخاری ص ١٠٧ / ج ١.

ابن کثیر، في تفسیره (۱) ددی حدیث نه هم معلومیږي چه امین دعاء ده نودعائیت دامین دقران اوحدیث نه ثابت شو

سوال: چې هر کله دعابالسراوېته افضل اوغوره ده نوفاتحه خوهم دعاده اویونوم ددی هم دعاء المسئله ده نوبیا داهم بالسرپټ وئیل افضل اوغوره دی

جواب: منو چې دعاده اوافضل الدعاء ده خوداترینه مستثنی ده په دلائلو قرانیه اوسنت سره ځکه چې احادیثونه داثابته ده چې فاتحه به جهراً اوائی اوعلت داستثنی بی شماره احادیث دی.

سوال: چې امین ترینه هم مستثنی دی

جواب: چې علت داستثنی څه شی دی اودلیل داستثنی څه شی دی کوم حدیث یاایت شته دی؟

سوال: چې هو دلیل او علت داستثنی شته دی هغه حدیث دسفیان رحمه الله دی چې مخکې تفصیلابیان شو

جواب: چې هغه حدیث علت داستثنی نشی کیدی لِمَاذَكَرْنَا مِنَ الْأَجْوِبَةِ مِنْهُ تَفْصِيْلاً فَلَا نُعِيْدُه ثَانِيًا وَالْجَوَابُ الْقَوِيُّ دهغه جواباتوله امله چې مخکې تفصیلابیان شو اوقوی جواب داچه حدیث دسفیان رحمه الله منسوخ دی په حدیث دشعبه رحمه الله اووجه د نسخ ئی داده چې دسفیان ثوری رحمه الله اوحتی دسفیانینو مذهب امین بالاخفاء دی.

نوراوی عمل په خلاف دخپل حدیث کوی نودادلیل دمنسوخیت ددی حدیث دی ددی تفصیل به وروسته راشي.

---

۱ - ص ٤٤ / ج ۱.

سوال: چې دهارون عليه السلام امين (خَارِجَ الصَلٰوة اوبهردمانځه نه وه فَلاَ يُستَدَلُ) به جواب: چې ځمونږه مدعى ددى نه ثابتوو چې امين دعاء ده اثبات داخفائيت فى الصلوة ترينه نه ثابتوو

سوال: چې هارون عليه السلام خوامين بالجهر وئيلى دي

جواب: اوبيا كه ثابته هم شى نومونږه وايو چې هغه خارج الصلوه يعنې بيرون دمانځه نه دى اوځمونږه مدعى دَاخِلَ الصَّلٰوة ده سوال: چې موسى عليه السلام دعاكوله اوپه زوره ئي كوله ځكه هارون عليه السلام اوريده اوامين ئى پرى وئيلونودعاكه بالسروى اوپته نوموسى عليه السلام به كوله جواب: مونږه خبره په نفس جواز كې نه كوو په زوره هم روادده بلكه افضليت كې خبره كوو اودغه افضليت كيديشى دده په دين كې نه وه اوځمونږه په دين كې شته قران اوحديث پدې ګواه دى لكه چې بيان شو سوال: چې حديث دسفيان رحمه الله په افضليت اوغوراوى دجهر دلالت كوى قلنا دسفيان رحمه الله حديث منسوخ دى بِحَدِيْثِ الشُّعْبَه وَبِعَمَلِ نَفْسه لاَنّه عَمِلَ بِالْاخفَاءِ وَعَمَلُ الرَّاوِىْ بِخِلاَفِ حَدِيْثِه دَلِيْلٌ عَلٰى نَسْخِ رِوَايَتِه.

**دليل په دعانيت دآمين:** ابن خزيمه رحمه الله روايت كوى چې عَنْ اَنَسٍ بن مالك قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله اَنَّ الله اَعْطَانِىْ التامين وَلَمْ يُعْطَهُ اَحَدًا مِنَ النَّبِيِّيْنَ قَبْلِىْ اِلاَّاَنْ يَّكُوْنَ اللهُ قَدْاَعْطَاهُ هَارُوْنَ يَدْعُوْمُوْسَىٰ وَهَارُوْنَ يُؤَمِّنُ.

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائى چې الله ماته امين راكړيدى اوماته مخكې دهارون عليه السلام نه غير هيڅ پيغمبر ته امين ندى وركړى موسى عليه السلام دعاكوله اوهارون عليه السلام پرى امين وئيلو دټولو تفاسيرونه

معلوميږي چې امين دعاده نودپورتني دلايلو نه دلمر په شان واضحه شوه چې امين دعاده.

دقران پاک ددې ايت دتفسير نه ثابته شوه چې موسى عليه السلام کله دعا غوښته نوهارون عليه السلام بالکل خاموش اوچپ اومتوجه وه موسى عليه السلام چې کله دعاء ختم کړله نوهارون عليه السلام امين وويلو الله ده ته دعاء کوونکي وفرمايل، دغه شان هرکله چې اهل السنت امام سورة فاتحه لولي اومقتدي دهارون عليه السلام په شان خاموش او متوجه وي کله چې امام سورة فاتحه ختمه کړي نومقتدي امين وايي نودغه فاتحه د دواړو دطرفه شماريږي لکه څنګه چې په حديث کې دې چې اَنَّ قِرَاءَةَالْاِمَامِ لَهُ قِرَاءَةٌ چې دامام قرائت دمقتدي لپاره هم وي، (تفسير ابن کثير) نواوس دغير مقلدينو داشور اوغوغا او انګولا چې د مقتدي لمونځ بلافاتحه دى دالله اود نبي ﷺ دارشاد نه بغاوت دى.

(دقرائت خلف الامام په باره کې دبنده تاليف الذالکلام في ترک القراة خلف الامام وګوري) هرکله چې داخبره ثابته شوه چې امين دعاء ده نو اوس داخبره ثابتوو چې اصل په ذکر اودعاء کې اخفاء وي.

**مدعي چې دعاء په پټه وي:** مونږه په دليل کې دټولو نه اول نمبر قران مجيد بيا احاديث شريف وړاندې کوو اوبيا دخلفاء راشدينو تعامل.

**اولنى دليل:** الله فرمايي چې اُدْعُوْارَبَّکُمْ تَضَرُّعاً وَخُفْيَه اِنَّه لاَيُحِبُّ الْمُعْتَدِيْنَ (الاعراف)

**ترجمه:** دعاکوي دخپل پروردګار نه په عاجزى اوخفيه (روسره) يقيناً الله جل جلاله نه خوښوى زياتى کوونکى)

**تشریح:** حضرت زید بن اسلم ددې ایت په باره کې فرمایي چې اَلْاِعْتِدَاءُ اَلْجَهْرُ یعني دتیریدو مطلب دادی چې په اوچت اواز سره دعاء وکړي یعنې په رواواز سره دعاء کوونکی الله ﷻ ته محبوب دی اوپه اوچت اواز سره دعاکوونکی الله نه خوښوي.

**دویم دلیل:** دنبي علیه السلام په خدمت کې یوبانډه چې حاضرشو اوعرض یې وکړو چې یارسول الله: الله مونږه نه لرې دی چې په اوچت اواز سره ورته غږ وکړو اوکه نژدې دی چې په رو دعاء وکړونو الله ﷻ دا ایت نازل کړو چې وَاِذَا سَأَلَكَ عِبَادِيْ عَنِّيْ فَاِنِّيْ قَرِيْبٌ اه (الایه).

**ترجمه:** که چېرته تپوس وکړي تانه بندګان زماپه باره زماکې نو ورته ووایه چې زه نزدې یم نوددې نه معلومه شوه چې الله نزدې دی دهغه نه په روا اواز سره دعاء غواړي.

**دریم دلیل:** الله دسوره مریم په ابتداء کې په حضرت زکریا علیه السلام باندی درحمت نازلولو په باره کې فرمایي الله ﷻ په زکریا علیه السلام باندې خپل خصوصي رحمت د دې وجه نازل کړو چې ده په رو اوقلاره دعا کوله ذِكْرُ رَحْمَةِ رَبِّكَ عَبْدَهُ زَكَرِيَّا اِذْنَادٰى رَبَّه نِدَاءً خَفِيًّا (مریم) ددې ایت نه هم معلومه شوه چې په رو دعاء کوونکي باندې دالله خصوصي رحمت نازلیږي.

**څلورم دلیل:** الله ﷻ فرمایي چې وَاذْكُرْ رَبَّكَ فِيْ نَفْسِكَ (اعراف) یعني الله په زړه کې یاد وه

**پنځم دلیل:** حضرت ابوموسی اشعري رضی الله عنه فرمایي چې کله نبي علیه السلام دهجرت په اوم کال غزوه خیبر ته ووتلو نوخلک یومیدان ته ورسیدل هلته خلکو په اوچت اوازسره تکبیر یعنې الله اکبر شروع کړو

نونبي ﷺ خلکو ته وفرمايل چې په ځان نرمي وکړي تاسو ګونګا اوغايب ته چغي نه وهي تاسو هغه ذات ته چغي وهي چې اوريدونکی اونږدې دی اوهغه تاسو لره ويني (بخاري شريف مسلم شريف)

**شپږم دليل:** حضرت سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه فرمايي چې نبی ﷺ وفرمايل چې خَيْرُ الذِّكْرِ الْخَفِيُّ وَخَيْرُ الرِّزْقِ مَا يَكْفِي (الحديث)

ژباړه: بهترين ذکر هغه دی کوم چې په رواوپټ وی او بهترين رزق هغه دی چې په ضرور ياتوکې کافي شي [1].

**اووم دليل:** حضرت عايشه رضي الله عنها فرمايي چې نبی ﷺ هغه لمانځه ته چې دکوم لپاره مسواک ووهل شي په هغه لمانځه چې مسواک نه وي وهل شوی اويا ۷۰ چنده فضيلت ورکوي اونبي ﷺ وفرمايل چې هغه ذکر چې پټ وی اويا چنده دی اوفرمايي چې کله دقيامت ورځ شي اوالله ﷻ مخلوق دحساب لپاره جمع کړي اوداعمالو ليکلو اوجمع کولو فرشتي راشي الله ﷻ به هغه فرشتو ته ووايې چې ايا ددغه انسان کوم نيک عمل باقي پاتی شوی دی، نوفرشتي به عرض وکړي چې ای الله ﷻ مونږه څه شي ندی پريښی دهغه شيانو نه کوم باندې چې مونږه پوه شو اوکوم چې مو محفوظ کړيدی، مګرټول مواحاطه کړو اوجمع موکړو او موليکلو اوشمار موکړو نوالله ﷻ به دغه انسان ته وفرمايي چې ستاماسره يوپټ شی دی ته هغه نه پيژني اومعلوم درته ندی اوزه دهغې بدله تاته درکوم اوهغه ذکر خفي دی، (اَخرَجَ ابويعلي قال الهيثمي فِيْهِ معاويه بن يحی الصدفي وهوضعيف) مجمع الزوائد.

---

[1] - مسند احمد.

اتـم دلیـل: (قَالَ الْحَسَنُ بن علی بَیْنَ دَعْوَةِ السِّرِّ وَالْعَلَانِيَةِ سَبْعُوْنَ ضِعْفاً وَلَقَدْ كَانَ الْمُسْلِمُوْنَ يَجْتَهِدُوْنَ فِيْ الدُّعَاءِ وَمَايَسْمَعُ لَهُمْ صَوْتٌ وَكَانَ هَمْساً بَيْنَهُمْ وَبَيْنَ رَبِّهِمْ) (معالم التنزيـل) حضرت امام حسن بن علی وفرمایل چې دپټې اوښکاره دعاء په مینځ کې اویادرجې فرق دی اویقیناً مسلمانان په دعاء کې کوشش کوي ، یعنې د پټولو، او اواز به د دوی نه اوریدل کیده، بس دوی به دعاء دالله ﷻ اوخپل مینځ کې پټه ساتله معلومه شوه چې ټولو صحابه کرامو ﷺ اوتابعینورحمهم الله په دعاء کې نهایت اخفاء کوله اوس دقران اوسنت نه ثابته شو دالله حکم دادی چې دعاء په روکوه الله ﷻ په زوره دعاء کوونکي نه خوښوي دالله ﷻ رحمت په هغه دعاء کوونکی باندې نه نازلیږي چې اوچت اوازباندې دعاء کوی وجه داده چې شاید دوی الله ګونګی او غایب ګڼي ، اود رودعاء کوونکی ثواب اویا چنده دی ، اوس یوسړی چې یوه روپی ګټي اوبل سړی اویا وګټي نوتاسوبه کوم یو خوښوي.

**ددلیل خلاصه:**

امین دعاء ده (داپه قران اوحدیث سره اولغت سره ثابته شوه) (صغری)

اوپه دعاء کې اصل اخفاء ده (داهم په قران اواحادیثو سره ثابته شوه) (کبری)

چې اصل په امین کې اخفاء ده (نتیجه) (وهوالمطلوب)

اوس ددې دلیل داجواب کیدای شي چې غیر مقلدین ددلیل اولنی مقدمه ماته کړی اوپه قران اوحدیث او لغت سره داثابته کړي چې امین دعاء نده.

اویاددلیل دویمه مقدمه ماته کړي چې په دعا کې اصل اخفاء اوپټوالی ندی بلکه دقران اوحدیث اواجماع د صحابه کرامو ﷺ نه

داثابته کړي چې اصل په دعاء کې اخفاء نده بلکه جهر دی ورنه ددلیل د دواړو مقدمو تسلیمو لو اومنلو نه بعد دهغې دنتیجې نه انکار کول داسې دي چې دوه اودوه وي اوڅلورنه منی.

حقیقت دادی چې ددلیل مقدمات منل اودهغې دنتیجې نه انکار کول داسې جهالت دی، لکه چې یوماشوم قاعده ویلو وخت کې هجاء صحیح وایي لیکن تلفظ غلط کوي لکه دچاقو هجاء صحیح کوي چاتو اوتلفظ داسې کوي چې تړیک دغه وجه ده چې لوي نه لوي شوا فع هم دې دلیل ته تسلیم شویدی اودشوافع مشهور منطقي اومناظر امام فخرالـدین رحمه الله هـم وسـلـه غـورزولی ده او وایـي چـې دامـام اعظم رحمه الله زبردست دلیل دی.

**فایده اولی:** دقران پاک ددغه ارشاداتو او روایاتونه دلمانځه دباقي اذکارو پټ لوستل هم ثابت شو، ددې وجه نه ټول اهل السنت والجماعة ثناء، تعوذ،تسمیه، تکبیرات دانتقالاتو، تسبیحات درکوع اوسجدي، تشهد، درودشریف اودعاء په رو وایي.

**فایده ثانیه:** اصل قاعده داده چې دعا اوذکرپه رو ویل پکار دي ځکه چې الله جل جلاله دزړه دبیخ نه هم ممبر دی البته په ځینو اذکاروکي دالله جل جلاله دیادولو سره انسانانو ته اطلاع رسول هم مقصود وي اوانسان دزړه اوازنه اوري ددغې وجه نه انسانانو ته داوریدو دپاره اواز اوچتول پکاردی لکه څنګه چې اذان کې انسانان رابلل مقصودوی په اقامت کې مقتدیانوته ښودل مقصود وی امام دانتقالات تکبیرونه اوسلام په اوچت اواز سره وائی ځکه چې مقتدیان خبرول مقصود وی لیکن مقتدي اوڅان له مونځ کوونکی دپاره دخبرور کولو ضرورت نه وی ددی وجه نه په رواوپټ وئیل کیږي.

## له احاديثو څخه داحنافو دلائل

**لومړی حديث:** دشعبه د وائل بن حجر رضی الله عنه نه چې سند اومتن په لاندی ډول دی حدثنا، يحی بن سعيد، وعبدالرحمن بن مهدی قالاناشعبه عن سلمه بن کهيل عن حجر ابی العنبس عن علقمه بن وائل عَنْ اَبِيْهِ قَالَ سَمِعْتُ النبی ﷺ قَرَءَ غير المغضوب عليهم ولاالضالين وَقَالَ آمِيْنَ فَخَفَضَ بِهَا صَوْتَهُ (الحديث)

**ترجمه:** حضرت وائل رضی الله عنه فرمائی چې مادنبی ﷺ نه غير المغضوب عليهم ولاالضالين واوريده اوامين ئې په پټ اوازوئيلو. [1] (قَالَ الحَاكِمْ حَدِيْثٌ صَحِيْحُ الاَسْنَادِ، مسندابی يعلی الموصلی، الطبرانی فی معجمه، رواه دارقطنی، و الحاكم) اوپه روايت دده کې داسې دی چې شُعْبَه عَنْ سلمة بن کهيل عَنْ حجر بن العنبس عَنْ علقمه بن وائل عَنْ اَبِيْهِ اه اَخْفٰی بِهَا صَوْتَهُ دغه الفاظ په روايت ددارقطنی کې هم دی.

## اعتراضات دمخالفينو په حديث دشعبه رحمه الله

**او وجوه ترجيح دحديث دسفيان رحمه الله اودهغې نه جوابات.**

امام ترمذی رحمه الله په حديث دشعبه رحمه الله څلور اعتراضات کړيدی دری په ترمذی شريف کې دی اوڅلورم په علل کبری کې ذکر دی پنځم اعتراض ابن عبدالهادی په التنقيح کې ذکر کړيدی اوڅلور نوراعتراضات هم شته چې تفصيلاً به بيان شی اودغه وجوه دترجيح

---

[1] - رواه الترمذی ص ٦١/ ج ١ ومسندامام احمد، وابوداؤد ص ١٣٤/ ج ١.

دحدیث دسفیان رحمه الله دی په حدیث دشعبه رحمه الله مونږهٔ تفصیلا هریواعتراض ذکرکوو اودهغی نه تسلی بخض اومستندجواب کوو(ان شاء الله)

**اول اعتراض:** اصل کې دا اعتراض دامام بخاری رحمه الله دطرفنه اوچت شویدی امام ترمذی پدی قول سره ذکر کوی چې وَاَخطَاَشُعْبَه فِی مَوَاضِعَ مِنْ هٰذَا الْحَدِيْثِ فَقَالَ عَنْ حِجْرِ اَبِی الْعَنْبَسِ وَاِنَّمَا هُوْ حِجْرُ بن الْعَنْبَسْ وَيَكْنٰى اَبَاالسكن حاصل ئې داسې دی : چې شعبه ددی حدیث په څوځایونوکې خطاشویدی (۱) شعبه وائی چې ابی العنبس اوحالانکه دا ابن العنبس دی (۲) شعبه رحمه الله اسم کنیه ابوالعنبس ذکرکوی حالانکه دده اسم کنیه ابوالسکن ده چې عن حجر ابی العنبس حالانکه داحِجْرٌ اِبْنُ الْعَنْبَسِ دی نه ابی العنبس (ده دابن په ځای ابی لفظ راوړیدی اودانشته په سندکې) لکه څنګه چې سفیان رحمه الله وائی چې حجر ابن العنبس یعنی حجر دعنبس څوی دی پلارئی نه دی اوشعبه رحمه الله وائی چې پلارئی دی نودلته شعبه رحمه الله خطادی دحجر اسم کنیه ابی العنبس ذکرکوی اوحالانکه دده اسم کنیه ابوالسکن دی اودا اعتراض ابن قطان په خپل کتاب کې ذکرکړیدی.

**جواب:** داولي حصی داعتراض نه جواب دادی چې ابوالعنبس اوابن العنبس دیو راوی دوه نومونه دی ځکه چې حضرت حجر رضی الله عنه دنیکه نوم عنبس وه اودڅوی نوم ئې هم عنبس وه دنیکه اولمسی نوم یودی اوداخه بعیده اولری خبره نده ځکه چې په عربو کې دپلار اوڅوي نوم متحد اویوشان شته دی.

**اول**: ددی خبری لپاره دلیل چې دا ابی العنبس دده اسم کنیه وه په خپله حدیث دحضرت سفیان رحمه الله دی چې ذکر کړیدی امام ابوداؤد په خپل سنن کې (۱) عبارت داسې دی چې محمدبن کثیر عَنْ سفیان عَنْ سلمه عَنْ حجرِ ابی العنبس اه.

**دویم دلیل**: دادی چې دسفیان دوه شاګردان دی یومحاربی اوبل حضرت وکیع دده نه په ابوداؤد ص ۱۳۴/ ج۱، دارقطنی ص ۱۲۸، ص ۲۷ /ج۱، اومسند دارمی ص ۱۳۷/ ج۱. کې دحجر کنیت ابوالعنبس منقول دی.

**دریم دلیل**: علامه ابن حبان رحمه الله په کتاب الثقات کې تصریح کړیده پدی چې ابی العنبس اوابن العنبس یو وه دحجر دنیکه اوځوی نوم متحدوو (۲)

دعلامه ابن حبان په کتاب الثقات کې عبارت داسې دی حجر بن العنبس ابا السکن الکوفی وَهُوَ الَّذِيْ يُقَالُ لَهُ اَبُو الْعَنْبَسِ اوبیا امام دارقطنی فرمائی چې هٰذا صَحِيْحٌ اودامام عبارت دی چې وَكُنْيَتُه كَاسْمِ اَبِيْه اه.

نودپورتنی احادیثو اوعباراتونه بداهتامعلومه شوه چې دسفیان ثوری رحمه الله اوامام شعبه رحمه الله روایت متفق شو دواړه یوشی دی نوپه روایت دسفیان کې هم کنیه ابوالعنبس ذکرده نوخطاء څنګه راغله.

اواعتراض ددوهمی حصی نه جواب دادی چې دحجر اسم کنیه ابوالعنبس هم دي اوابوالسکن هم دې دیوسړی دوه اسم کنې ده

---

۱- باب التامین وراء الامام ص ۱۳٤/ ج ۱.

۲- زیلعی ص ۱۷۰ / ج۱.

اودابعیده خبره نه ده په عربوکې دیوشخص دوه اسم کنیه لَاتعدو لَاتُحْصٰی بی شماره دی لکه دحضرت علی رضی الله عنه اسم کنیه ابوتراب اوابوالحسن دواړه دی.

دلیل پدی چې دادواړه اسم کنې دحجر دی قول دحافظ ابن حجر رحمه الله په التقریب کې [1] حافظ ابن حجر عسقلانی رحمه الله حجربن العنبس حضر می ویقال ابوالسکن اه.

اودویم دلیل دمحدث ابن حبان رحمه الله قول دی په کتاب الثقات کې لیکې چې حجر بن العنبس اَبُوالسکن الکوفی وَهُوَالَّذِي يُقَالُ لَهُ اَبُوالعنبس.

**دویم اعتراض:** امام ترمذی رحمه الله پدی الفاظو سره ذکر کوی اودی داټول اعتراضات دامام بخاری رحمه الله نه نقل کوی ځکه دی وائي چې قال اَبُوعِيْسٰی سَمِعْتُ محمدأی البخاري رحمه الله اه.

اعتراض دادی وَزَادَفِيْهِ عَنْ عَلْقَمه بن وائل وَلَيْسَ فِيْهِ عَنْ عَلْقَمَة وَاِنَّما هُوَ حَجر بن عنبس عَنْ وائل بن حجرآه اودا اعتراض ابن قطان په دی الفاظونقل کوی وَاِخْتِلَافُهُمَا اَيْضًااى اختلاف سفيان وشعبه حَيْثُ جَعَلَ سُفيان مِنْ رَوَايَةِ حِجْرٍ عَنْ وَائِلٍ آه وَجَعَلَ شُعبه عَنْ رِوَايَةِ عَنْ عَلْقمه عَنْ حِجْرٍعن بن وائل.

**حاصل اوخلاصه:** داعتراض داده چې حضرت شعبه رحمه الله دحضرت حجر رحمه الله اودرسول الله ﷺ دصحابی حضرت وائل په

---

[1] - ۲۱۴ / ج۲.

مینځ کې علقمه ذکر کړیدي حالانکه دحضرت حجر رحمه الله سماع بلاواسطه دحضرت وائل رضي الله عنه نه ثابته ده (کما روایه سفیان عنه).

جواب: مونږه وایوچې داخلول دعلقمه په مینځ ددغه دواړو راویانو کې څه عیب نه دی ځکه چې دحجر رحمه الله سماع دعلقمه رحمه الله اودوائل رحمه الله دواړو نه ثابته ده اومتحققه ده ددی دلیل دادی چې حضرت حجر رحمه الله په خپله فرمائی چې مااول حدیث الباب دحضرت علقمه نه واخستو اوڅه موده بعدځما ملاقات دحضرت وائل سره اوشونوداهغه نه می هم سمع دحدیث اوکړه ددی خبری دلیل تصریح ددغه ائمه ؤده په خپلو کتابونو کې [1] دابوداؤد طیالسی عبارت د ص ۱۳۸ کې داسې دی: عَنْ شعبه قَالَ اَخْبَرَنِیْ سَلْمَه قَالَ سَمِعْتُ حِجْرًا اَبَاالعنبس قَالَ سَمِعْتُ عَلْقَمَةَ یُحَدِّثُ عَنْ وَائِلٍ وَقَدْ سَمِعْتُ عَنْ وَائِلٍ اه اوهمدارنګه ابومسلم په خپل سنن کې کما قَالَ العَیْنِیْ، نوروایت دشعبه په دواړوطریقو ثابت دی اوصحیح دی اوهیڅ قدح اونقصان پکې نشته دی.

(۲) که فرضازیادت راغی نودلته زیادت دثقه راغی اوداصول حدیث داقاعده ده چې زیادت دثقه مقبول دی اودا اعتراض (علت دترجیح.

زیات سخیف اوبیکاره دی ځکه چې سماع دعلقمه دپلارنه ثابته ده دامام بخاری رحمه الله په نزدهم (کمافی جزء رفع الیدین) نودتعجب خبره ده چې دلته ددغه وجه نه روایت مقدوح ندی اوپه امین کې مقدوح دی اومسلم شریف کې هم سماع ثابته ده دحدیث دقصاص اودحدیث وَضْعِ

---

[1] -مسند امام احمد ص ۲۰۵/ ج۳، مسند ابو داؤد طیالسی ص ۱۳۸ / ج۱، بیهقی ص ۵۷/ ج۱، دارقطنی ص ۳۳٤/ ج۱.

اَلْيُمْنٰى عَلَى الْيُسْرٰى نه اوپه نسائى کې په باب درفع اليدين کې اوپه خپله ترمذى تصريح کړيده په سماع دعلقمه عَنْ اَبِيْهِ فِىْ كِتَابِ الْحُدُوْدِ کې.

**دريم اعتراض:** امام ترمذى پدى الفاظو سره ذکر کوى چې وَقَالَ خَفَضَ بِهَاصَوْتَه، اوعلامه ابن القطان دا اعتراض پدى الفاظو سره ذکر کوى چې اِخْتِلَافُ سُفْيَانَ وَشُعْبَةَ فِىْ اللَّفْظِ (وَهُوَمَدَّوَخَفَضَ).

**حاصل اوخلاصه** :ددى اعتراض داده چې امام بخارى رحمه الله اوامام ترمذى رحمه الله اوعلامه ابن القطان رحمه الله وائي چې حديث دشعبه ځکه راجح ندى چې ده دسفيان نه خلاف کړيدى سفيان مَدَّ لفظ ذکر کوى اوشعبه خَفَضَ نودوى وائى چې شعبه په متن د حديث کې غلط شويدى چې (مَدَّبِهَا صَوْتَهُ) په ځاى (خَفَضَ) ئې ذکر کوى نو وهم راغلى دى دشبعه نه په متن د حديث کې غلط شويدى اصل کې (مَدَّبِهَا صَوْتَهُ دى).

**جواب اول:** جواب مونږه داکوؤ چې دخطافى المتن نسبت کول حضرت شعبه ته صحيح ندى بلکه بلادليله دى مونږهٔ وايو چې حضرت سفيان رحمه الله په متن دحديث کې غلط شوى دى د(خَفَضَ بِهَا صَوْتَهُ) (مَدَّبِهَا صَوْتَهُ) ذکر کړيدى يعنى اصل متن الحديث (خَفَضَ) دى سفيان غلط شو اومدئي اوئيلو اومونږيدى باندى دليل هم لرو هغه دا چې دسفيان ثورى خپل مذهب اخفاء دامين (پټ وئيل) وه (كماذكر نا سابقا ونذكره لاحقاتفصيلا).

**دويم جواب:** چې يوهم غلط شوى ندى بلکه حديث سفيان رحمه الله نه هم اخفاء مراد کيديشى كَمَابَيَّنَا چې دمَدَّ محتمل دمعانى ثلاثه ؤ دى د دوواولنو معناګانو په اعتبارسره معارض دى

دریم جواب دا او د پاره د تطبیق د روایتینو وایو چې دا په بېلابېلو وختونو بنا دی، نو بیا هم د دواړو حضراتو روایتونه صحیح دی بِاَنَّ عَلٰی اِخْتِلَافِ الْاَوْقَاتِ، د سفیان رحمه الله روایت تَعْلِیْمًا او د شعبه رحمه الله روایت مَعْمُوْلًا کَمَا بَیَّنَّا.

او په ابوداؤد شریف کې دا خبره صراحتاً موجوده ده چې حضرت وائل رضي الله عنه په بارګاه رسالت کې دوه ځله یا درې ځله حاضر شوی وه نو حضور رحمه الله یو ځل تَعْلِیْمًا امین بِالْجَهْرِ وئیلی وه او دا حضرت سفیان رحمه الله نقل کړو په مَدَّبِهَا صَوْتَهُ سره، او دویم ځل د معمول مطابق اخفاء کړې وه او دا حضرت شعبه رحمه الله په خَفَضَ بِهَا صَوْتَهُ سره نقل کړو، او دلیل د دې خبرې قول د حافظ ابن حجر رحمه الله دی په فتح الباری کې چې یَحْتَمِلُ اَنْ یَّکُوْنَ مَرَّةً سَمِعَهُ وائل جَهْرٌ ابالتَّامِیْنِ وَمَرَّةً بِالسِّرِّ.

څلورم جواب چې دا خطا فی المتن نسبت کول حضرت شعبه رحمه الله ته ندی صحیح ځکه چې د دې حدیث مؤید شته دی هغه روایت د دارقطنی دی د وائل بن حجر نه قَالَ صَلَّیْتُ مَعَ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ فَسَمِعْتُهُ حِیْنَ قَالَ غیر المغضوب علیهم ولاالضالین قَالَ آمِیْنَ فَاَخْفَیٰ بِهَا صَوْتَهُ.

او بل دا چې د خطا نسبت یوازې شعبه رضي الله عنه ته ځکه ندی صحیح چې ابن القطان رحمه الله په حدیث د وائل رضي الله عنه کې اضطراب ذکر کړیدی (مِنْ اَرْبَعَةِ وُجُوْهٍ) چې دا ټول اختلاف د سفیان او شعبه فی الْمَتْنِ وَالْاِسْنَادِ دواړو روایتونو ته راجع دی نو دا کوم انصاف دی چې یوازې شعبه رحمه الله ته نسبت کیږي دارنګه نصب الرایه ص ۳۷۰ / ج ۱.

**ځلورم اعتراض او وجه د ترجیح او غوراوي د روایت دسفیان او ترېنه جواب**

امام ترمذي رحمه الله په کتاب علل الکبری کې ذکر کړیدی کَمَا حَکَاهَا الزیلعی (١) دی وائې فَقَالَ سَأَلْتُ محمدبن اسماعیل هَلْ سَمِعَ عَلْقَمَةُ مِنْ اَبِیه فَقَالَ اَنه وُلِدَ بَعْدَمَوْت اَبِیْه بِسِتَّةِ اَشْهُرٍ.

**حاصل اوخلاصه داعتراض داده:** چې دحضرت شعبه رحمه الله روایت منقطع دی ځکه چې دحضرت علقمه سماع دخپل پلار حضرت وائل رحمه الله نه ثابت اومتحقق ندی ځکه چې حضرت وائل رضی الله عنه دحضرت علقمه دپیدائش نه شپږ میاشت مخکې وفات شوی دي نوحدیث دشعبه رحمه الله منقطع شونو روایت حجت نه ګرزی او استدلال پری ندی صحیح.

**جواب:** دا اعتراض انتهائي کمزوري او لایُعبابه په درجه کې دې ځکه چې دا روایت منقطع ندی دحضرت علقمه سماع دخپل پلار حضرت وائل رضی الله عنه نه یوځل نه متعدد اوقوی روایتونو نه ثابته ده

(١) مثلا جامع الترمذی ص ١٧٥/ ج ٢، بَابَ مَاجَاءَ فِيْ الْمَرْأَةِ اِذَا اسْتُکْرِهَتْ عَلَی الزِّنَا، دلته امام ترمذی فرمایې چې حجر بن وائل سَمِعَ مِنْ اَبِیهِ اه اودده دروایت دنقل کولونه بعدفرمایې چې (حَدِیْثٌ حَسَنٌ صَحِیْحٌ).

(٢) امام بخاری رحمه الله په خپل تصنیف لطیف جزء رفع الیدین کې سماع دعلقمه خپل پلارنه ثابته کړیده.

---

[1] - ص ٣٧٠ / ج ١.

(۳) امام مسلم رحمه الله په صحيح مسلم كې په دوه ځايونوكې يوقصاص اودويم په حديث وضع اليمنى على اليسرى نه لاندې پدي عبارت سره سماع دعلقمه دخپل پلارنه بيان كړيدى (حَدَّثَهُ اَنَّ أباه حَدَّثَه)
(۴) امام نسائي رحمه الله نه په (ص ۱۱۹) رفع اليدين كې داسې عبارت منقول دى (علقمه بن وائل قَال حَدَّثَنِیْ اَبِیْ).
(۵) امام ابوداؤد طيالسى (ص ۱۳۸) په خپل مسندكې.
(۶) امام احمدپه خپل مسند ۲۰۵ ج ۲ كې دحضرت علقمه سماع دخپل پلارنه په شدومداوقوى ټكو سره ثابته كړيده داخبره مونږه دمخكنې اعتراض په جواب هم كې ثابته كړيده.

**فائـده:** دحـضرت وائـل رضي الله عنه دوه زا مـن دى (۱) علقمـه رحمه الله (۲) عبدالجبار رحمه الله، عبـدالجبار رحمه الله دعلقمـه رحمه الله نـه پـه عمركې ډيـر وړوكې وه اودغه عبدالجباردوائل دوفات نه شپږ مياشتى بعدپيداشوى دى دغه خبره امام ترمذى رحمه الله (۱) داسې نقل كوي علقمه بـن وائـل اَكْبَرُ مِنْ عَبْدِالْجَبَار بن وائل لَمْ يَسْمَعْ مِنْ اَبِيْهِ وَلَا اَدْرَكَهُ يُقَالُ اَنَّهُ وُلِـدَ بَعْدَمَوْتِ اَبِيْه بستَّةِ اَشْـهُرٍ د امام ابوداؤد دتحقيق موافق دعبدالجبار ولادت هـم حـضرت وائـل پـه ژونـد كـې شـوى دى لـيكن دحـضرت وائـل رحمه الله دانتقـال پـه وخـت كـې ډيـر كمـسن اوكـم عمـره وؤ امـام ابـوداؤد رحمه الله دحـضرت عبـدالجبار رحمه الله داقـول نقـل كـوى چې كُنْـتُ غُلَامًالاَ اَعْقِلُ صَلوةَ اَبِیْ، يعنى زه ماشوم وم دپلار په مونځ نه پوهيدم.

[1] - ص ۱۷۵/ ج ۱.

**دتعجب خبره ده:** چې کله خبره د دوی دفائدې شي نوبيا سماع دعلقمه رحمه الله ثابته وی او کچيرته خبره په نقصان تماميږي نوبيا که سماع ثابته هم وی نوقول تَسَامُحًا اوستر ګی پټوولوسره په عدم سماع کوی په خپله دامام ترمذی رحمه الله دقول مطابق هم سماع ثابته ده اوچه حديث ددوی موافق وی لکه رفع اليدين کې نوبيا سره دټولو نقصاناتو او علتونو قبلولي شی اوټول علتونه هيرشی اوچه کله دهمدغه راوی حديث په اخفاء کي اوپه هغه مسائلو کې راشی چې موافق دمسلک داحنافو وی نوبيا موضوع بدله شي اوبيا صحيح ضعيف وګرځوی الله دی په منصفينو رحم اوکړی (فالی الله المُشْتَکی).

**پنځم اعتراض اووجه دترجيح دروايت دسفيان رحمه الله اوترينه جواب**

ابن عبدالهادی په التنقيح کې ذکرکړی دی پدې الفاظو سره چې رَوَى شُعْبَةُ خِلَافَهُ (اي خِلَافَ هٰذَا الحديث) عِنْدَالْبيهقي فِيْ سُنَنِه وَفِيْهِ قَالَ آمِيْنَ رَافِعًا صَوْتَه [۱] اوبيا بيهقی وائي چې اِسْنَادُ هٰذِهِ الرِّوَايَةِ صَحِيْحٌ اودغه شان نصب الرايه کې دی.

**حاصل اوخلاصه داعتراض داده:** چې امام شعبه رحمه الله روايت معارض لِنَفْسِهِ دی ځکه چې د حضرت شعبه رحمه الله دغه حديث په دغه سند سره بيهقی رحمه الله، په سنن کبری اومسند ابوداؤد طيالسی کې وَمَدَّبِهَا صَوْتَه کلماتو سره مروی دی نوګوياکه ددغه کلماتو تعارض دوجه نه حديث سَاقِطُ الْاِعْتِبَار شونواستدلال په دی نه دی صحيح.

[۱] - امام بهيقی په (ص ۲۰۵/ج۲)،امام

**جواب:** دا روایت شاذ دی نو دی لره اعتبار نشته ځکه چې د حضرت شعبه رحمه الله په شاګردانو کې ابو داؤد طیالسي، محمدبن جعفر، یزیدبن ذریع، عمربن مرزوق دا ټول حدیث الباب دامام شعبه رحمه الله نه په خَفَضَ بِهَا صَوْتَهُ کلماتو سره نقل کوی صرف ابوالولید د خَفَضَ بِهَا صَوْتَهُ په ځای مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ الفاظ راوړی دی، نو د اصول حدیث د قواعدو په لحاظ سره دا روایت شاذ شو کچیرته دغه الفاظ مروی هم وی بیا هم د مَدَّ بِهَا صَوْتَهُ مفهوم د خَفَضَ سره معارض نه دی لکه چې مخکې ئې بیان تیر شویدی، او بل د ابوالولید په باره کې حافظ ابن حجر رحمه الله لیکی چې عَمِيَ قَبْلَ مَوْتِهِ وَكَانَ يُخْطِئُ وَلاَ يَرْجِعُ (کمافی التقریب وغیره) یعنی د مرګ نه مخکې ړوند شوی وو او دا به خطا کیده او ډیرې خطانه به ئې رجوع نه کوله.

**شپږم اعتراض:** حضرت شعبه رحمه الله روایت کې متفرد دی د دی متابع او مؤید راوی په کتابونو د احادیثو کې نشته او حالانکه د سفیان د روایت دری متابع او مؤید په کتابونو د احادیثو کې شته (۱) په جامع الترمذي کې د علاء بن صالح اسدی نه (۲) په جامع الترمذی کې د محمدبن سلمه بن کهیل نه (۳) او ابوداؤد کې علی بن صالحی، نو د حضرت شعبه روایت شاذ شو فَلَا يُسْتَدَلَّ بِهِ وَلاَ حُجَّةَ لَكُمْ بِهِ.

**جواب:** مونږه وایو په دغه متابعینو کې یو علي بن صالح دی لکه ځنګه چې په اعتراض کې ذکر شو خو دا نوم ذکر کول په اتفاق د محدثینو وهم د راوي دی او دلیل په دی قول د علامه ابن حجر

عسقلاني دی په التهذيب (۱) کې فرمائي هٰذاوَهُمْ مِنْ اَبِىْ داوٗد وَاِنَّمَا هُوَ العلاء بن صالح. نوعلي بن صالح دسفيان متابع اومؤيدندی بلکه دا(علي) هماغه (علاء) دی چې په ترمذی کې ذکردي، دراوی نه وهم راغلی دی (دعلاء) په ځای ي (علی) ذکرکړيدی (التلخيص الخبير فی تخريج احاديث الرافعي الکبير) کې علامه ابن حجر رحمه الله پورتنی په شان قول کړی دی چې داکاتب یاراوی غلط شوی دی، اوهرچې دا دوه نوريعنی محمدبن سلمه اوعلاء بن صالح دی نوددوي دتائيد وجه د ضعف جوړيدی شي وجه دتوثيق نه شي جوړيدی ځکه چې دادواړه ثقه نه دی بلکه ضعيف لاځه کوی اضعف دی.

دعلاء بن صالح متعلق علامه ذهبی په ميزان الاعتدال کې فرمايي قال اَبُوْحَاتِمٍ كَانَ مِنْ عُتُقِ الشِّيْعَه، اودحضرت علی بن المدينی رحمه الله رايه ده چې (روی اَحَادِيْثَ مَنَاكِيْر) دغه رنگه محمدبن سلمه دشخصيت په باره کې علامه ذهبی په ميزان الاعتدال کې داسې فرمائي قال الجوز جاني هُوَذَاهِبٌ وَاهِيُ الْحَدِيْثِ. (اثار السنن ص ۹۸) مخکې مونږبيان اوکړو چې اصل کې علاء دی اوعلی دکاتب اوراوی غلطياده، ددی دليل علامه نيموی رحمه الله په اثارالسنن کې داسې بيانوي چې دارِوايت په دری طريقوسره مروی دی. ترمذی کې سندداسې دی عَنْ محمد بن ابان عَنْ اِبْنَ نُمَيْر عَنِ العلاء بن صالح اه، اومصنف ابن ابی شيبه کې پدی سند سره دی عَنْ اِبْنِ نُمَيْر عَنِ العلاء بن صالح، اوابوداؤد کې داسې دی چې عَنْ مخلدبن خالد اشعری نابن

---

۱ - ص ۱۸٤/ ج۸.

نمیر ناعلی بن صالح عَنْ سلمه بن کهیل اه، ددي نه معلومه شوه چې د دری واړو روایاتودارمدارپه عبدالله بن نمیر دی، اودده دوه شاګردان دی یو محمد بن ابان، اوبل ابوبکربن ابی شیبه، دوی داستاذ(نوم علی بن صالح) ذکر کوی اوداخبره ډیره زیاته واضحه ده چې محمدبن ابان اوابوبکربن ابی شیبه احفظ دی دخلدبن خالدنه،فلهذا ددوی روایت به راجح وی اوددي خبری یوبل دلیل دادی چې اما بیهقی ډیر زیات کوشش باوجود دعلاء بن صالح اومحمدبن صالح دسفیان متابع ندی راوړی ، کچیرته علی بن صالح دسفیان متابع دې نوده به ضرور راوړی وی ددی نه علاوه په لسان المیزان اوفتح الباری کې هم ... تضعیف شویدی اودامو تفصیلابیان کړیدی.

حاصل اوخلاصه داچې دسفیان رحمه الله دری واړه متابع غیر معتبر اوداعتماد قابل ندی فلهذا ددوی دمتن په تبدیلی کې مخالفت څه حیثیت نه لری.

**اوم اعتراض اووجه دترجیح دروایت سفیان رحمه الله.**

دا اعتراض په داسې الفاظوسره ذکرکوی چې (اِذَا اِخْتَلَفَ سُفْیَان وَشعبه فَالتَّرْجِیْحُ لِلثَّوْرِيْ لِقَوْلِ شُعْبَةَ اَنَّ سُفْیَانَ اَحْفَظُ مِنِّیْ) خلاصه اوحاصل ددی اعتراض دادی چې دواړه روایتونه صحیح دی سنداً اومتناً خودسفیان روایت راجح دی، دیوڅووجهونه (۱) ځکه چې سفیان ثوری رحمه الله مرتبه دشعبه رحمه الله نه زیاته ده ځکه چې یحی بن سعید القطان وائی چې لَیْسَ اَحَدٌ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ شُعْبَةَ وَاِذَا خَالَفَهٗ سُفْیَان اَخَذْتُ بِقَوْلِ سُفْیَانِ).

**زباړه:** ماته دشعبه رحمه الله نه زیات څوک محبوب نشته خوچې کله د ده قول دسفیان رحمه الله نه مخالف شي نوزه په قول دسفیان رحمه الله عمل کوم (۲) یحی بن معین رحمه الله وایی چې لَیْسَ اَحَدٌیُخالِفُ سُفْیَانَ الثَّوْرِی اِلاکَانَ الْقَوْلُ قَوْلُ سُفْیَانَ الثَّوْرِی رحمه الله چې دسفیان رحمه الله دقول سره بل څوک مخالف شي نودسفیان رحمه الله قول ته به ترجیح وی، چاپوبښتنه وکړه چې که دشعبه دقول سره هم مخالف شي نوهم به ترجیح قول دسفیان رحمه الله لره وی یحی رحمه الله وفرمائل چې هو(۳)، اوبل چې کله دسفیان اوشعبه رحمه الله روایت معارض شي نوترجیح به روایت دسفیان رحمه الله لره وی کَمَا دَلَّ عَلَیْهِ قول یحی بن معین ویحی بن سعید القطان قَالا اِذَا خَالَفَ شُعْبَةَ قَوْلَ سُفْیَان فَالْقَوْلُ قَوْلُ سُفیان، (۴)اوبل داچه دټولو حفاظو دبخاری پدی اتفاق دی چې اَنَّ شُعْبَةَ اَخْطَاوَذَکَرَ مَکَانَ مَذْحَفَصَ، اوپخپله شعبه هم وائی چې (السُّفْیَان اَحْفَظُ مِنِّی) دارنګه امام عجیلی رحمه الله دشعبه په باره کې وائی چې (کَانَ یُخْطِئُ فِیْ أَسْمَاءِ الرِّجَالِ کَثِیْرٌ التَّشَاغُلِه فِيْ حِفْظِ الْمُتُوْنِ) په اسماء الرجالوکې به شعبه رحمه الله ډیر غلطیده او حضرت سفیان رحمه الله لږ، ځکه چې دشعبه رحمه الله تعلق د حفظ دمتونو وؤ نه دسندونو.

**جواب:** دسفیان اوشعبه دواړو توثیق محدثینو اواصحاب الجرح والتعدیل کړیدی اودا دواړه علماء په فن حدیث کې ماهرین فن اوامامان منلی شویدی که دځینو اقوالونه دیوامام لکه سفیان رحمه الله ترجیح ثابتیږي نودبعضو نورو اقوالونه دبل امام لکه دشعبه رحمه الله ترجیح اوافضیلت ثابتیږي پخپله حضرت سفیان ثوری رحمه الله حضرت شعبه رحمه الله ته دامیر المؤمنین في الحدیث لقب ورکړیدی.

دليل په دى كتاب العلل (ص ۳۲۱) دي، امام مسلم رحمه الله وائى چې مَافعَلَ اُستَاذُنَا شعبه رحمه الله. اودارنګه حضرت يحى بن سعيد رحمه الله فرمائى چې كَانَ شُعْبَةُ صَاحِبَ حَدِيْثٍ وَاَعلَمَ بالرِّجَالِ وَكَانَ سُفْيان صَاحِبَ الابواب وَكَانَ اَمَرَمِنْ سُفْيَان فِيْ الْمُتون. كتاب العلل (۲۲۱) وَنَقلَه فِيْ هَذِهِ الصفحه قَالَ عَلِيٌّ اَيُّهُمَا كَانَ اَحْفَظَ الاَحَادِيْثِ الطِّوالِ سُفْيَانُ اَوْشُعْبَة قَالَ كَانَ شُعْبَه اَمَرَّفِيْهَا.

درئيس المحدثين امام احمد بن حنبل رحمه الله مشهوره مقوله ده چې (كان سُفْيَانُ لَهُ دَرَجَةٌ حفظاوكان شعبه اَثْبَتُ مِنْهُ) داكثرو حفاظو رايه داده چې په استنباطاتو كې دحضرت سفيان رحمه الله درجه اوچته ده ليكن داحاديثو الفاظو اومتونو په ضبط حفظ كې دحضرت شعبه رحمه الله درجه اوچته ده اودارنګه ابن القطان روايت دسفيان ضعيف ګرځولى دې اودارنګه دامام احمد رحمه الله نه نقل دى چې اَنَّ شُعْبَةَ اَثْبَتُ وَاَوْثَقُ مِنْهُ وَهُوَاَحْسَنَ حَدِيْثٍ مِنْ الثَّوْرِيِّ يعنى حضرت شعبه رحمه الله اثبت او اوثق دې دسُفْيَان نه، اوډير ښه دې په اعتبارداحاديثو سره دثورى رحمه الله نه، اودرنګه حماد ابن زيد فرمائى چې: (لاَ اُبَالِيْ مَنْ خَالَفَنِيْ اِذَا وَافَقَنِيْ شُعْبَةَ فَاِذَا خَالَفَنِيْ فِيْ شَيءٍ تَرَكْتُهُ). انتهى، يعنى چې كله حضرت شعبه رحمه الله زما موافقت وكړي نوزه بيا دبل چادمخالفت پرواه نه لرم اوكه حضرت شعبه رحمه الله په يوشى كې ماسره مخالفت وكړى نوزه بيا دغه شى پريږدم، اودارنګه قال امام ابرداؤد رحمه الله لَمَّامَاتَ شُعْبَةُ مَاتَ الْحَدِيْثُ قِيْلَ لِاَبِيْ داؤد هُوَاَحْسَنُ الْحَدِيْثِ مِنْ سُفْيَانَ قَالَ لَيْسَ فِي الدُّنْيَا اَحْسَنُ حَدِيْثٍ مِنْ شُعْبَه. يعنى چې كله امام شعبه رحمه الله وفات

شونوامام ابوداؤد رحمه الله وويل چې حديث وفات شول، چاترينه پوښتنه وکړه چې امام شعبه رحمه الله په احاديثوکې ډيرښه وؤدسفيان نه؟ نوامام ابوداؤد رحمه الله فرمائيل چې په دنياکې دشعبه نه څوک زيات ښه په احاديثوکې نه وؤ. امام حاکم رحمه الله وائي چې شعبه اِمَامُ الاَئِمَةِ فِي مَعْرِفَةِ الْحَدِيْثِ بِالْبَصْرَه، امام محمد بن العباس النسائي رحمه الله وائي چې دابو عبدالله احمد بن حنبل رحمه الله نه مي پوښتنه وکړه مَنْ اَثْبَتُ شُعْبَةُ اَوْسُفْيَانُ فَقَالَ كَانَ سُفْيَانُ رَجُلًا حَافِظًا اَوكَانَ رَجُلاً صَالِحًا وَكَانَ شُعْبَةَ اَثْبَتُ مِنْهُ وَاَنْقٰى رَجُلاً، ابوطالب داحمد رحمه الله نه نقل کوی چې شُعبه اَحْسَنُ حَدِيْث مِنَ الثَّوْرِی لَمْ يَكُنْ فِيْ زَمَنِه مِثْلَه فِيْ الْحَدِيْثِ اَحْسَنُ حَدِيْث مِنْهُ، اودارنګه احمد رحمه الله وائي كان شُعْبه اُمَّةً وَحْدَةً فِيْ هٰذَاالشَّانِ اى فِيْ الرِّجَالِ وَبَصَرُه بِالْحَدِيْثِ وَثَبْتِه وَتَنْقِيْتِه لِلرِّجَالِ، اوامام شعبه رحمه الله وائي چي مَارَوَيْتُ عَنْ رَجُلٍ حَدِيْثًا اِلاَّ اَتَيْتَه اَكْثَر مِنْ مَرَّةٍ وَالَّذِى رَوَيْتُ عَنْهُ عَشَرَةً اَتَيْته اَكْثَرَ مِنْ عَشَرِمِرارٍ.

. په دې اقوالو کې دفکر اوسوچ کولو نه پس داخبره ظاهريږي چې شعبه رحمه الله كثير التشاغل، زيات مشغول په حفظ دمتونوکې اوډير اعتبار ور کؤونکی وؤعلم الرجال ته، ډير زيات متقن اومضبوط وؤ په اسانيدوکې اوپه اتصال داسانيدوکې اوزيات تښتيدونکی وؤدتدليس نه، تيزه وه حافظه دده په اوږدو احاديثوکې،احفظ دخپلو رواياتووو، ډيراحتياط کوونکی وؤ په اخذداحاديثوکې دخپلو شيوخونه ددغه وجه نه ډيروامامانو دده حديث ته ترجيح ورکړيده په حديث سفيان

رحمه الله باندې، ددې بیان نه غرض زمونږ سقوط دروایت دسفیان نه دی بلکه ترجیح دروایت دشعبه دې.

بهر حال سفیان رحمه الله اوشعبه رحمه الله دواړه دفن حدیث بې تاجه بادشاهان ګڼل کیږي لیکن دلته دحضرت شعبه رحمه الله روایت دسفیان رحمه الله دروایت نه ډیر زیات راجح دی ددې وجه داده چې حضرت شعبه به تدلیس نه کولو، لاَ عَنِ الثِّقَاتِ وَلاَ عَنِ الضُّعَفَاءِ، نه دثقه راوی نه دضعیف راوی نه، بلکه دده په نزدتدلیس یومکروه اوبد کاروو دده مشهوره مقوله ده (اَنْ اَزِلَّ مِنَ السَّمَاءِ اَحَبُّ اِلَيَّ مِنْ اَنْ اُدَلِّسَ (مقدمه ابن صلاح).

حضرت سفیان به په بعضې اوقاتو کې تدلیس کولو لکه امام ذهبي رحمه الله په المیزان کې وائي چې سُفْیان بن سَعدالْحُجَّةُ الثَّبْتُ مُتَفَقٌ عَلَیْهِ مَعَ اَنَّهُ کَانَ یُدَلِّسُ عَنِ الضُّعَفَاءِ، اودارنګه حافظ ابن حجر رحمه الله په (التقریب) کې وائی رُبَّمَا یُدَلِّسُ اه، دارنګه محدثین حضرت سفیان رحمه الله په مدلسینو کې شماري، حدیث الباب حضرت سفیان رحمه الله په لفظ دعَنْعَنَه سره روایت کوی اوقاعده داده دمدلس عَنْعَنَه مقبوله نه وي اوحدیث الباب حضرت شعبه دغیر مدلس کیدوسره په اخبرنایا حَدَّثَنَا سره روایت کوی.

بهرحال دحضرت سفیان رحمه الله تدلیس مضرخونه دی خومرجوح خامخادی اوکه بالفرض دواړه په یوه مرتبه کې واچول شي بیاهم دحضرت شعبه رحمه الله دروایت معنی ښکاره اوواضحه اوغیر مبهمه اوغیر محتمله ده اودحضرت سفیان رحمه الله روایت ددرې معانیو احتمال لري چې بیان شو.

اوناشناددتعجب خبره داده چه که امین بالجهر سنت وی نوپه دی خوعموم بلوی ده یعنی ټول خلک پری اخته دی سره ددی دامرفوع حدیث حجاز ینوته نه رسیږي ‹اوپه انصارو اومهاجرینوکې هیڅوک روایت نه کوی› مګر دطریق دوائل نه اوحال دادی چې دی کوفی دی اوامام دارقطنی دده په باره کې وائي چې (قَالَ ابوبکره هٰذِهٖ تَفَرُّداهل الکوفه یعنی: دادکوفی دخلکو تعدد اویوځانګړی عمل دی .

## اسباب دغوراوی دحدیث دشبعه رحمه الله په حدیث دسفیان رحمه الله

١. حدیث دشعبه مؤید بالقران دی ځکه امین دعاده اودعابالسراوکراره وی قدبیّنا.

٢. تعامل دصحابه کرامو رضي الله عنهم اوتابعینورحمهم الله موافق دحدیث دشعبه دی ، (کَمَابَیَّنَّا تَفْصِیْلاً) په خپله دسفیان ثوري مذهب اخفاء بالتامین دی ‹امین پټ وئیل›، نوعمل دراوی په خلاف دمَرْوِیه دلیل دنسخ دی ، که چیر ته دامعمول بهااوراجح وې نوسفیان ولې ددی خلاف عمل کوی؟.

٣. دسفیان روایت ضعیف دی ابن القطان المغربی ضعیف ګرځولي دی . ذکره الزیلعی فی التخریج والشوکانی فی نیل الاوطار ‹اوبل ددی وجه نه ضعیف دی چې دی مدلس دی محدثین دی په مدلسینو کې شماری اوشعبه اَبْعَدُ النَّاسِ مِنَ التَّدْلِیْسِ دی دتدلیس نه لری دی ، دده په نزدتدلیس یومکروه اوبدعمل دی ځکه چې دده مشهور مقوله ده چې (اَنْ اَزِلَّ مِنَ السَّمَاءِ اَحَبُّ اِلَیَّ مِنْ اَنْ اُدَلِّسَ) یعنی چې داسمان نه راګذار شم داماته دتدلیس نه غوره ده

۴. بلـه وجـه دتـرجيح داده چې سفيان رحمه الله روايت پـه عَنعَنَه سـره نقل کوی اوقاعده داده چې دمدلس عنعنـه مقبولـه نـه وی اوروايـت دشعبه رحمه الله سـره ددی چې دی مـدلس نـه دی سلـسله بالتحـديث دی (پـه نـذد دامام احمـدو دار قطنـی، ابـوداؤد طيالـسي، کعبی رحمه الله) يعنـی پـه أخبَرنَا اوحَـدَّثَنَا سـره نقـل کـوی اوپـه دې کـې شـک نـشته چې روايـت مـصرح بالـسماع احـق بالتقـديم واولـی بـالترجيح دی بهـر حـال دسـفيان رحمه الله تدليس خومضرنه دی خومرجوح ضروردی.

۵. دحضرت شـعبه رحمه الله روايـت ځکـه راجـح دی چې دد
معنـی صـريح او واضـحه غيـر مبهمـه اوغيـر محتمل
رحمه الله دروايت معنی محتمل دمعانی ثلاثه ده لکه چې

٦. چه حضور عليه السلام امين بالجهر ا
بن حجر رضي الله عنه لوستلی دی کما بينا تفصيلا

دشعبه پـه روايت عمل کولو
راځی سره دسفيان رحمه الله در
معنی ګانی واخستل شـ

٧. علامـه ا

وائي چې

(١) اعر
علقمه والا

التعوذ، بِسْمِ الله الرحمن الرحيم، آمِيْنَ يعنى ابن مسعود رضي الله عنه وايې چې
دري شيان به امام په پټه وايي (۱) اعوذبالله (۲) بسم الله (۳) امين،
اوبياوائي چې قَالَ السُفْيَان رحمه الله (داراوى دحديث دجهر دى) وَاَبُو
حَنِيْفَه رحمه الله يَقُوْلُهَا اى الاَمِيْنَ اَلْاِمَامُ سِرًّا ذَهَبُوْا اِلى تقليد عمروابن
مسعود رضي الله عنه يعنى امام سفيان رضي الله عنه اوامام ابو حنيفه رحمه الله وايې چې امام
به امين په پټه وائى دوي تابعداري دحضرت عمر رضي الله عنه اوابن
مسعود رضي الله عنه کړي ده له وجى دترجيح دحديث دشعبه رحمه الله نه، نوددي
موقوفاتونه معلوميږي چې امين په پټه اولى ده ځکه دادعمر رضي الله عنه، ابن
مسعود رضي الله عنه اوپخپله دسفيان رحمه الله عمل دى.

## دريم دليل داحنافو

**دويم حديث:** دحضرت ابوهريره رضي الله عنه دى.

عَنْ ابى هريره اذَا قَالَ الْاِمَامُ غيرالمغضوب عليهم ولا الضالين فَقُوْلُوْا آمين فَاِنَّه مَنْ وَافَقَ قَوْلَهٗ قَوْلَ الْمَلَائِكَة غُفِرَ لَهٗ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه الحديث (۱)

ترجمه: حضرت ابوهريره رضي الله عنه روايت کوي چې نبى ﷺ وفرمائل چې
کله امام غير المغضوب عليهم ولاالضالين ووائى نوتاسو امين ووائى. (په
دغه وخت کي فرښتي هم امين وائى) پس دچا امين چې دفرشتودامين
سره موافق شي نودهغه مخکنی ټول ګناهونه معاف کيږي

---

بخاري (ص ۱۰۸ ج ۱، نسائى (ص ۹۴ / ج ۱، ابوداؤد ص ۹۴ / ج ۱.

**خلورم دليل داحنافو:** دريم حديث شريف داهم دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه مروى دى.

عن ابى هريره رضي الله عنه اَنْ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ اِذَا قَالَ الْقَارِئُ غَيْرِ المغضوب عليهم ولاالضالين فَقَالَ مَنْ خَلْفَهٗ آمين فَوَافَقَ قَوْ لَهٗ قَوْلَ اَهْلِ السَّمٰوَاتِ غُفِرَلَه مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه[1]

**ترجمه:** حضرت ابوهريره رضي الله عنه فرمايي چې نبي ﷺ وفرمائيل چې کله امام غير المغضوب عليهم ولاالضالين ووائى اومقتديان امين ووائي نوموافق شي دده قول (امين) دفرشتو دقول (امين سره، نومخکني ټول ګناهونه به ئي معاف شي.

**پنځم دليل داحنافو:**

**څلورم حديث:** داهم دحضرت ابوهريره رضي الله عنه نه مروى دى.

عَنْ ابى هريره رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا قَالَ الْاِمَام غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عليهم ولاالضالين فَقَالَ آمين فَوَافَقَ اٰمِيْنُ أَهْلِ الْاَرْضِ آمين اَهْلِ السَّمَاء غُفِرَلِلْعَبْدِ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه مَثَلُ مَنْ لَايَقُوْلُ آمين كَمَثَلِ رَجُلٍ غَزَامَعَ قَوْمٍ فَاقْتَرَ عُوْافَخَرَجَتْ بِهَا سِهَامُهُمْ وَلَمْ يَخْرُجْ سَهْمُه فَقَالَ لِمَ لَمْ يَخْرُجْ سَهْمِيْ فَقِيْلَ اِنَّكَ لَمْ تَقُلْ آمِيْنَ (الحديث)

**ترجمه:** حضرت ابوهريره رضي الله عنه وفرمائيل چې کله امام غير المغضوب عليهم ولاالضالين و وائي اومقتدي امين ووائي نوموافق شى امين دځمکې والادامين اسمان والا ؤسره نومخکني ټول واړه ګناهونه به ئي معاف شي، مثال دهغه چاچه امين نه وايي په شان دهغه سړي دې چې غزا وکړى

---

[1] - رواه مسلم ( ص ۱/۱۷۶.

ديوقوم سره اوبيا داقوم خسنړې واچوی اوددې قوم خسنړې راووځي اوددې غازي خسنړې راونه وځې نوداغازی ووائی چې زما حصه اوخسنړې ولي راونه وتلونو ده ته و وئل شی چې تاامين ونه وئيلو.

**استدلال:** په پورتنی رواياتوکې داحکم دې چې امين به هله وائی کله چې امام ولاالضالين ووائی ددوی امين چې دفرشتودامين سره موافق شی نودټولو ګناهونو دمعاف کيدو خوشخبری اوزيری دې ورنه محرومی اونامرادی ده لکه څنګه چې دغشې دنه راوتلو په مثال کې دې.

**دفرشتو آمين:** پدی احاديثوکې د فکر کولو نه بعد معلوميږي چې دفرشتو په امين کې دری شيان دی (۱) فرشتي فاتحه نه وائي صرف دفاتحي په ختميدو امين وائي (۲) ددوی دامين خاص هغه وخت دې چې کله امام ولاالضالين ووائي هغوی امين ددی وخت نه مخکې اووروسته نه وائی (۳) دهغوي دامين اواز مونږه هيڅکله نه دې اوريدلې نوښکاره خبره ده چې فرشتي په روامين وائی.

## اهل سنت والجماعت ته زيری

مونږه اهل سنت والجماعت ددغه بشارت اوزيری پوره پوره مصداق يوچه په وخت اووصف کې هرقسم زمونږه امين دفرشتو دامين سره موافق دې (۱) څنګه چې فرشتي سوره فاتحه نه وائی مونږه ئي هم نه وايو (۲) فرشتي په ذکرشوی خاص وخت کې امين وائی مونږهٔ هم دغه شان يو (۳) هغوی امين په رو اواز وائي مونږه هم، اوزمونږ په خلاف دغير مقلدينو امين په هيڅ شان دفرشتودامين سره موافق نه دې.

# دغیر مقلدینو نامرادي اوخذلان

څنګه چې غیر مقلدین دقران شریف دذکر شوو ایتونو نه باغیان دي دغه شان په امین ویلو کې یې دفرشتوهم مخالفت کړیدې.

۱. دوی دفرشتو په خلاف په اوچت اوازامین وایي

۲. دوی دامین په وخت کې هم دفرشتوسره متحداوبو ندي څکه چې په جمع کې اکثر مونځ کونکې روسته شریکیږي ، که چیرته غیر مقلدین فاتحه ونه وایي اوداحنافو په شان خاموش ودریدلې ، اوچې کله امام غیر المغضوب علیهم ولاالضالین ووایي اودهغې نه بعد دوی امین ویلی وایي نوبیا فرشتو سره موافقت ممکن وو . لیکن غیر مقلدین چې کله فاتحه شروع کړي او وروسته دراتلو دوجه نه دوی فاتحه نه وي ختمه کړي اوامام امین ووایي اوس که چیرته دوی دفاتحې دختمیدو نه مخکې په مینځ دفاتحه کې امین وای دامام سره یوځای ، نوتحریف دقران شریف لازمیږي ، څکه چې دقران شریف په مینځ کې یې داسې کلمه وویله کومه چې وروسته ویل پکار وه نوغیر مقلدین د (یُحَرِّفُونَ الْكَلِمَ عَنْ مَّوَاضِعِه) مصداق وګرزیدل ، اوکه مقتدي دخپلې فاتحې دختمیدونه بعد امین ووایي نوبیوخودملایکو سره موافقت رانغی . اوبل په اوچت اوازسره دامین ویناپاتي شوه څکه چې مونږ چیرته همداندي اوریدلي چې مقتدي دي باربار دفاتحه دختمیدونه بعدامین امین چغې وهلي وي.

حاصل داچې په اخفاء کې دغیر مقلدین امام اومقتدیان دواړه دملایکو مخالفت کوي اودوخت په باره کې اکثر مقتدیان دفرشتومخالفت کوي نوټوله نامرادي اوخذلان دغیر مقلدینو په برخه ورسیده.

## شپږم دليل داحنافو:

**پنځم حديث: دابوموسى اشعري رضي الله عنه دي.**

عَنْ ابي موسى الاشعري رضي الله عنه فِيْ حَدِيْث طَوِيْل قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله ﷺ اِذَا صَلَّيْتُمْ فَاَقِيْمُوْا صُفُوفَكُمْ ثُمَّ لِيَؤُمَّكُمْ اَحَدُكُمْ فَاِذَاكَبَّر فَكَبِّرُوْ اَوَاِذَا قَالَ غير المغضوب آه فَقُوْلُوْا آمِيْنَ يُجِبْكُمُ الله فَاِذَاكَبَّر وَرَكَعَ فَكَبِّرُوْا وَارْكَعُوْا فَاِنَّ الْاِمَامَ يَرْكَعُ قَبْلَكُمْ وَيَرْفَعُ قَبْلَكُمْ فَقَالَ رَسُوْلُ الله ﷺ فَتِلْكَ بِتِلْكَ قَالَ وَاِذَا قَال سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ فَقُوْلُوْا رَبَّنَالَكَ الْحَمْديُسْمَعُ اَللهُ لَكُمْ (١).

**ترجمه:** حضرت ابوموسى اشعري رضي الله عنه وائي چې نبي ﷺ مونږ ته دجمع طريقه ښودله او وئې فرمائيل چې اول صفونه نيغ کړي بيادى په تاسو کې يوامام جوړ شي بيا چې امام غير المغضوب اه ووائى نوتاسو امين ووائى الله تعالى به تاسو سره مينه اومحبت اوکړى اوبيا چې کله امام تکبير اووائى نوتاسوهم تکبير ووائى اورکوع وکړى ځکه امام تاسونه رکوع مخکى کوى مخکې پورته کيږى اوچې کله امام سمع الله لمن حمده ووائى نوتاسوربنالک الحمد ووائى الله تعالى ئې اورى (الحديث).

## اوم دليل داحنافو:

**شپږم حديث: حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دي.**

عَنْ ابي هريره رضي الله عنه قَالَ قَالَ رَسُوْلُ الله ﷺ اِذَا قَالَ الْاِمَامُ غَيْرِ الْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَاالضَّالِّيْنَ فَقُوْلُوْا آمِيْنَ فَاِنَّ الْمَلَائِكَةَ تَقُوْلُ ا آمِيْنَ فَمَنْ وَافَقَ تَامِيْنَه تَامِيْنَ الْمَلَائِكَةِ غُفِرَلَهُ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه (٢).

---

[1] - رواه مسلم ص ١٧٦/ ج ١.

[2] - رواه احمد، والنسائي والدارمي، واسناد صحيح، اثار السنن ص ٩١/ ج١، ورواه صحيحابن ص ١٩٤/ ج١.

**ترجمه:** حضرت ابوهریره رضی الله عنه فرمائی چې نبی ﷺ وفرمائیل چې کله امام ولاالضالین ووائي نوتاسو امین ووائي ځکه چې ملائکی هم امین وائی امام ئې هم وائي پس دچاامین چه موافق شودامین دملائکو سره نوالله تعالی به ورته مخکنې واړه ګناهونه معاف کړي.

## اتم دلیل داحنافو:

**اووم حدیث:** دحضرت سمره بن جندب رضی الله عنه او دعمران بن حصین رضی الله عنه دي. عَنِ الْحَسَنِ اَنَّ سَمُرَةَ جندب وعمران بن حصين تَذَاكَرَ فَحَدَّثَ سمره بن جندب رضی الله عنه اَنَّهُ حَفظَ عَنْ رَسُوْلِ اللهِ ﷺ سَكْتَتَيْنِ سَكْتَةَ اِذَا كَبَّرَ وَسَكْتَةَ اِذَافَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ غير المغضوب عليهم ولاالضالين فَحَفظَ سَمُره رضی الله عنه وَاَنْكَرَ عَلَيْهِ عمران بن حصين رضی الله عنه فَكَتَبَافِيْ ذَلِكَ اِلى اُبي بن كَعْبٍ فَكَانَ فِيْ كِتَابِهِ اِلَيْهِمَا اَنْ سَمُرَةَ قَدْ حَفِظَ (۱).

**ترجمه:** دحضرت حسن بصری رحمه الله نه روایت دې داوائی چې حضرت سمره رضی الله عنه اوحضرت عمران بن حصین رضی الله عنه خپل مینځکې مزاکره وکړه نوحضرت سمره رضی الله عنه حدیث بیان کړو اووئی فرمائیل چې مادنبی ﷺ نه په لمانځه کې دوه سکتی یادي کړي دي یوه سکته بعد دتکبیر اولی نه (لپاره دثنا اوتعوذ او تسمیي) اودویمه سکته چې کله دفاتحی نه فارغ شو نوحضرت سمره رضی الله عنه دامحفوظ اویاده کړه اوعمران رضی الله عنه انکار اوکړو نودواړو حضراتو پدی باره کې ابی بن کعب رضی الله عنه ته ولیکه (نو حضرت ابی رضی الله عنه ورته واپس خط راولیږه) اوپه خط کې داسې ووچې حضرت سمره رضی الله عنه دادوه سکتی یادي کړیدي.

---

(۱) - رواه بوداؤد ص ۹۷ / ج ۱.

### نهم دلیل داحنافو:

**اتم حدیث: دهمدغه حضرت سمره بن جندب رضی الله عنه دي.**

عَنِ الحسن عَنْ سَمُرَةَ بْنِ جُنْدُب اَنَّهُ كَانَ اِذَاصَلّیٰ بِهِمْ سَكَتَ سَكْتَتَيْنِ اِذَاافْتَتَحَ الصَّلٰوةَ وَاِذَاقَالَ وَلَاالضَّآلِّيْنَ سَكَتَ اَيْضًا هُنَيْئَةً فَاَنْكَرُوْاذٰلِكَ عَلَيْهِ فَكَتَبَ اِلیٰ اُبی بن كعب فَكَتَبَ اِلَيْهِمْ اُبَیٌّ رضی الله عنه اَنَّ الْاَمْرَ كَمَاصَنَعَ سَمُرَةُ رضی الله عنه (١).

**ترجمه:** حضرت حسن رحمه الله دحضرت سمره رضی الله عنه نه روایت کوي چې حضرت سمره رضی الله عنه به کله مونځ کولونو دوه سکتي به ئی کولی یوه په افتتاح دلمانځه کې اوبله کله به ئی چې ولا الضالین ووئیلو نولږ به غلی شو نوصحابه کرامو رضی الله عنهم دانه منله نوپدې باره کې یې ابی بن کعب رضی الله عنه ته خط ولیکه ابی رضی الله عنه ورته په ځوابکې ولیکل چې حکم همدغه دې کوم چې حضرت سمره رضی الله عنه اوکړلو.

### لسم دلیل داحنافو:

**نهم حدیث : دعبدالله ابن مسعود رضی الله عنه روایت:**

عَنْ عَبْدِاللهِ بن مَسْعُوْد رضی الله عنه اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صلی الله علیه وسلم كَانَ اِذَا كَبَّرَسَكَتَ هُنَيْئَةً وَاِذَا قَالَ غَيْرِالْمَغْضُوْبِ عَلَيْهِمْ وَلَاالضَّآلِّيْنَ سَكَتَ هُنَيْئَةً وَاِذَا قَامَ فِی الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ لَمْ يَسْكُتْ وَقَالَ اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ (٢)

**ترجمه:** دحضرت ابن مسعود رضی الله عنه نه روایت دی چې یقینانبی صلی الله علیه وسلم به چې کله تکبیر ووئیلونولږه سکته به ئی اوکړه اودولاالضالین نه بعدبه ئی

---

١ - رواه احمد والدار قطنی واسناد صحیح، آثار السنن.

٢ - رواه ابوبکربن ابی شیبه.

هم سکته کوله اوددویم رکعت په اول کې به ئی سکته نه کوله اوفورا به ئی قرائت شروع کړو الحمدلله به ئي ولوستله

**استدلال:** ددي دريو اړو احاديثو نه معلومه شوه چې نبی ﷺ همیشه دوه سکتې کولي يوداولنې تکبيرنه بعددثناء . تعوذ، اوبسم الله لپاره . اودويمه سکته دولاالضالين نه بعداودولا الضالين نه پس امين وئيل کيږي اودي حديث کې دسکتي لفظ دې ددينه داثابتيږي چې لکه څنګه چې نبیﷺ ثناپه رو اواز سره لوستله دغه شان امين ئی هم په رولوستلو.

مونږه داتپوس کول غواړو چې دولاالضالين نه بعد سکته دامين وئيلو لپاره وه اوکه دبل شي لپاره؟

که دا امين لپاره وه مدعی ثابته شوه چې امين په رو لوستل مسنون دی اوکه داسکته دبل شی لپاره وه نوبعددامين نه وشوه نه بعددوَ لَاالضَّالِّيْنَ نه او حالانکه دحديث الفاظ دی وَاِذَا فَرَغَ مِنْ قِرَاءَةِ وَلَاالضَّالِّيْنَ. ددی وجه نه دروښانه ورځي پښان واضحه شوه چې داسکته دامين وئيلو لپاره وه، په دی احاديثو کې د ‹حَفِظَ› لفظ دې يعني لکه څنګه چې حافظ ته قران ښه يادوي دغه شان حضرت سمرة ﷺ ته دامسئله ښه ياده وه اوحضرت ابی بن کعب ﷺ ددی حکم کړی وو . نوګوياکه دادنبیﷺ حکم هم شو . اوغير مقلدين خود ‹کَانَ اِذَا› نه دوام مرادوی نوددوی په نذرهم تل امين پټ وئيل پکاردی اودامين په اوچت اواز وئيلو سره ددوئيمی سکتي وجود ختميږي . اودسنت مخالفت لازميږي.

## يوولسم دليل داحنافو

**لسم حديث:** عَنْ ابي هريرة انَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ اِذَا قَالَ الْاِمَامُ غَيْرِ المغضوب عليهم ولاالضالين.
فَقُوْلُوْا آمين [۱]

**ترجمه:** نبي ﷺ فرمائي چې كله امام غير المغضوب عليهم ولاالضالين  ووائي نوتاسوامين ووائي.

ددى حديث دالفظ دلالت كوي چې اِذَا قَالَ الْاِمَامُ وَلَاالضَّآلِّيْنَ ځكه چه كه امام امين په لوړاواز وئيلى نوبيا به دحديث عبارت داسې وه چې اذا قَالَ الْاِمَامُ آمِيْنَ فَقُوْلُوْ آمِيْنَ، وَالْحالُ اَنَّهَا لَيْسَ كَذَلِكَ، اوبل حديث نه تقسيم معلوميږى هغه داسې چې امام به فاتحه لولى دادده برخه اوحصه ده اومقتديان به امين وائى داد دوى برخه او حصه ده.

## دولسم دليل داحنافو:

**يولسم حديث دابوهريرة ﷺ روايت:**

عَنْ ابي هريرة ﷺ اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ قَالَ اِذَا قَالَ الْاِمَامُ وَلَا الضالين فَقُوْلُوْا آمِيْنَ فان الْاِمَامَ يقولها (رواه احمد، والنسائى، ابن حبان، واسناده صحيح)

**ترجمه:** حضرت ابوهريره ﷺ وائى چې نبي ﷺ وفرمائيل چې كله امام ولاالضالين ووائي نوتاسى امين ووائي. ځكه امام ئى (په زړه) كې وائي

ددى حديث نه صراحتا معلوميږي چې دامام وظيفه فاتحه ده اودمقتدي امين، اوكه امام وائى هم نوبيا به ئى وائى په پټوالى دامين پدى حديث كې يو لفظ (اذاقَالَ الْاِمَامُ كَمَافِى الْحَدِيْثُ السَّابِقِ)، اوبل لفظ

---

۱ - ص ۱۰۸ / ج ۱ ومسلم ص ج ۱ والترمذي.

فَاِنَّ الْاِمَامَ يَقُوْلُهَا) دلالت كوي يعني امام ئې وائي اګر كه تاسوئي نه اوري اوداجمله صراحت ده پدې خبره چې امام آمين پټ وائي نوچې امام پټ وائي نومقتدي به ئې هم پټ وائي ځکه حديثا لباب دترمذی شريف اصل کې دامام په حق کې راغلي دي.

کله چې رکوع ته ځي نوالله اکبر ويل سنت دي

اودارنګه دهر ښکته کيدو اوپورته کيدو په وخت کې تکبير (الله اکبر) ويل سنت دي.

**دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه مرفوع حديث** : قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يُكَبِّرُ فِيْ كُلِّ خَفْضٍ وَرَفْعٍ وَقِيَامٍ وَقُعُوْدٍ وابوبكر وعمر رضي الله عنهما ([1]).

**ترجمه**: رسول الله ﷺ به دهرو ښکته کيدو، پورته کيدو، ودريدو او کيناستو په وخت کې الله اکبر وئيلو اوابوبکر اوعمر رضي الله عنهما به هم تکبير وئيلو.

**دابوهريرة رضي الله عنه حديث**: كَانَ رسول الله ﷺ اِذَاقَامَ اِلَى الصَّلٰوةِ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَقُوْمُ ثُمَّ يُكَبِّرُ حِيْنَ يَرْكَعُ ([2]).

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله لمانځه ته ودريده نودودريدوپه وخت کې به ئې تکبير ويلو اودرکوع ته دتللو په وخت کې به ئې تکبير ويلو.

**رکوع فرض ده**: الله ﷻ فرمائي چې (يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوا ارْكَعُوْا) ([3]).

**ترجمه**: اې مؤمنانو رکوع وکړي.

**درکوع طريقه**: درکوع ته دتللو په وخت کې رفع اليدين نکول سنت دي.

---

[1] - ترمذی حديث ۲۵۳ نسائی حديث ۱۰۸۳ مسند أحمد ص ۳۸٦ ج ۱ حديث ۳٦٦۰

[2] - بخاری حديث۷۵٦ ،مسلم حديث ۳۹۲ .

[3] - سورة الحج : ۷۷

## رکوع کې لاسونه په زنګونو ایښودل سنت دي، ګوتی به خلاصي وي او لاسونه به داړخونو نه جداوي

**دانس ﷺ حدیث:** یَابُنَیَّ اِذَا رَکَعْتَ فَضَعْ کَفَّیْكَ عَلٰی رُکْبَتَیْكَ وَافْرِجْ بَیْنَ اَصَابعك وَارْفَعْ یَدَیْكَ عَنْ جَنْبَیْكَ (۱).

**ترجمه:** ای بچیه کله چې رکوع کوی نو ورغوی په زنګنونو کیده اوګوتی خلاصی کړه اولاسونه داړخونونه لری کړه.

لاسونه به دلېندی دژی په شان نیغ وی، اوزنګنونه به ئی پری کلک نیولی وي

**دابوحمید ﷺ حدیث:** اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ رَکَعَ فَوَضَعَ یَدَیْهِ عَلی رُکْبَتَیْهِ کَاَنَّهُ قَابِضٌ عَلَیْهِمَا وَوَتَرَ یَدَیْهِ فَتَنَحَاهُمَا عَنْ جَنْبَیْه (۲).

**ترجمه:** رسول الله ﷺ رکوع وکړه نولاسونه ئی په زنګنوکیښوده ګویاکه دواړه زنګنونه ئی کلک ونیول اودواړه لاسونه ئی دلیندی ژی په شان داړخونونه لری وساتل.

**تشریح:** دپورتنی احادیثونه څومسئلی ثابتیږی.

۱. په رکوع کې لاسونه په زنګنونو ایښودل.
۲. ګوتی خورول.
۳. لاسونه داړخونونه لری ساتل.
۴. زنګنونه په لاسونو کلک نیول.

---

۱ - معجم الصغیر للطبرانی حدیث ۳۱۲ حدیث ۸۴۲.

۲ - ترمذی حدیث ۲۶۰ ابوداود ص ۱۱۴ ج ۱ مشکوة ص ۷۶ ج ۱.

په رکوع کې به ملا نېغه اوخوره وي سر به نه ښکته وي او نه پورته.

دابوبرده اسلمی رضی الله عنه حدیث: قَالَ كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا رَكَعَ لَوْصُبَّ عَلَى ظَهْرِهِ مَاءٌ لَاسْتَقَرَّ(١).

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله رکوع کوله نوملا به ئی داسې نیغه وه کچیرته اوبه پری اچول شوی وای نواوبه به پری ودریدلی.

دعائشة رضی الله عنها حدیث اوږ دحدیث دی چې څه برخه داسې ده وَكَانَ اِذَارَكَعَ لَمْ يَشْخَصْ رَاسَهُ وَلَمْ يُصَوِّبه وَلٰكِنْ بَيْنَ ذَالِكَ (٢).

ترجمه: کله به چې رسول الله ﷺ رکوع کوله نوسرئی نه پورته کولو اونه به ئی ښکته کولو بلکه ددی په مینځ کې وه.

دابومسعود انصاری رضی الله عنه حدیث. قَالَ رسول الله ﷺ لَاتُجْزِئ صَلٰوةَ الرَّجُلِ حَتّٰى يُقِيْمَ ظهْرَه فِى الرُكُوْعِ.

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمائی چې تر هغې دسړی لمونځ نه رواکیږي ترڅوملا نیغه کړی (٣).

دبراء بن عازب رضی الله عنه حدیث: كان النبى ﷺ اِذَا رَكَعَ بَسَطَ ظهْرَهُ، وَاِذَاسَجَدَ وَجَّهَ اَصَابِعَهُ الْقِبْلَة (٤).

---

١ - طبرانی فی الکبیر عن ابن عباس ١٦٧ ج ١٢ حدیث ١٢٧٨١ فی الاوسط ٥٦٧٦ فی الصغیر ص ٣٢ عن انس رضی الله عنه ابن ماجه ٨٧٢ مجمع الزوائد ص ١٢٣ ج ٢.

٢ - مسلم ٤٩٨ ابوداود ٧٨٣ ابن ماجه ٨٤٩.

٣ - ابوداود ص ١٣١ ج ١ ترمذی ص ٣٦ ج ١ مشکوة ص ٨٢.

٤ - نصب الرایه ص ٣٧٤ ج ١، اعلاء السنن ص ١١ ج - ٣

ترجمه: نبي ﷺ به چې رکوع کوله نو ملابه ئې خوره کړه، اوچې کله به ئې سجده کوله نودلاسونو گوتې به ئې قبلې ته کړې.

درکوع تسبیح: درکوع تسبیحات سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْم دی دلاندی احادیثوپه رڼاکې

اول حدیث دعقبه بن عامر رضی الله عنه: قَالَ لَمَّانَــزَلَتْ فَسَبِّح بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِیْمِ قَالَ لَنَارَسُولُ اللهِ ﷺ اجْعَلُوْهَا فِیْ رُكُوْعِكُمْ (۱).

ترجمه: عقبه بن عامر جهنی رضی الله عنه فرمائی چې کله دا ایت نازل شوچې (فَسَبِّحْ بِاسْمِ رَبِّكَ الْعَظِیْمِ) نو رسول الله ﷺ مونږته وفرمایل چې دادرکوع تسبیح وگرزوی.

دوهم حدیث دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه: قــال رســول الله ﷺ اِذَارَكَعَ اَحَدُكُمْ فَقَالَ فِیْ ركوعه (سبحان ربی العظیم) ثلاث مَرَّات فَقَدْ تَمَّ رُكُوْعه وَذَالِكَ اَدْنَاهُ (۲).

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمائي چې کله یوستاسې نه رکوع کوي اوپه رکوع کې (سبحان ربی العظیم) درې ځله ووایه نورکوع ئې پوره شوه اودادری ځله ویل کمه اندازه ده.

یوبل حدیث دحذیفه رضی الله عنه دی چې نبی علیه السلام به په رکوع کې سُبْحَانَ رَبِّیَ الْعَظِیْمَ اوپه سجده کې سُبْحَانَ رَبِّیَ الْاَعْلٰی لوستلو (۳).

---

۱- ابوداود ص ۱۳۳ ج ۱ ابن ماجه عـ ۸۸۷، مشکوة ص ۸۲ ج ۱ مسنداحمد ص ۱۵۵ ج ۴ ۱۷۴۵ مستدرك عـ ۲۴۷.

۲- ترمذی ص ۳۵ ج ۱ ابن ماجه مشکوة ص ۸۳.

۳- ترمذی ۲۶۳.

## د رکوع او سجدې تسبیح درې ځله ویل سنت دي:

**اول حدیث:** د عبدالله بن مسعود ﷺ حدیث: چې مخکې تیر شو.
**دویم حدیث د ابوبکرة ﷺ:** اَنَّ رَسُوْلَ اللهِ كَانَ يُسَبِّحُ فِيْ رُكُوْعِهٖ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ ثَلَاثًا وفِي سُجُوْدِهٖ سُبْحَانَ رَبِّيَ الْاَعْلٰى ثَلَاثًا ([1]).
**ترجمه:** رسول الله ﷺ به په رکوع کې سُبْحَانَ رَبِّيَ الْعَظِيْمِ درې ځله لوستله او په سجده کې ئې سبحان ربي الاعلى درې ځله لوستله.

## د رکوع او سجدې تسبیح درې ځله نه زیات هم ویلی شي:

اول حدیث د عبدالله بن مسعود ﷺ: ان رسول الله ﷺ قَالَ اِذَا رَكَعَ اَحَدُكُمْ فقال فِيْ رُكُوْعِهٖ سبحان ربي العظيم ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْتَمَّ رُكُوْعُهُ وَذَالِكَ اَدْنَاهُ ([2]).
**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائي چې کله یو ستاسې نه رکوع کوي او په رکوع کې سبحان ربي العظيم درې ځله ووائي نو رکوع ئې پوره شوه او دا درې ځله ویل کمه اندازه ده.
**مسئله:** په رکوع او سجده کې درې درې ځله تسبیحات ویل کمه اندازه ده پنځه ځله ویل درمیانه او مینځمې درجه ده او وه (۷) ځله اعلى درجه او اندازه ده ([3]).

---

[1] - رواه البزار ص ۱۳۳ ج ۹ عـ ۳٦۸٦ طبراني في الكبير ص ۱۳۵ ج ۲ عـ ۱۵۷۲، مسند احمد ص ۳۸۲ ج ۵ عـ ۲۳۲۸۸.
[2] - ترمذي ص ۳۵ ج ۱ ابوداود ص ۱۳٦ ج ۱.
[3] - مرقات شرح مشکوة ص ۳۱۵ ج ۱

## رکوع په ارام سره کول واجب دی

دابوهریرة ﷺ مرفوع حدیث : رسول الله ﷺ یوصحابی ته دلمانځه تعلیم ورکولو او ورته ئی وفرمایل چې ثُمَّ ارْكَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ رَاكِعًا ( [1] ).

ترجمه: بیا په ارام اواطمنان سره رکوع وکړه.

رکوع پوره نه کول ډیره خرابه غلاده
په دې باره کې حدیث مخکې تیر شو

## رکوع نه روسته پوره نیغ ودریدل واجب دی

دابوهریرة ﷺ اوږدحدیث چې نبی علیه السلام یواعرابی (باندچې) ته دلمانځه تعلیم ورکولو اوورته ئی فرمائی چې ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَعْتَدِلَ قَائِمًا بیادرکوع نه سرپورته کړه تردی چې ښه پوره ودریږی ( [2] ).

## رکوع نه دپورته کیدو په وخت کې تسمیع اوتحمیدویل سنت دي

**ابوهریرة ﷺ حدیث** : كَانَ النَّبِيُّ ﷺ اِذَاقَالَ سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ قَالَ اَللّٰهُمَّ رَبَّنَاوَلَكَ الْحَمْدُ ( [3] ).

**ترجمه:** نبی ﷺ به چې کله سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وویل نو اَللّٰهُمَّ رَبَّنَاوَلَكَ الْحَمْدُ ئی وئیل

[1] - بخاری ص ۱۰۵ ج ۱ مسلم ص ۱۰۷ ج ۱.

[2] - ابوداود ۸۵۶.

[3] - بخاری ص ۱۰۹ ج ۱.

**دویم حدیث دابوهریره ﷺ**: كَانَ رسول الله ﷺ اذاقَامَ الى الصَّلوة يُكبِرُ حِيْنَ يَقُوْمُ ثم يُكبِرُ حِيْنَ يَرْكَعُ ثُمَّ يَقُوْلُ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَهُ يَرْفَعُ صُلْبَه مِنَ الرُّكُوْعِ ثم يَقُوْل وَهُوَقَائِمٌ (رَبَّنَالَكَ الْحَمْدُ) (١).

**ترجمه**: رسول الله ﷺ به چې کله لمانځه ته ودریده نوالله اکبر به ئې وویل بیابه ئې درکوع په وخت کې هم الله اکبر ووایه بیابه ئې سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَهُ وویل اوملابه ئې درکوع نه نیغه کړه بیابه ئې په ولاړه رَبَّنَالَكَ الْحَمْدُ وویل

## منفرد او امام به سَمِعَ اللهُ لِمَنْ حَمِدَه رَبَّنَالَكَ الْحَمْدُ دواړه وائی

**دابوهریرة ﷺ مرفوع حدیث**: كَانَ النبيَ ﷺ اذا قَالَ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِده قَالَ اللّٰهُمَّ رَبَّنَاوَلَكَ الْحَمْدُ (٢).

**ترجمه**: نبی علیه السلام به چې کله سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِدَه وویل بیابه ئې اللهم ربناولک الحمد هم ووئیل

**مقتدی به یواځې تحمیدوائی دابوهریرة ﷺ حدیث**: قَالَ رَسُولُ الله ﷺ اذا قَالَ الْامامُ سَمِعَ الله لِمَنْ حَمِده فَقُوْلُوْا اللّٰهُمَّ رَبَّنَا وَلَكَ الْحَمْدُ فَانَّه مَنْ وَافَقَ قَوْلُهُ قَوْلَ الْمَلائِكَةِ غُفِرَلَهُ مَاتَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِه (٣).

---

١ - بخاری ٧٨٩.

٢ - بخاری ص ١٠٩ ج ١.

٣ - بخاری ص ١٠٩ ج ١ مسلم ص ١٧٦ ج ١ مشكوة ص ٨٢ ج ١.

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمائی چې کله امام سَمِعَ اللّٰهُ لِمَنْ حَمِدَهٗ ووائی نوتاسو (ای مقتدیانو) اَللّٰهُمَّ رَبَّنَاوَلَكَ الْحَمْدُ ووائی دچاویناچې دملائکو دوینا سره موافقه شوه نوالله ﷻ به ئی مخکنې ټولې (وړی) ګناوی وبښی.

## لاسونه پورته کول (رفع الیدین) نشته

### درکوع نه پورته کیدو په وخت کې رفع الدین نشته.

اول حدیث دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه: اَلَااُصَلِّیْ بِکُمْ صَلٰوةَ رَسُوْلِ اللّٰهِ ﷺ فَصَلّٰی فَلَمْ يَرْفَعْ يَدَيْهِ اِلَّافِیْ اَوَّلِ مَرَّةٍ (۱).

**ترجمه:** عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وفرمایل چې ایازه تاسوته درسول الله ﷺ لمونځ ونکړم، نولمونځ ئی وکړ نودتکبیر اولی نه سوایل ځائی کې رفع الیدین ونکړل

**دویم دجابربن سمرة رضي الله عنه مرفوع حدیث:** قَالَ خَرَجَ عَلَيْنَا رَسُوْلُ اللّٰهِ ﷺ فَقَالَ مَالِیْ اَرَاکُمْ رَافِعِیْ اَيْدِيْکُمْ کَاَنَّهَا اَذْنَابُ خَيْلٍ شُمْسٍ، اُسْکُنُوْا فِی الصَّلٰوةِ (۲).

**ترجمه:** جابربن سمرة رضي الله عنه فرمائی چې رسول الله ﷺ مونږ ته راووت مونږه په لمانځه ولاړ وو اورفع الیدین موکولو نورسول الله ﷺ

---

۱ - ابوداود ۷۴۸ نسائی حدیث ۱۰۵۸ مصنف ابن ابی شیبه ص ۲۱۳ ج ۱ مسند احمد ص ۳۸۸ ج ۱ حدیث ۳۶۸۱ بیهقی فی السنن الکبری ص ۷۸ ج ۲ حدیث ۲۳۶۳.

۲ - مسلم حدیث ۴۳۰ ابوداود حدیث ۱۰۰.

وفرمایل چې څه دی مالره چې وینم تاسې چې لاسونه پورته کوي لکه دمستو اسونولکۍ په مانځه کې په ارام شی.

**دریم حدیث دعبدالله بن عمر رضي الله عنه.**

قال رَئَیْتُ رَسُوْلَ اللهِ ﷺ افْتَتَحَ الصّلٰوۃَ رَفَعَ یَدَیْهِ حَتّٰی یُحَاذِیْ بِهِمَا مَنْکَبَیْهِ ........وَاِذَا اَرَادَ اَنْ یَرْکَعَ وَبَعْدَ مَایَرْفَعُ رَاْسَهُ مِنَ الرُّکُوْعِ لَایَرْفَعُهُمَا ([1]).

**ترجمه:** عبدالله بن عمر رضي الله عنه وائی چې مارسول الله ﷺ ولیده چې کله ئی په لمانځه شروع کوله نولاسونو پورته کړل تردی چې اوږوپوری ئی برابر کړل اوچې کله ئی اراده درکوع کولو وکړه او دارنګه روسته دپورته کولو دسردرکوع نه ئی رفع الیدین ونکړل.

**څلورم حدیث دبراء بن عازب رضي الله عنه:** کَانَ النبی ﷺ اِذَا کَبَّرَ لِافْتِتَاحِ الصَّلٰوۃِ رَفَعَ یَدَیْهِ اِلٰی قَرِیْبٍ مِنْ اُذُنَیْهِ ثُمَّ لَا یَعُوْدُ ([2]).

**ترجمه:** نبی ﷺ به چې کله تکبیر افتتاح کولو نو لاسونه به ئی ترغوږونو پورته کړل بیائی دوباره لاسونه نه پورته کول.

**پنځم دابوهریرة رضي الله عنه مرفوع حدیث:** کَانَ رسول الله ﷺ اِذَ دَخَلَ فِی الصَّلٰوۃِ رَفَعَ یَدَیْهِ مَدًّا ([3]).

---

[1] - صحیح ابوعوانه ص ۹۰ ج ۲ مسند حمیدی ص ۲۷۷ ج ۲.

[2] - ابوداود ص ۱۱٦ ج ۱ طحاوی دارقطنی، مصنف ابن ابی شیبه.

[3] -ابوداود ص ۱۱٤ ج ۱ نسائی ابن ماجه.

**ترجمه:** رسول الله ﷺ به چې کله په لمانځه کې داخليده نولاسونه به ئې ښه پورته کړل (نودلته يوځل لاسونه پورته کول راغلي دي يوائې دتکبير اولی په وخت کې).

## خلفاء راشدينو رفع اليدين نه کول

**دعبدالله بن مسعود ﷺ مرفوع حديث** قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رَسُوْلِ الله ﷺ وابي بكر وعمر (رضى الله عنهما) فَلَمْ يَرْفَعُوْا اَيْدِيْهِمْ اِلاَّ عِنْدَ اِسْتِفْتَاحِ الصَّلوٰةِ ([1]).

**ترجمه:** عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائي چې مارسول الله ﷺ اوابوبکر اوعمر ﷺ پسې لمونځ وکړ نودوی رفع اليدين نه کول مګر په شروع دلمانځه کې.

**اول اثر:** ابوبکر ﷺ به رفع اليدين نه کول ددی بيان مخکې تيرشو.

**دويم اثر عمرفاروق ﷺ:** رفع اليدين نه کول مخکې روايت نه هم معلومه شوه او دويمه حواله هم وړاندی کوو عن الاَسْوَدِ قَالَ: رَئَيْتُ عمربن الخطاب يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِيْ اَوَّلِ تكبيرةٍ ثُمَّ لاَيَعُوْدُ ([2]).

**ترجمه:** ددی بيان مخکې روايت کې وشو مشهور تابعي اومحدث امام اسود رحمه الله فرمائي چې ماعمر ﷺ وليده چې لاسونه ئې په اول تکبير کې پورته کړل بيائې رفع اليدين ونکړل.

---

[1] -دارقطني بيهقي، کامل ابن عدی.

[2] - طحاوی ص ۲۲۷ ج ۱ مصنف ابن ابی شيبه

**صحت اوضعف:** (۱)حافظ ابن حجر فرمائی چې رِجَالہٖ ثقاتٌ (راویان ئی ټول ثقه اوقوی دی)([1]).

(۲) امام ماردینی رحمه الله لیکی چې صَحِیْحٌ عَلیٰ شَرْطِ مُسْلِمٍ (دامام مسلم په شرط برابردی)

الجوهر النقی صـ ۷۵ ج ۲ (۳) امام عینی رحمه الله فرمائی چې (اِسْنَادٌ صَحِیْحٌ) سند صحیح دی عمدة القاری شرح بخاری صـ ۲۷۳ ج ۵. (۴) امام طحاوی رحمه الله فرمائی چې حدیث صحیح (طحاوی صـ ۳۳ ج ۱.

**دریم اثر علی رضی الله عنه به رفع الیدین نه کول:** انَّ عَلَيًّا كَانَ يَرْفَعُ يَدَيْهِ فِيْ أَوَّلِ تَكْبِيْرَةٍ مِنَ الصَّلٰوةِ ثم لَايَرْفَعُ بَعْدُ ([2]).
علی رضی الله عنه به یواځې او یواځې په لمانځه کې داول تکبیر سره لاسونه پورته کول بیائې دوباره لاسونه نه پورته کول.
**صحت اوضعف:** (۱) رِجَالہ ثِقَاتٌ (الدرایه صـ ۵۲ ج ۱) (۲) اثر صحیح (نصب الرایه صـ ۲۱۶ ج ۱) (۳) صحیح علی شرط مسلم (عینی شرح البخاری صـ ۲۷۴ ج ۵).

---

[1] - الدرایه ص ۱۵۲ ج ۱

[2] - طحاوی ص ۲۲٤ ج ۱ مصنف ابن ابی شیبه ص ۲۱۳ ج ۱. بیهقی ص ۲۱٤ ج ۱ حدیث ۲٤٤٦ فی السنن الکبری.

**څلورم اثر دعلي ﷺ اوعبدالله بن مسعود ﷺ ملګرويه رفع اليدين نکول:** كَانَ اَصْحَابُ عبدالله واصحاب علي ﷺ لاَ يَرفَعُوْنَ اَيْدِيَهِمْ اِلاَّ فِى اِفْتِتَاحِ الصَّلوٰة ثُمَّ لاَ يَعُوْدُوْنَ (١).

**ترجمه:** دابن مسعود اوعلي ﷺ ملګرو اوشاګردانو به رفع اليدين نکول.

دپورتني منشلي په باره کې (وهابيانوته ډالۍ) په نامه کتاب دکتني وړدی.

**يادونه:** درکوع نه دپورته کيدونه روسته په قومه کې ځينې دعاوې شته چې په احاديثوکې ثابتې وي البته غوره داده چې په نفل لمانځه کې وشي اوکه فرض لمانځه کې وشي نوهم ثواب دی ليکن دامام نه زياتونه نده پکار امام چې څه وائي په هماغه اندازه ويناپکارده.

## دسجدې کولو طريقه

سجده فرض ده الله ﷻ فرمائي چې وَاسْجُدْ وَاقْتَرِبْ۩.

**ترجمه:** اوسجده کوي اوالله ته ځان نزدې کړی.

**دابوهريرة ﷺ مرفوع حديث:** قال رسول الله ﷺ اَقْرَبُ مَايَكُوْنُ الْعَبْدُ مِنْ رَّبِّه وَهُوَ سَاجِدٌ (٢).

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائي چې بنده الله ﷻ ته زيات نزدې دسجدې په حالت کې وي.

## سجدې ته دتللو په وخت کې الله اکبرويل سنت دي

قَالَ كَانَ رسول الله ﷺ يُكَبِّرُ فِىْ كُلِّ خَفْضٍ وَرَفْعٍ وَقِيَامٍ وَقُعُوْدٍ (٣).

---

١ - مصنف ابن ابی شيبه ص ٢١٤ ج ١ حديث ٢٤٤٦.

٢ - مسلم ص ١٩١ ج ١ مشکوة ص ٨٤ ج ١.

٣ -ترمذی حديث ٢٥٣ مسنداحمد ص ٣٨٦ ج ١

ترجمه: رسول الله ﷺ به په هروښکته کيدو اوپورته کيدو اوودريدو او کيناستوکې الله اکبر وئيل.

**سجدی ته دتللو په وخت کې اول زنګنونه په ځمکه ایښودل بیا لاسونه**

اول حديث: عَنْ وَائلٍ ﷺ قَالَ رَئَيْتُ رسولَ اللهِ ﷺ اِذَا سَجَدَ وَضَعَ رُكْبَتَيْهِ قَبْلَ يَدَيْه، وَاِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْه قَبْلَ رُكْبَتَيْه (١).

ترجمه: وائل ﷺ فرمائی چې مارسول الله ﷺ وليده چې کله ئی سجده کوله نو زنګنونه ئی مخکې دلاسونو نه کيښود اوکله چې پورته کيده نولاسونه ئی پورته کړل مخکې دزنګنونو نه.

يادونه: (١) په پورتني مضمون يو حديث دانس ﷺ په روايت دارقطني، بيهقي، مستدرک حاکم کې هم ذکردی(٢) اودعمر ﷺ په روايت په مصنف عبدالرزاق، ابن المنذر، طحاوی کې ذکردی.

دويم حديث دعمر ﷺ: اَنَّه خَرَّ بَعْدَرُكُوعِهِ عَلىٰ رُكْبَتَيْهِ كَمَايَخِرُّ الْبَعِيْرُ وَوَضَعَ رُكْبَتَيْه قَبْلَ يَدَيْه (٢).

ترجمه:نبی ﷺ به پس درکوع نه په زنګنونو کيناسته لکه اوښ چې کيني نواول به ئی زنګونه کيښود اوبيالاسونه.

يادونه: په ځينو احاديثوکې اول زنګنونه ایښودل راغلی دی داپه حالت دعذر بناء دی (٣)

---

[1] - ترمذی حديث ٢٦٨ ابود اودحديث ٨٣٨ نسائی حديث ١٠٨٩ دارمی ١٣٢٠ صحيح ابن حبان حديث ٢٣٧ ج ٥ ص ١٩١٢ ابن ماجه ص ٨٨٢.

[2] -طحاوی ص ٢٥٦ ج ١ کنزالعمال حديث ٢٢١٩٨.

[3] -معارف السنن ص ٣١ ج ٣.

## سجده ددواړو لاسونه په مینځ کې سنت ده

اول حدیث دوائل بن حجر رضي الله عنه: اَنَّ رسول الله ﷺ لَمَّا سَجَدَ وَضَعَ وَجْهَه بَيْنَ كَفَّيْه (١).

ترجمه: بیشکه رسول الله ﷺ به چې کله سجده کوله نومخ به ئې ددواړو ورغوو (لاسونو) مینځ کې کیښود.

دویم حدیث دبراء بن عازب رضي الله عنه: عَنْ اَبِي اسحاق قَالَ: سَأَلْتُ براء بن عازب رضي الله عنه اَيْنَ كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يَضَعُ جَبْهَتَهُ اذا صلىَ؟ قَالَ: بَيْنَ كَفَّيْه (٢)

ترجمه: ابواسحاق رحمه الله فرمائی چې ما دبراء بن عازب رضي الله عنه نه پوښتنه وکړه چې نبی ﷺ به په لمانځه کې تندی چیرته ایښودو؟
براء بن عازب رضي الله عنه فرمائی چې نبی ﷺ به ددواړو ورغوو په مینځ کې تندی کیښود

## په سجده کې لاسونه دغوږو نوبرابری کې ایښودل سنت دی.

دوائل بن حجر مرفوع حدیث قال رَمَقْتُ النبی ﷺ فَلَمَّا سَجَدَ وَضَعَ يَدَيْه حذاءَ اُذْنَيْه (٣).

---

١ - مسلم صحيح ابن حبان ص ١٧٤ ج ٥ حديث ١٨٦٢.

٢ -طحاوی ص ٢٥٧ ج ١.

٣ -طحاوی ص ١٥١ ج ١ مصف عبدالرزاق ص ٧٥ ج ٣ نصب الرايه ص ٣٨١ ج١ طبرانی فی المعجم ص ٣٤ ج ٢٢، مسنداحمد ص ٣١٧ ج ٤ حديث ١٨٨٧٨ نسائی حديث ١٢٦٥، واسناده صحيح.

ترجمه: وائل بن حجر ﷺ فرمائی چې ما نبی ﷺ ته (په لمانځه کې) دستر ګوپه کنج کې وکتل چې کله ئې سجده کوله نولاسونه دغوږونو په برابری کې کیښودل.

## دسجدی په حالت کې څنګلی داړخونو نه لری کول سنت دی

دعبدالله بن مالک ابن بحینه ﷺ مرفوع حدیث: قَالَ كَانَ رسولُ اللهِ ﷺ يُجَنِّحُ فِيْ سُجُوْدِهِ حَتّٰى يُرٰى وضحُ ابْطَيْهِ (۱).

ترجمه: رسول الله ﷺ به په سجده کې وزری (لاسونه) خلاص کړل تردي چې دتخر ګونو سپینوالی به ئی لیدل کیده

دویم حدیث دهمدی عبدالله بن مالک ﷺ بل حدیث په لاندی الفاظو نقل شویدی: كَانَ النبي ﷺ اذَا سَجَدَ فَرَّجَ بَيْنَ يَدَيْهِ حَتّٰى يَبْدُوْ بَيَاضُ اِبْطَيْهِ (۲).

ترجمه: نبی ﷺ به چې کله سجده کوله نولاسونه به خلاص کړل تردي چې دتخر ګونو سپینوالی به ئی ښکاره شو.

## دسجدی په حالت کې څنګلی دځمکی نه پورته کول سنت دی.

دبراء بن عازب ﷺ مرفوع حدیث: قَالَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ اِذَا سَجَدْتَ فَضَعْ كَفَّيْكَ وَارْفَعْ مِرْفَقَيْكَ (۳).

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمائی چې کله ته سجده کوي نو کیده ورغوی په ځمکه او څنګلي دځمکې نه پورته ونیسه.

---

۱- بخاری حدیث ۳۹۰ مسلم حدیث ۴۹۵.

۲- مسلم ص ۱۹۴ ج ۱ مشکوة ص ۸۳.

۳- مسلم ص ۱۹۴ ج ۱ مشکوة ص ۸۳.

دانس ﷺ مرفوع حديث وَلاَ يَبْسُطُ اَحَدُكُمْ ذِرَاعَيْهِ انْبِسَاطَ الْكَلْبِ.

ترجمه: ندي خوروي څنګلي يوستاسي نه دسپي دخورولو په څير.

## دسجدى په حالت كې به ګيډه دورنونونه لرى وى

اول حديث دميمونه رضي الله عنها: اَنَّ النَّبِي ﷺ كَانَ اِذَا سَجَدَ جَافى لَـوْ شَائَتْ بُهْمَةٌ اَنْ تَمُرَّ بَيْنَ يَدَيْهِ لَمرَّتْ (١)

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې كله سجده كوله ورنونه اوخيته به ئى خلاصه وه كچيرته يو وړوكى ورغومى (دووزى ياورى بچى) به تيريدل غوښتل نودلاسونو په مينځ كې به دسجدى په حالت كې تيريدى شو.

دويم حديث اواثردعمر ﷺ عَنْ اٰدَمَ بن على البكرى (رح) قال: رَانِـــىْ عمر ﷺ وَاَنَا اُصَلّى لاَاَتَجَافى عَنِ الارض لِزَرَاعِىْ فَقَالَ يَابْنَ اخـــى لاتُبْسِطْ بَسْطَ السَّبْعِ وَادُّعِمْ عَلى رَاحَتَيْكَ وَابْدِ ضَبْعَيْكَ (٢)

ترجمه: ادم بن على (رح) فرمائى چې زه عمر ﷺ په لمانځه وليدم چې څنګلى مى ځمكي نه پورته كولى نو راتـه وئى فرمايل چې اى وراره دځناور پـه څير به ځمكه لاسونه مه خور وه بلكه تكيه پـه ورغوو ولږ وه او څنګلى لرى وساته.

---

١- مسلم حديث ٣٩٦، نسائى حديث ١١٠٩.

٢- صحيح ابن حبان حديث ٢٤٢ مصنف عبدالرزاق ص ١٧٠ ج ٢، مجمع الزوائد ص ١٢٦ ج ٢ مستدرك ص ٣٥٠ ج ١.

## په اوه اندامونه سجده کول

دابن عباس رضی الله عنه مرفوع حدیث: قَالَ قَالَ النبی ﷺ اُمِرْتُ اَنْ اَسْجُدَ عَلٰی سَبْعَةِ اَعضَاءٍ (۱) عَلَی الْجَبْهَةِ (۲) وَاَشَارَ بِیَدِه عَلٰی اَنْفِـهِ (۳) وَالْیَدَیْنِ (۴) وَالرُّکبتین (۵) وَاَطرافِ الْقَدَمَیْنِ ([1])

ترجمه: ابن عباس رضی الله عنه فرمائي چې نبی علیه السلام وفرمایل چې ماته امرشوی چې په اوه اندامونه سجده وکړم (۱) تندی (۲) پوزه (۳) (۴) دواړه لاسونه (۶) دواړه زنګنونه (۷) دواړه خپو ګوتی.

### په سجده کې به دلاسونو ګوتی پیوست اوجوختی وی

دابوحمیدالساعدی رضی الله عنه حدیث: قَالَ: رَأَیْتُ رسولَ الله ﷺ اذا سَجَدَوَضَعَ یَدَیْهِ غَیْرَ مُفْتَرِشٍ وَلَاقَابِضَهُمَاوَاسْتَقْبَلَ بِاَطْرَافِ رِجْلَیْهِ الْقِبْلَةَ ([2]).

ترجمه: ما رسول الله ﷺ ولیده چې کله به ئی سجده کولو لاسونه به د ئی کیښودل چې ګوتی به خلاصی اوراټولی نه وی اودخپو ګوتی به ئی قبلي طرفته کړي.

### په سجده کې به دخپوګوتي قبلي طرف ته وي.

دابوحمیدالساعدی رضی الله عنه مرفوع حدیث وَاسْتَقْبَلَ بِاَطْرَافِ رِجْلَیْهِ الْقِبْلَةَ ([3]).

---

[1] - بخاری حدیث ۸۱۶ مسلم حدیث ۴۹۰ مشکوة ص ۸۳ ج ۱.

[2] - بخاری حدیث ۷۹٤.

[3] - بخاری حدیث ۷۹٤.

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله سجده کوله نودخپو ګوتی به ئې قبلي ته کړي.

## دسجدی تسبیحات

**دعقبه بن عامر ﷺ حدیث** قَالَ لَمَّانَزَلَتْ سَبِّح اسم ربك الاعلى قَالَ رسول الله ﷺ اِجْعَلُوْهَا فِیْ سُجُوْدِ کُمْ (۱).

**ترجمه:** عقبه بن عامر ﷺ فرمائی چې هر کله (سَبِّحِ اسْمِ رَبِّكَ الْاَعْلٰی) نازل شو رسول الله ﷺ وفرمایل چې داتسبیح په لمانځه کې وګرزوي

**دعبدالله بن مسعود ﷺ حدیث** قَالَ رسول الله ﷺ وَاِذَاسَجَدَ فَقَالَ فِیْ سُجُوْدِهٖ سُبْحَانَ رَبِّیَ الاعلی ثَلَاثَ مَرَّاتٍ فَقَدْ تَمَّ سُجُوْدُهُ وَذَالِكَ اَدْنَاه (۲).

**ترجمه:** رسول الله ﷺ فرمائی چې چاسجده وکړه او په سجده کې (سبحان ربی الاعلی) درې ځله ولوست نو دده سجده پوره شوه اودادری ځله کمه اندازه ده.

**یادونه:** په احادیثوکې دسجدی نورتسبیحات هم راغلی دي لوستل ئې ثواب لری خوپورتنی تسبیح دقران شریف داحادیثواودصحابه کرامو ﷺ دمعمولاتوسره زیات موافق دي.

---

[1] -ترمذی، ابوداود ص ۱۳۳ ج ۱ مشکوٰة ص ۸۳ ج ۱، ابن ماجه.

[2] -ترمذی ص ۳۵ ج ۱ ابوداود ص ۱۳۶ ج ۱ مشکوٰة ص ۸۳ ج ۱ ابن ماجه.

## جلسه (د دووسجدوپه مینځ کې ناسته) په اطمنان سره

دابوهریرة رضی الله عنه مرفوع حدیث: اوږد حدیث دی نبی علیه السلام یوبانده چې ته دلمانځه تعلیم ورکولو اوورته ئی وفرمایل چې بیاسر دسجدی نه پورته کړه تردی چې په ارام سره کینی.

ثُمَّ ارْفَعْ حَتَّى تَطْمَئِنَّ جَالِسًا [1].

**ترجمه**: بیا سردسجدی نه پورته کړه تردی چې په ارام سره کینی.

## ددواړو سجدوپه مینځ کې د ناستی طریقه

گسه (چپه) خپه څملول اوپرې کیناستل اوښی خپه ودرول

**دعائشه رضی الله عنها حدیث**: كَانَ رسولُ اللهِ ﷺ يَفْرُشُ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَنْصِبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى [2].

**ترجمه**: رسول الله ﷺ به چپه خپه وغوړوله اوښی خپه به ئی ودروله.

**دابوحمید الساعدی رضی الله عنه مرفوع حدیث**: وَيَثْنِیْ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَيَقْعُدُ عَلَيْهَا [3].

**ترجمه**: چپه خپه به ئی وگرزوله (څملوله) اوپرې کیناست

**دوائل بن حجر رضی الله عنه مرفوع حدیث** قَالَ قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ، فَقُلْتُ لَأَنْظُرَنَّ اِلٰى صَلٰوةِ رسول الله ﷺ فَلَمَّا جَلَسَ يعنى لِلتَّشَهُّدِ اِفْتَرَشَ رِجْلَهُ

---

[1] - بخاری ص ۱۰۵ ج ۱ مشکوٰة ص ۱۱۵ ج ۱.

[2] -مسلم ص ۱۹٤ ج ۱ مشکوٰة ص ۷۵ ج ۱.

[3] - ابوداود ص ۱۱۳ ج ۱ ترمذی حدیث ۲٦۰ نسائی حدیث ۲٦۳ بیهقی فی السنن الکبری ص ۷۲ ج ۲ حدیث ۲۳٤۷، صحیح ابن حبان حدیث ۱۸۳ ج ۵.

الْيُسْرٰی، وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰی يعنی علی فَخِذِهِ الْيُسْرٰی وَنَصَبَ رِجْلَهُ الْيُمْنٰی ([1]).

ترجمه: وائل ﷺ فرمائی چې مدینه منوري ته راغلم نومادځان سره ووئیل چې درسول الله ﷺ لمونځ به خامخا ضرور ګورم نوکله چې رسول الله ﷺ دتشهد اوالتحیات لپاره کیناست نوچپه خپه ئې خوره کړه اوچپ لاس ئې په چپ پتون کیښود اوښی خپه ئې ودروله.

**ددواړسجدو په مینځ کې به د(رَبِّ اغْفِرْلِیْ) په اندازه کینی.**

دحذیفه ﷺ مرفوع حدیث: وکان يَقُوْلُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ (رَبِّ اغْفِرْلِيْ)(۲)

ترجمه: نبی ﷺ به ددواړو سجدو په منځ رَبِّ اغْفِرْلِيْ وئیل.

دابن عباس ﷺ مرفوع حدیث: كَانَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ يَقُوْلُ بَيْنَ السَّجْدَتَيْنِ (اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وَارْحَمْنِيْ وَاجْبُرْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِيْ ([3]).

ترجمه: رسول الله ﷺ به د دواړو سجدو په مینځ کې دادعاویله چې اَللّٰهُمَّ اغْفِرْلِيْ وارحَمْنِيْ واجْبُرْنِيْ وَاهْدِنِيْ وَارْزُقْنِي.

**ددوهمی سجدی نه پس ناسته نشته (جلسه داستراحت) نشته.**

دابوهریرة ﷺ حدیث: قال کان النبی يَنْهَضُ فِيْ الصَّلٰوةِ عَلٰى صُدُوْرِ قَدَمَيْهِ ([4])

[1] -ترمذی حدیث ۲۹۲.

[2] -سنن نسائی حدیث ۱۰۶۹، سنن دارمی ص ۳۴۹ ج ۱.

[3] - ترمذی حدیث ۲۸٤، ابوداود حدیث ۸۵۰.

[4] - ترمذی حدیث ۲۸۸.

ترجمه: نبي ﷺ به په لمانځه کې دقدمونو په سينو ودريده ددواړو سجدونه روسته به نه کيناست.

دنعمان بن ابي عياش رضي الله عنه حديث: قَالَ اَدْرَكْتُ غَيْرَوَاحِدٍ مِنْ اَصْحَابِ النَّبِي ﷺ فَكَانَ اِذَا رَفَعَ رَأسَهُ مِنَ السَّجْدَةِ فِيْ اَوَّلِ رَكْعَةٍ وَالثَّالِثَةِ قَامَ كَمَاهُوَ وَلَمْ يَجْلِسْ (١).

ترجمه: نعمان رضي الله عنه فرمائي چې مابيښې زيات صحابه كرام رضي الله عنهم ليدلي چې كله به اول ركعت اودديم ركعت نه پس پورته كيده نوښغ به پورته شو اونه به كيناست كَبَّرَ

دابوحميد رضي الله عنه مرفوع حديث: فَسَجَدَ ثُمَّ فَقَامَ وَلَمْ يَتَوَرَّكْ (٢).

ترجمه: بيانبي ﷺ سجده وكړه بيائي تكبيرويل اوپورته شو اوكينه ناست.

يادونه: پورتني حديث دعباس رضي الله عنه، عياش بن سهل الساعدي، ابوهريرة ابواسيد رضي الله عنه نه نقل شويدى.

دابومالك (اشعرى) رضي الله عنه مرفوع حديث: فَسَجَدَ ثُمَّ كَبَّرَ فَانْتَهَضَ قَائِمًا (٣).

بيانبي ﷺ سجده وكړه بيائي تكبيرورويل نو (بغيردناستى) نيغ پورته شو

---

[1] - مصنف ابن ابى شيبه ص ٣٩٥ ج ١.

[2] - ابودراو ص ١١٤ ج ١ صحيح ابن حبان ص ١٨١ ج ٥ حديث ١٨٦٦ طحاوى ص ٢٦٠ ج ١ سنن كبرى للبيهقى ص ١٠١ ج ٢.

[3] - مسنداحمد ص ٣٤٣ ج ٥ واسناده حسن

**دابوهريرة ﷺ مرفوع حديث:** رسول الله ﷺ يواعرابي (کليوال سړي) ته دلمانځه تعليم ورکولو اوورته ئې وفرمايل چې (ثُمَّ اسجُد حَتّى تَطْمئِنَّ ساجِدًا ثُمَّ ارْفَعْ حَتّى تَستَوِيْ قَائِماً)(۱).

**ترجمه:** بيا سجده وکړه، تردې چې ښه پوره په سجده کې ارام شې، بياپورته شه تردې چې ښه نيغ ودريږې.

## اثاردصحابه کرامو ﷺ

دبيښې زياتوصحابه کرامو ﷺ نه داخبره نقل شوې ده چې دوې به ددويمې سجدې نه پس نيغ ودريدل اوجلسه داستراحت به ئې نه کوله دعمر، علي عبدالله بن مسعود، عبدالله بن عمر، عبدالله بن عباس عبدالله بن زبير، ابوسعيد خدري ﷺ احاديث اواثار په مصنف ابن ابي شيبه صد ۳۹۴ ج ۱ کې وګورى يواځې يواثر دعبدالله بن مسعود ﷺ نقلوو.

**اثردعبدالله بن مسعود ﷺ:** عَنْ عبدالرحمن بن يزيد قَالَ رَمَقْتُ الى عبدالله بن مسعود ﷺ فِيْ الصَّلٰوةِ فَرَايته يَنْهَضُ وَلاَ يَجْلِسُ (۲).

**ترجمه** عبدالرحمن ﷬ فرمائي چې ماعبدالله بن مسعود ﷺ په لمانځه کې وليده چې پورته شو اونه کيناست (ددواړو سجدونه پس نه کيناست).

---

۱- بخاري ص ۹۸۶ ج ۱.

۲- طبراني في المعجم الکبير ص ۲۶۶ ج ۹ حديث ۹۳۲۷ سنن کبرى للبيهقي ص ۱۲۵ ج ۲ حديث ۲۵۹۵ مجمع الزوائد ص ۱۳۶ ج ۲ مصنف عبدالرزاق ص ۱۷۸ ج ۲.

يادونه: په ځينو احاديثوکې دجلسه استراحت ذکرشته هغه په حالت دعذربناء دی نبی ﷺ چې کله بوډاشو نوبيابه جلسه داستراحت کوله تفصيل لپاره (المغني لابن قدامه ص ۲۴۸ ج ۱)

## ددويمې سجدې نه دپورته کيدوپه وخت کې اول لاسونه بيا زنګنونه پورته کول.

دوائل بن حجر رضی الله عنه مرفوع حديث: وَ اِذَا نَهَضَ رَفَعَ يَدَيْهِ قَبْلَ رُكْبَتَيْهِ[1].

ترجمه: کله به چې نبی ﷺ پورته شو نو لاسونه به ئې دزنګنونو نه مخکې پورته کړل.

## دويم رکعت داول رکعت په شان اداء کول پکاردی

دابوحميدالساعدی رضی الله عنه مرفوع حديث ثُمَّ يَصْنَعُ فِی الْاُخْرٰی مِثْلَ ذَالِكَ[2].

ترجمه: بيانبي ﷺ دويم رکعت داول رکعت په شان وکه.

## دويم رکعت کې سبحانك اللهم اواعوذبالله نشته.

دابوهريرة رضی الله عنه مرفوع حديث: كَانَ النَّبِی ﷺ اِذَا نَهَضَ مِنَ الرَّكْعَةِ الثَّانِيَةِ اِسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بِالحمدلله رَبِّ الْعٰلمين وَلَمْ يَسْكُتْ[3].

ترجمه: نبی ﷺ به چې کله ددويم رکعت نه پورته شونو دقراءة شروع اوبيل به ئې په اَلْحَمْدُلِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ کولو اونه به چپ کيده.

---

[1] - ابوداو ص ۱۲۹ ج ۱ ترمذی ص ۳۶ ج ۱، نسائی ص ابن ماجه مشکوة ص ۸٤.

[2] - ابوداود ص ۱۱۳ ج ۱.

[3] - مسلم ص ۲۱۹ ج ۱ حديث ۵۹۹ مشکوة ص ۷۸ ج ۱.

## دویم رکعت کې بسم الله پټ ویل سنت دي

دابوهریرة ﷺ مرفوع حدیث: اِسْتَفْتَحَ الْقِرَاءَةَ بالحمدلله رب العالمین (۱).
ترجمه: رسول الله ﷺ به ددویم رکعت دقراءة شروع په الحمدلله رب العلمین کوله.
یادونه: نوچې دقراءة شروع په الحمدلله سره وشوه نومعلومه شوه چې نبی علیه السلام بسم الله الرحمن الرحیم پټه لوستلی ده.

## دویم رکعت کې دسورة فاتحه سره بل سورة یوځائی کول

دابوقتاده ﷺ مرفوع حدیث: كَانَ النبی ﷺ یَقْرَءُ فِیْ الظُّهْرِ فِیْ الْاُوْلَیَیْنِ بِاُمِّ الْکِتَابِ وَسُوْرَتَیْنِ (۲).
ترجمه: نبي ﷺ به دماسپښین لمانځه په دوه اولنو رکعتوکې دالْحَمْدُلله سره دوه سورتونه هم لوستل.

## ښۍ خپه ودرول اوچپه (ګسه) خپه با ندې کیناستل.

دعائشة ﷺ مرفوع حدیث: وَكَانَ یَقُوْلُ فِیْ کُلِّ رَکْعَتَیْنِ اَلتَّحِیَّةَ وَكَانَ یَفْرِشُ رِجْلَهُ الْیُسْرٰی وَیَنْصِبُ رِجْلَهُ الْیُمْنٰی (۳).
ترجمه: نبی علیه السلام به دهردوورکعتونو نه پس اَلتَّحِیَّات ویله اوګسه (چپه) خپه به ئې خوره کړه اوښی خپه به ئې ودروله.

---

۱- مسلم ص ۲۱۹ حدیث ۱ ص ۵۹۹.
۲- بخاری ص ۱۰۷ ج ۱، مسلم حدیث ۱۸۵ ج ۱ مشکوٰة ص ۷۹ ج ۱.
۳- مسلم ص ۱۹٤ ج ۱ ص ٤۹۸ مشکوة ص ۷۵ ج ۱ مسنداحمد ص ۳۱ ج ٦

دوائل بن حجر ﷺ مرفوع حديث: (فَلَمَّا جَلَسَ يعنى لِلتَّشَهُّدِ افْتَرَشَ رِجْلَهُ اليسرى وَيَنْصَبُ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى)

ترجمه: هر كله چې رسول الله ﷺ تشهد لپاره كيناست نوچپه (ګسه) خپه ئې خوره كړه اوښى خپه ئې ودروله.

درفاعـه بـن رافـع مرفـوع حـديث: نبـى ﷺ يـواعرابى تـه دلمانځـه تعلـيم وركولو اوبيائې ورته وفرمايل: وَاِذَا رَفَعْتَ فَاقْعُدْ عَلىٰ فَخِذكَ الْيُسْرٰى (١).

ترجمه: هر كله چې تـه پورتـه شى (ددويمى سجدى نـه) نوپـه چـپ (ګس) ورون (پتون) كينه.

دعبدالله بن عمر ﷺ: مرفـوع حـديث (اِنَّمَاسُنَّةُ الصَّلٰوةِ اَنْ تَنْصِبَ رِجْلَكَ الْيُمْنٰى وَتُثْنِيَ الْيُسْرٰى (٢).

ترجمه: بيشكه سنت دلمانځه ودرول ښي خپې اوځملول دچپې خپې.

په يوبل روايـت كې دعبدالله بن عمر ﷺ نه انّ منْ سُنَّة الصَّلٰوة اَنْ تَنْصِبَ الْقَدَمَ الْيُمْنٰى وَالْجُلُوْس عَلىَ الْيُسْرٰى (٣).

ترجمه: بيشكه دلمانځه دسنتونه ودرول دښي خپې اوكيناستل په چپه خپه دي.

دوائل بن حجر ﷺ مرفوع حديث: قال صَلَّيْتُ خَلْفَ رسول الله صلى الله عليه وسلم فَلَمَّاقَعَدَ وَتَشَهَّدَ فَرَشَ قَدَمَهُ الْيُسْرٰى عَلَى الْاَرْضِ وَجَلَسَ عَلَيْهَا (طحاوى صـ ٢٥٩ ج ١)

---

١ - ابوداود ص ١٣٢ ج ١ مسنداحمد ص ٢٤٠ ج ٤.

٢ - بخارى ص ١١٤ ج ١.

٣ - نسائى ص ١٧٣ ج ١ حديث ١١٥٨ ابن عبد البر فى التمهيد ص ٢٥٤ ج ١٩

ترجمه: وائل رضی الله عنه فرمائي چې ما رسول الله ﷺ پسې لمونځ وکړ هر کله چې کيناست او التّحيات اوتشهد ئې ويل نوچپه خپه ئې په ځمکه خوره کړه اوپرې کيناست.

يادونه: په ځينو احاديثو کې دتَوَرُّک لفظ راغلی دي دتورک دوه طريقې دی.

(۱) ښۍ خپه ودرول اوگسه (چپه) خپه ښې طرفته ويستل اوپه کناټو کيناستل.

(۲) ښې اوچپه خپه دواړه ښې طرفته ويستل اوپه کناټو کيناستل.(۱) نوپه کومواحاديثو کې چې تورک راغلی دی هغه په حالت دعذر اوبيماری بنادي.

دليل پدی خبره دعبدالله بن عمر رضی الله عنه حديث اوقول دی. اَنْ تَنْصِبَ رِجْلَكَ الْيُمْنٰى وَتَثْنِيَ الْيُسْرٰى (۲).

ترجمه: چې ښۍ خپه ودروي اوچپه (گسه) خپه وگرزوي.

نودابن عمر رضی الله عنه نه چاپوښتنه وکړه چې تاسوخو تورک کوي ابن عمر رضی الله عنه وفرمايل اِنَّ رِجْلَایَ لَاتَحْمِلَانِيْ (۳) چې يعنی ځماښپې مانښې پورته کولی (په څپونښم کيناستي).

يعني زه معذوريم په ښپونښم کيناستی همداخبره په موطاامام مالک رحمه الله کې ذکرده (اِنَّمَا اَفْعَلُ هٰذَا من اَجْلِ اَنِّيْ اَشْتَكِيْ) (۴).

---

۱- معارف السنن ص ۹۵ ج ۲

۲- بخاری ص ۱۱٤ ج ۱ موطاامام مالك ص ۷۲.

۳- بخاری ص ۱۱٤ ج ۱.

۴- موطا امام مالك ص ۷۲.

داتورک ځکه کومه چې زه تکليف لرم.

## په ناسته کې لاسونه په ورنونو ايښودل سنت دي

دعبدالله بن عمر رضي الله عنه مرفوع حديث: كَانَ اِذَا جَلَسَ فِيْ الصَّلٰوة وَضَعَ كَفَّه الْيُسْرٰى عَلٰى فَخذه الْيُسْرى وَوَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخذه الْيُمْنٰى (۱).

نبي ﷺ به چې کله په لمانځه کې کيناست نو چپ لاس به ئې په چپ ورون (پتون) اوښئ لاس په ښي ورون کيښود.

دعبدالله بن زبير رضي الله عنه مرفوع حديث: وَضَعَ يَدَهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِه الْيُمْنٰى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى فَخِذِه الْيُسْرٰى (۲).

ترجمه: رسول الله ﷺ به ښى لاس په ښي ورون (پتون) کيښود اوچپ لاس په چپ پتون (ورون) کيښود.

دوائل بن حجر رضي الله عنه مرفوع حديث قَالَ: قَدِمْتُ الْمَدِيْنَةَ قُلْتُ لَاَنْظُرَنَّ اِلَى صَلٰوةِ رسول الله ﷺ فَلَمَّا جَلَسَ يعني لِلتَّشَهُّدِ اِفْتَرَشَ رِجْلَهُ الْيُسْرٰى وَوَضَعَ يَدَهُ الْيُسْرٰى عَلٰى فَخِذِه الْيُسْرٰى، وَنَصَبَ رِجْلَهُ الْيُمْنٰى (۳).

ترجمه: وائل رضي الله عنه فرمائي چې مديني منورې ته راغلم نوما ځان سره وويل چې خامخااوضروربه دنبي ﷺ لمانځه ته ګورم. نوهر کله چې

---

۱- مسلم ص ۵۸۰ موطاامام مالك ص ۷۱ مصنف عبدالرزاق ص ۱۹۵ ج ۲.

۲- مسلم ص ۱٦ ج ۱ مشكوٰة ص ۸۵ ج ۱.

۳- ترمذي ص ۲۹۲ صحيح ابن خزيمة ص ۳۵۳ ج ۱ ص ۷۱۳ مسنداحمد ص ۳۱٦ ج ٤ ع ۱۸۸۷۰.

نبيﷺ تشهد ته کیناست دچپه (ګسه) خپه ئې خوره کړه اوچپ لاس ئې په چپ ورون کیښود اوښي خپه ئې ودروله.

## په ناسته کې تشهد ویل واجب دي

دعائشه رضي الله عنها مرفوع حدیث: وَكَانَ يَقُوْلُ فِيْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ التَّحِيَّةِ (١).

ترجمه: دهرودوه رکعتونو نه روسته به ئي په ناسته کې تشهد لوسته.

دعبدالله بن مسعودؓ مرفوع حدیث: قَالَ عَلَّمَنِيْ رسولُ اللهِﷺ التَّشَهُّدَ فِيْ وَسَطِ الصَّلٰوةِ وَاٰخِرِهَا (٢).

ترجمه: عبدالله بن مسعودؓ فرمائي چې ماته رسول اللهﷺ تشهد وښوده په مینځ دهرلمانځه اواخر دهرلمانځه کې (په اوله ناسته اودوهمه ناسته کې).

دعبدالله بن مسعودؓ مرفوع حدیث: قَالَ:قَالَ لَنَارسولُ اللهِﷺ قُوْلُوْا فِيْ كُلِّ جَلْسَةِ التَّحِيَّاتَ (٣).

ترجمه: ابن مسعودؓ فرمائي چې رسول اللهﷺ وفرمایل چې په هره ناسته کې اَلتَّحِيَّاتُ ووائی.

دعبدالله بن مسعودؓ په روایت بل حدیث: فَقَالَ اِذَا قَعَدْتُمْ فِيْ كُلِّ رَكْعَتَيْنِ فَقُوْلُوْا التَّحِيَّاتَ (٤).

ترجمه: رسول اللهﷺ وفرمایل کله چې تاسو په هردوه رکعتوکینی نو التحیات ووائی

---

١ - مسلم عـ ٤٩٧.

٢ -مسنداحمد ص ٤٥٩ ج ١ ، مجمع الزوائد ص ١٤٢ ج ٢.

٣ -نسائی عـ ١١٦٦.

٤ - نسائی عـ ١١٥٣.

## دتشهد الفاظ

**دعبدالله بن مسعود ﷺ مرفوع حدیث:** عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائي چې نبی ﷺ به څنګه مونږ ته دقران دسورت تعلیم راکولو اوهمداشان به ئی مونږ ته دتشهد او اَلتَّحِيَّاتُ تعليم راكولو اونبی ﷺ وفرمایل چې كله په تاسو كې څوک په لمانځه كې ناسته كوي نودا التَّحِيٰاتِ دوائي.

اَلتَّحِيَّاتُ لِلّٰهِ وَالصَّلَوٰاتُ وَالطَّيِّبَاتُ، السلام عليك ايهاالنبي ورحمة الله وبركاته اَلسَّلَامُ عَلَيْنَا وَعَلٰى عِبادالله الصّالحِيْنَ اشهدان لااله الاالله وَاَشْهَدُان محمداً عَبْدُه وَرَسُوْلُه .(١)

دابن مسعود ﷺ نه یوبل حدیث په داسې الفاظو روایت شویدی (عَلَّمَنِیْ رسول الله ﷺ اَلتَّشَهُّدَ كَفِّیْ بَيْنَ كَفَّيْه كَمَا يُعَلِّمنِى السورة من القرآن)(٢).

څمالاس درسول الله ﷺ په دواړو لاسوتوكې وه اوماته ئی دتشهد داسې تعلیم اوښودنه کوله لکه څنګه ئی چې ماته دقران شریف دسورة ښودنه کوله.

فائده: ددې حدیث نه درې خبرې معلومیږي

(١) دتشهد تعليم ښودنه.

(٢) دتشهد تعليم اوښودنه دیوسورت په شان.

(٣) ستړئ‌مشی اومصافحه په دواړه لاسه سنت ده.

---

١- بخاری ص ١١٥ ج ١ مسلم ص ١٧٣ ج ١.

٢- مسلم ص ٩٠١ حديث ٤٠٢ بخاری عـ ٦٦٥؟ ترمذی عـ ٢٨٩ نسائی عـ ١١٦٢ ابوداود عـ ٩٦٨ ابن ماجه عـ ٨٩٩.

(۱) امام ترمذی فرمائی چې دتشهد په باره کې صحیح حدیث دعبدالله بن مسعود ﷺ دی اوپدې دزیاتو صحابه کرامو (ﷺ) اوتابعینو (رحمهم الله) عمل دی (۱).

(۲) ابن بریرة رحمه الله فرمائي چې ماد تشهد په باره کې دعبدالله بن مسعود ﷺ دحدیث نه ښائسته حدیث ندی اوریدلی (۲).

(۳)عبدالله بن عمر ﷺ فرمائی چې ابوبکر صدیق ﷺ به خلکوته دپورتني تشهد تعلیم ورکولو (۳).

## په اوله ناسته کې په تشهد زیاتونه نه کول

**دعبدالله بن مسعود ﷺ مرفوع حدیث:** عَلَّمَنِیْ رسول الله ﷺ فِیْ اَوَّلِ الصَّلٰوۃ وَاٰخِرِهَا ثُمَّ اِنْ کَانَ فِیْ وَسَطِ الصَّلٰوۃِ نَهَضَ حِیْنَ یَفْرُغُ مِنْ تَشَهُّدِہٖ وَاِنْ کَانَ فِیْ اٰخِرِهَا دَعَا بَعْدَ تَشَهُّدِہٖ بِمَا شَاءَ اللهُ اَنْ یَّدْعُوْ ثُمَّ یُسَلِّمْ (۴).

**ترجمه:** عبدالله بن مسعود ﷺ فرمائی چې ماته رسول الله دتشهد تعلیم راکولو په اوله ناسته اواخره ناسته کې بیاکچیرته په مینځ دلمانځه کې (اوله ناسته وه) نوچې کله به تشهد نه اوزگارشو پورته به شو اوکه په اخره ناسته کې به وه نوروسته دتشهد نه به ئې ښه پوره دعاوکړه اوبیابه ئې سلام وګرزولو.

یوبل روایت دابن مسعود ﷺ کې داسې دی چې

وَلَایَزِیْدُ عَلَی التَّشَهُّدِ شَیْئًا فِیْ الرَّکْعَتَیْنِ الْاُوْلَیَیْنِ (۵).

---

۱ - ترمذی ح ۲۸۹.
۲ - معجم کبري للطبراني ص ۳۹ ج ۱۰ حدیث ۹۸۸۳.
۳ - معجم الکبیر ص ۳۹ ج ۱ حدیث ۹۸۸۳ طحاوی ص ۲٦٤ ج ۱.
٤ - مسنداحمد ص ٤٥۹ ج ۱ ح ٤۳۸۲.
۵ - نسائی ح ۱۱۷٦ ترمذی ح ۳٦٦.

ترجمه: رسول الله ﷺ به په اول تشهد کې دالتَحيَاتُ نه څه نه زياتول

دعائشې رضي الله عنها مرفوع حديث: اَنَّ رسولَ الله ﷺ كَانَ لَايَزِيْدُ فِي الرَّكْعَتَيْنِ عَلَى التَشَهُّدِ (١).

ترجمه: رسول الله ﷺ په اوله ناسته کې دالتَحيَاتُ نه څه نه زياتول.

**التحيات به پټ ويل کيږي**

دعبدالله بن مسعود رضي الله عنه حديث قَالَ: مِنَ السُنَّه اَنْ يُخْفِي التَشَهُّدَ: (٢).

ترجمه: عبدالله بن مسعود رضي الله عنه فرمائي چې دتشهد پټ لوستل سنت دي.

## په ناسته کې په مسواکه ګوته اشاره کول سنت دي

يوڅوخبروته فکر کوي.

١. اشاره کول دڅلورو امامانو اتفاقي سنت دي.

٢. اوپه صحيحو احاديثواشاره ثابته ده.

٣. اوهمدامذهب څمونږ دامام ابوحنيفه رحمه الله هم دي.

٤. ځيني ورونه اشاره بدګڼي اودعوه دامام صاحب رحمه الله مذهب کوی اشاره بدګڼل ګناه ده ځکه داسنت عمل دی پدی عمل کول دسلوشهيد انواجر دی

٥ ځيني ورونه وائی چې مونږه ئی ځکه نه کوو چې په طريقه ئی نه پوهيږو چې کوم ځائې اوکوم وخت کې ګوته پورته کړو؟ هسې نه بيځايه رانه ګوته پورته شی نوګناه ګاربه شو داخبره هم خطا ده ځکه چې طريقه ئی زده کړه دين به زده کوي سنت طريقی

---

١- مسندابويعلی ص ٣٣٧ ج ٧.

٢-ابوداود عـ ٩٨٦ ترمذی عـ ٢٩١ مستدرك ص ٣٥٤ ج ١

په زده کوي عمل به پرې کوي په يوه بهانه اوبله بهانه به سنت طريقه نه پريدي.

٦. داشارې طريقه په احاديثوکې داشارې بيلا بيلې طريقې راغلي ټولې صحيح دي ټولې جائزې دي ليکن ځمونږه داحنافو په نزد غوره بهتره طريقه داده چې کلمه دشهادت ته ورسيږي نودښې لاس کچه ګوته اوورسره څنګ کې ګوته به بنده کړي دمينځ اوغټې ګوتې نه به حلقه جوړه کړي اومسواکه ګوته به خلاصه پريدي په لَآاِلٰهَ سره به ګوته پورته کړي اوپه اِلاَّ الله باندي به ئې کيدي اوحلقه به دناسته ختميدوپوري وي.

دغه طريقه په لاندې ذکرشوو احاديثوکې راغلي ده

دعبدالله بن زبيرﷺ مرفوع حديث: وَاَشَارَ بِاِصْبَعِهِ السَّبَابَةِ، وَوَضَعَ اِبْهَامَهُ عَلٰى اِصْبَعِهِ الْوُسْطٰى (١)

ترجمه: رسول اللهﷺ به په مسواکه ګوته اشاره وکړه اوغټه ګوته ئې په مينځ ګوته کيښوده.

دوائل بن حجرؓ مرفوع حديث: وَقَبَضَ ثِنْتَيْنِ وَحَلَّقَ وَاَشَارَ بِالسُّبَابَةِ (٢)

ترجمه: اورسول اللهﷺ دوه ګوتې بندې کړې او (دمينځ اوغټې ګوتې نه ئې) حلقه جوړه کړه اوپه مسواکه ګوتې ئې اشاره وکړه په مشکوٰة کې داسې دی چې بيائې ګوته پورته کړه بل روايت

دوائل قال رَأَيْتُ النبي ﷺ قَدْ حَلَّقَ الْاِبْهَامَ وَالْوُسْطٰى وَرَفَعَ الَّتِیْ تَلِيْهَا

---

[1] -مسلم ص ۵۷۹ صحيح ابن حبان ص ۱۹۴۳۲۷۰ ج ۵.

[2] -ابوداود ص ٤۵ ج ۱ مشکوة ص ۸۵ ج ۱ دارمی مشکوة.

ترجمه: وائل ﷺ فرمائي چې ما نبي ﷺ وليده چې دګټې اومينځۍ نه ئې حلقه جوړه کړه او ورسره څنګ کې ګوته ئې پورته کړه.

دعبدالله بن عمر مرفوع حديث: وَعَقَدَ ثَلاثًا وَخَمْسِيْنَ وَاَشَارَ بِالسَّبَابَةِ [۱] او ورسره څنګ کې ګوته ئې غوټه کړه اوداسې شکل ئې دلاس نه جوړ که لکه درې پنځوس اوبيا ئې اشاره په مسواکه ګوته وکړه.

## داشارې په باره کې نوراحاديث

۱. دابن عمر ﷺ مرفوع حديث [۲].
۲. دعبدالله بن زبير ﷺ مرفوع حديث [۳].
۳. دوائل ﷺ حديث [۴].
۴. دابوهريرة ﷺ حديث په نسائی کې.
۵. دسعد ﷺ حديث په نسائي کې.
٦. دعمر ﷺ حديث په ترمذي، نسائی، ابن ماجه کې.
۷. دابوحميدی الساعدی ﷺ حديث په ترمذی کې.
۸. دابن عباس ﷺ حديث په بيهقی کې.
۹. دابن عباس ﷺ حديث په بيهقی کې.
۱۰. دمعاذ ﷺ حديث په طبراني کې.
۱۱. دخفاف ﷺ حديث په مسنداحمد او بيهقی کې.

---

۱ - مسلم ۵۸۰.

۲ - مسلم ص ۲۱٦ ج ۱، نسائی ص ۱۷۳ ج ۱ ترمذي ص ۳۹ ج ۱.

۳ - مسلم ص ۲۱٦ ج ۱ نسائي ص ۱۷۳ ج ۱ ابوداود ص ۱٤۹ ج ۱.

٤ - ابوداود ص ۱٤۹ ج ۱، نسائی ص ۱۷۳ ج ۱ مشکوة ص ۸۵ ج ۱.

## اشاره او احناف

۱. دفتح القدير مصنف علامه ابن همام رحمه الله په فتح القدير ص ۲۷۲ ج ۱ کې ليکي چې وَهُوَ خِلاَفُ الدراية والرِوَايَة.

ترجمه: داشاری نه انکارکول دحديث اوعقل نه خلاف دی.(۲) امام محمد په موطا کې ليکي چې وَهُوَ قَوْلُ ابی حنيفه صـ ۱۰۸

ترجمه: دا اشاره دامام صاحب وينا اومذهب دی.

۲. علامه ملا علی قاری حنفی رحمه الله په مرقات شرح مشکوٰة کې داشاری بيلابيلی طريقي بيانوي اوبيا ليکي اَلْاَخْبَارُ وَرَدَتْ بِهَا جَمِيْعًا وَكَانَّهُ عليه السلام كَانَ يَصْنَعُ مَرَّةً هٰكَذا وَمَرَّةً هٰكَذَا [1].

ترجمه: داحاديثونه داټولې طريقي ثابتي دی، ګويا که نبی ﷺ به کله په يوه طريقه اشاره کوله اوکله په بله طريقه.

ملا علی قاري حنفي پرې ځانګړی رساله ليکلي ده.

۳. علامه شامي رحمه الله اشاره سنت ګڼي اوپه اثبات ئي رساله ليکلي ده.

۴. امام قاضي ثناء الله پاني پتي رحمه الله ئي سنت ګڼي اوپه اثبات ئي رساله ليکلي ده.

۵. دامام مجدد الف ثانی رحمه الله ځوی شيخ محمد صادق اوشيخ محمد سعيد رحمه الله ئي هم سنت ګڼي اګر که پلار امام الف ثاني رحمه الله ئي نه مني خودادامام مجدد الف ثاني رحمه الله تفردات دی

---

[1] - مرقات شرح مشکوة ص ۳۲۸ ج ۲.

٦. دکنزالعمال مؤلف امام علی متقی رحمه الله ئی سنت ګڼي اوپه اثبات ئي رساله ليکلي.

۷. شيخ عبدالحق محدث دهلوی رحمه الله (صاحب لمعات شرح مشکوٰة) ئي هم سنت ګڼي.

۸. علامه عبدالحئ لکهنوي رحمه الله ئي سنت ګڼي اوپه اثبات ئي رساله ليکلی.

۹. امام کاسانی دبدائع الصنائع مولف ئي هم سنت ګڼي.

۱۰. امام ابوالليث ثمرقندی رحمه الله ئي سنت ګڼي اوداسې نوراحناف علماء.

تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ

دفقه حنفي په لاندې کتابونو کې داشاري ذکرشته

۱. فتاوي تاتار خانيه.

۲. ذخيره

۳. غنيه

۴. فتح القدير

۵. شامي

٦. بحرالرائق

۷. المحيط

۸. بدائع الصنائع

۹. خانيه

۱۰. مجمع البحرين اوداسې نور

تِلْكَ عَشَرَةٌ كَامِلَةٌ

نوداشاري نه انکارکول سر زورې ده بايد داسنت عملي شي ځيني صوفيان رونه چې دسنتو دتابعداري کلکې دعوی کوي اوسنت

زوائدوته هم دموکدو درجه ورکوي اوداشاري په باره کې دغفلت نه کاراخلي سره ددينه چې اشاره په ډيرو احاديثو ثابته ده دامام ابوحنيفه رحمه الله مذهب دی.

## په اشاره کې به اول لاس خلاص وي داشاري په وخت کې به ګوتي بندوي

### دعبدالله بن عمر رضي الله عنه مرفوع حديث:

اِذَا جَلَسَ فِیْ الصَّلٰوةِ وَضَعَ كَفَّهُ الْيُمْنٰى عَلٰى فَخِذِه الْيُمْنٰى وَقَبَضَ اَصَابِعَهُ كُلَّهَا وَاَشَارَ آه (١).

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله په لمانځه کې کيناست نوښي ورغوي به ئی په ښي پتون کېښود اوګوتي به ئې راټولې کړي اواشاره به ئې وکړه.

تشريح: په حديث کې اول لاس ايښودل راغلي دي بياروسته ټولول او اشاره کول راغلي دي.

## د ناستي تر اخره به ګوتې بندي وي

دوائل رضي الله عنه مرفوع حديث: وَقَبَضَ اَصَابِعَهُ وَبَسَطَ السَّبَّابَةَ وَهُوَ يَقُوْلُ يَامُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِیْ عَلٰى دِيْنِكَ (٢).

ترجمه: نبي ﷺ به ګوتي راټولې کړي اومسواکه ګوته به ئي خوره کړه اودغه دعاء به ئي وکړه.

---

١ -ابوداود ص ١٩٤ ج ١، مسلم ص ١١٦ ج ١.

٢ - ترمذي ص ١٦٨ ج ٢.

## داشارې نه بغیرګوته خوزول ندي پکار

دعبدالله بن زبیرﷺ مرفوع حدیث: كَانَ النَّبِيُّ ﷺ يُشِيْرُ بِاصْبَعِهِ وَلاَ يُحَرِّ كُهَا (1).

**ترجمه:** نبي ﷺ به په ګوته اشاره کوله ګوته به ئي نه خوزوله.

**یادونه:** په کوم حدیث کې چې تحریک (خوزول) راغلي دهغې نه مراد داشارې لپاره خوزول دي داخرنی دوه رکعتوکولو طریقه:-.

که لمونځ ځلور رکعتیزوه نوداپاتې دوه رکعته به هم دمخکنو دوه رکعتو په شان وکې اوکه دوه رکعته وه نوهمدا دلمونځ کوونکي اخرني ناسته ده.

نودتشهد نه روسته به په اخری ناسته کې درودشریف ووائي.

دکعب بن عجرةﷺ مرفوع حدیث دي

چې رسول اللهﷺ به لمانځه کې ددرود ابراهیمی تعلیم ورکولو درود ابراهیمی هماغه درود دي چې مونږ اوتاسې ئي په لمانځه کې وایو.

اوپه لاندینو ذکرشو وکتابونو داحادیثوکې بیان راغلي دي

(بخاری ص ۴۷۷ ج ۱، ایضا ص ۹۴۰ ج ۲، مشکوٰة ص ۵۲ ج ۱. مسلم ص ۱۷۵ ج ۱، ابوداود نسائي صحیح ابن خزیمه ص ۷۱۰ صحیح ابن حبان ص ۱۹۶ نصب الرایه ص ۴۲۶ ج ۱ ترمذی ۳۴۷۷ ، مستدرك ۳۵۴ ج ۱ حدیث ۸۴۰)

---

[1] - ابوداود ص ۱۴۹ ج ۱، نسائي

## درود شريف نه پس دعا

يادونه: (١) هره دعاء چې لمونځ كوونكي ته ياده وي هغه دووائي البته ماثوري دعاګاني يعني هغه دعاګاني چې په قران اوحديث كې راغلي وي د دغه وخت ډير دعاګاني په صحيحو احاديثو كې راغلي دي.

يادونه: (٢) كه يوه دعاوائي اوكه ديوي نه زياتي دعاوي وائي هيڅ ګناه نلري دعاوي چې څومره زياتي وائي په هماغه اندازه اجر اوثواب دي اودعاقبليږي.

(٣) البته امام به دومره زياتي دعاګاني نكوي چې مقتديان تنګ شي ځكه په دوي كې هر رنګ خلك وي ضعيفان ، سپين بږيري دعذر خاوندان ، مريضان اوپه احاديثوكې ددينه منع راغلى ده چې مقتديان تنګ كړي.

په احاديثوكې زياتي دعاګاني راغلي دي چې يوڅوئي نقلوو

دابوهريرة ﷺ مرفوع حديث قَالَ رسول الله ﷺ اِذَا فَرَغَ اَحَدُكُمْ مِنَ التشهد الاخرِ فَلْيَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْ اَرْبَعٍ مِنْ عَذَابِ جَهَنَّم،وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ (١)

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمائي چې كله يوستاسي نه دتشهد نه فارغ شي نودادعاووائي

اَللّهُمَّ اِنِّى اَعُوْذُبِكَ مِنْ عَذَابِ جهنم وَمِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ، وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمات.

---

(١)- مسلم ع ٥٨٨ صحيح ابن حبان ٢٩٨ ج ٥.

دابن عباس ﷺ مرفوع حديث: عَنِ النبیﷺ كَانَ يَقُوْلُ بَعْدَ التشهد اللهم انی اعوذبك من عذاب جهنم، واعوذبك من عذاب القبر واعوذبك من فتنة الد جال، واعوذبك من فتنة المحيا والممات (١).

ترجمه: ابن عباس ﷺ دنبيﷺ نه نقلوی چې نبي ﷺ به روسته دتشهد نه دادعا وئيله: ای الله يقيناً زه پناه نيسم په تاسره داوردغذاب نه اوپناه نيسم په تاسره دعذاب قبرنه اوپناه نيسم په تاسره دفتني ددجال نه اوپناه نيسم په تا سره دفتني دژوند اومرګ نه

دابوبکرصديقﷺ مرفوع حديث: قُلْتُ يارسول الله عَلِّمْنِيْ دُعَاءً اَدْعُوْبِه فِيْ صلاتِیْ قَالَ قُلْ اَللّهُمَّ اِنِّی ظَلَمْتُ نَفسی ظُلْماً كَثِيْراً ولاَيَغْفِرُالذُّنُوْبَ الاّاَنْتَ فَاغْفِرلِیْ مَغْفِرَةً مِنْ عِنْدِكَ وَارْحَمْنِیْ انك انت الغفور الرحيم (٢).

ترجمه: ابوبکر صديقﷺ فرمائي چې ما وويل ای دالله رسوله ماته يوه داسې دعا وښايه چې زه ئې په لمانځه کې غواړم. رسول اللهﷺ وفرمايل چې دادعا کوه ای الله بېشکه ماپه خپل نفس ښېښي زيات ظلم کړيدي اوغيرستانه بل څوک ګناوي نه شي ښښلي ماته ګناه وښه په ښښنی ستاله خوا. اوپه مارحم وکړه بېشکه ته ښنونکې اومهربان ئې.

١- مسلم عـ ٥٩٠.

٢- بخاری عـ ٨٣٤، مسلم عـ ٢٧٠٥.

## دلمانځه په اخرکې ښي اوچپ طرفته سلام کرزول

دعبدالله بن مسعود ﷺ مرفوع حديث: اَنَّ رسول الله ﷺ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِه السلام عليكم ورحمة الله حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الاَيْمَنِ وَعَنْ يساره السلام عليكم ورحمة الله حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الْاَيْسَر (١).

ترجمه: ابن مسعود ﷺ فرمائي چې بیشکه رسول الله ﷺ به سلام ښي طرفته داسې ګرزولو چې دښې اننګو سپینوالی به ئې ښکاره شو اوچپ طرفته به ئې همداسې ګرزولو اوداسې به ئي ويل چې السلام عليكم ورحمة الله.

دسعدبن ابي وقاص مرفوع حديث: قَالَ كُنْتُ اَرٰى رسول الله ﷺ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِه وَعَنْ يَسَارِه حَتّٰى اَرٰى بَيَاضَ خَدِّه (٢)

ترجمه: ابن مسعود ﷺ فرمائي چې مابه رسول الله ﷺ ښي اوچپ طرفته دسلام ګرزولو په وخت کې وليده چې سپين والی دانګو به ئې ښکاريده.

---

١ - ابوداود ص ١٥٠ ج ١ ع ٩٩٦ ترمذي ع ٢٩٥، ابن ماجه ع ٩١٤ سنن دارقطني ص ٣٥٦ ج ١ صحيح ابن حبان ص ٣٢٩ ج ٥ حديث ١٩٩٠ طحاوى ص ٢٦١ ج ١.

٢ - مسلم ع ٥٨٢ ص ١١٦ ج ١ مشكوة ص ٨٧.

**دعلی رضی الله عنه مرفوع حدیث:**

قَالَ رسول الله ﷺ : مِفْتَاحُ الصّلوةِ اَلطُّهُوْرُ، تَحْرِيْمُهَا التكبير، وتحليلها التسليم (١).

ترجمه: رسول الله ﷺ فرمائي چې دلمانځه کونجی پاکوالی دی اوتحريمه ئې الله اکبر دی اودلمانځه نه وتل په سلام دی.

## طریقه دسلام (السلام علیکم ورحمة الله ) ده

**دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه مرفوع حدیث:** اَنَّ رسولَ الله ﷺ كَانَ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهِ السلام عليكم ورحمة الله (٢).

ترجمه: رسو ل الله ﷺ به ښي طرفته سلام ګرزولو اوداسې به ئې ویل چې السلام علیکم ورحمة الله.

## سلام په وخت کې ښه پوره مخ اړول

**دعبدالله بن مسعود رضی الله عنه حدیث:** اَنَّ رسولَ الله ﷺ يُسَلِّمُ عَنْ يَمِيْنِهِ السلام عليكم ورحمة الله حَتّٰى يُرٰى بَيَاضُ خَدِّهِ الْاَيْمَنِ.........وَيُسَلِّمُ عَنْ يَسَارِهِ السلام عليكم ورحمة الله حَتّٰى يُرى بَيَاضُ خَدِّهِ الْاَيْسَرِ

ترجمه بیشکه رسول الله ﷺ به ښي طرفته سلام ګرزولو اوداسې به ئې ویل چې السلام علیکم ورحمة الله تردې چې دښې مخ سپین

---

١ - ابوداود ع ـ ٦١٨.

٢ -ابوداود ص ١٥٠ ج ١، مشکوة ص ٨٨ ج ١.

والی به ئی ښکاره شو اوچپ طرفته به ئی سلام وګرزولو اوداسې به ئی ویل چې السلام علیکم ورحمة الله تردې چې دچپ ‹ګس انګو›سپین والی به ئی ښکاره شو.
په همدغه مضمون یوحدیث دسعدبن ابی وقاص ﷺ په روایت مخکې ذکرشو.

## دوه سلامه ګرزول سنت دي

پدې موضوع دوه احادیثه وړاندې ذکرشو اویوبل حدیث په ابن ماجه کې دعماربن یاسر ﷺ په روایت ذکردی.
امام بدرالدین عینی ﷬ تقریباً دشلو صحابه کرامو ﷺ نه احادیث نقل کړیدی چې په ټولو احادیثوکې د دوه سلامونو ذکردی.

# دعاء د دعاء طریقه

## سلام نه روسته مقتدیا نوته مخ ګرزول

دسمرة بن جندب رضی الله عنه مرفوع حدیث

كَانَ النَّبِی ﷺ اِذَا صَلّٰی صَلٰوةً اَقْبَلَ عَلَیْنَا بِوَجْهِه [١].

**ترجمه:** نبی ﷺ به چې کله لمونځ خلاص کړ، نومونږ ته به ئی مخ راواړولو.

**دبراء بن عازب رضی الله عنه مرفوع حدیث:** قَالَ كُنَّا اِذَا صَلَّیْنَا خَلْفَ رسول الله ﷺ اَحْبَبْنَا اَنْ نَكُوْنَ عَنْ یَمِیْنِه فَیُقْبِلُ عَلَیْنَا بِوَجْهِه [٢].

**ترجمه:** براء بن عازب رضی الله عنه فرمائي چې کله به مونږه رسول الله ﷺ پسې لمونځ وکړ نومونږه به خوښوله چې مونږ دحضور ﷺ ښي طرفته وي چې مونږ ته مخ واړه وي.

**دانس رضی الله عنه مرفوع حدیث:** قَالَ اَكْثَرُ مَارَاَیْتُ رسول الله ﷺ یَنْصَرِفُ عَنْ یَمِیْنِه [٣].

**ترجمه:** انس رضی الله عنه فرمائي چې زیاتره به نبی علیه السلام دلمانځه نه روسته ښي طرفته ګرزیدو.

**یادونه:** دپورتنو احادیثو نه ځوخبرې معلومیږي.

١. دسلام نه روسته مقتدیانو ته مخ ګرزول اودعا کول.

---

[١] - بخاری ص ١١٧ ج ١ حدیث ٨٤٥.

[٢] - مسلم ع ٧٠٩.

[٣] - مسلم ع ٧٠٨.

٢. زياتره به نبی ﷺ مخ ښي طرفته ګرزولو.

٣. دپورتني حديث نه ضمنا اودځينو نورو احاديثو نه ښكاره معلوميږي چې كله كله به نبی عليه السلام چپ طرفته هم مخ ګرزولو.

٤. دصحابه كرامو مينه اوشوق دنبی عليه السلام ليدوته.

## دلمانځه نه روسته اذكاراوتسبيحات

**دمغيره بن شعبه ﷺ مرفوع حديث:** اَنَّ رسول الله ﷺ كَانَ يَقُوْلُ فِیْ دُبُرِ صَلوته اِذَا سَلَّمَ لاَاِله اِلاّاللهُ وَحْدَهُ لاَشَرِيْكَ لَهُ (١).

**ترجمه:** رسو ل الله ﷺ به دلمانځه نه روسته دادعا ويله لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلیٰ كُلِّ شیٍٔ قَدِيْرَ اللهم لاَمَانِعَ لِمَا اَعْطَيْتَ، وَلاَمُعْطِیَ لِمَا مَنَعْتَ وَلاَ يَنْفَعُ ذَالْجَدُّ مِنْكَ الجَدُّ.

**دثوبان ﷺ مرفوع حديث:** قَالَ كَانَ رسول الله ﷺ اِذَا انْصَرَفَ مِنْ صَلاَته اسْتَغْفَرَ ثَلاَ ثاً وَقَالَ اَللّهُمَّ انت السلام وَمِنْك السَّلاَمُ تبارَكْتَ يا ذَالْجَلاَلِ وَالْاِكْرَامِ (٢).

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې كله دلمانځه نه فارغ شو نودرې ځله به ئی استغفرالله ويل اوبيائی ويل چې اَللّٰهُمَّ اَنْتَ السلام مِنْكَ السلام تباركت ياذالجلال والاكرام.

---

(١) - بخاری عـ٨٤٤ كتاب الاذان حديث ٦٣٣٠ كتاب الدعوات مسلم عـ٥٩١.

(٢) - مسلم عـ٥٩١ ترمذی عـ٣٠٠ نسائي ص ١٢٢٧ ابن ماجه عـ٩٢٨.

یوه ضروري یادونه: په ځینو احادیثو کې راغلي چې رسو ل الله ﷺ به لمانځه نه روسته دعاګاني کولي په ځینو احادیثو کې راغلي چې رسول الله ﷺ به دفرض لمانځه نه روسته اذ کار اودعاګاني کولی اوفرض لمانځه نه روسته دعاوی ښې قبلیږي په ځینو احادیثو کې راغلي چې رسو ل الله ﷺ به دفرض لمانځه نه اوسلام نه روسته یواځې دااَللّٰهُمَّ اَنْتَ اَلسَّلَامُ په اندازه کیناستو نوپه ټولو کې دتطبیق لپاره اوپه ټولو احادیثو باندې دعمل لپاره ښه طریقه دا ده چې کله لمونځ پوره خلاص شی سنت هم خلاص بیا پوره اذکار وکړي اودعاوکړي.

## دتسبیحاتو نه روسته اوددعا نه مخکې درود شریف ویل

دفضاله بن عبید ﷺ مرفوع حدیث: نوموړی صحابی ته رسول الله ﷺ د دعا طریقه وښوده او ورته وي فرمایل چې «فَاحْمَدِاللهَ بِمَاهُوَ اَهْلُهُ وَصَلِّ عَلَيَّ ثُمَّ ادْعُهُ»(۱).

ترجمه: چې دالله ﷻ دشان سره وړثنا ووایه اودرود ووایه په ما بیا دعاوغواړه.

دعمر فاروق ﷺ اثر اَلدُّعَاءُ مَوْقُوْفٌ بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْاَرْضِ لَايَصْعَدُمِنهَا شَئٌ حَتَّى تُصَلِّيَ عَلٰى نَبِيِّكَ (۲).

---

۱- ترمذی ص ۱۸٦ ج ۱ مشکوة ص ۸٦ حدیث حسن ابوداود نسائی

۲- ترمذی ص ٦٤ ج ۱ مشکوة ص ۸۷.

دعاء دځمكې اواسمان په مينځ كې بنده وي اسمان ته تري هيڅ شي نه پورته كيږي تردې چې درود په خپل پيغمبرووائي.

## دلمانځه نه روسته دعا

دابوامامه ﷺ مرفوع حديث: قِيْلَ يارسولَ اللهِ ﷺ اَىُّ الدُّعَاءِ اَسْمَعُ قَالَ جَوْفَ الليلِ الاٰخِرِ وَ بَعْدَ الصَّلٰوٰتِ الْمَكْتُوْبَاتِ [١].

ترجمه: اى دالله ﷺ رسوله كومه دعابنه قبليږي؟ رسول الله وفرمايل چې دشپې په اخره برخه كې اودفرض دلمونځ نه روسته.

دعبدالله ﷺ مرفوع حديث: عَنِ الاسودبن عبدالله عن اَبِيْه قَالَ صَلَّيْتُ مَعَ رسول الله ﷺ الْفَجْرَ فَلَمَّا سَلَّمَ انْحَرَفَ وَرَفَعَ يَدَيْه وَدَعَا [٢].

ترجمه ابن مسعود ﷺ فرمائي چې مارسول الله ﷺ سره دسهارلمونځ وكړ هركله ئى چې سلام وګرزولو راوبه ګرزيد او لاسونه به پورته كړل او دعا به ئې كوله.

دمعاذ بن جبل ﷺ حديث: ابوداود ص ٢٢٠ ج ١، نسائي صحيح ابن حبان مستدرك دابوبكرة ﷺ حديث:

---

[١] - ترمذى ص ١٨٨ ج ١ مشكوة ص ١٠٩ ج ١.

[٢] - مصنف ابن ابى شيبه

**دپورتنو احادیثو او دډیرو نورو قوی احادیثو نه ثابتیږي چې لمانځه نه روسته دعا سنت ده او په اتفاق دعلماء مستحب ده.**

(۱) امام نووی رحمه الله رایه: قَدْ ذَكَرْنا إستحبابَ الذكر وَالدُّعاء للامام وَالْمَاْمُوْمِ وَالْمُنْفَرِدِ وَهُوَ مَسْتَحَبٌ عَقِبَ كُلِّ الصَّلٰوتِ بِلاَ خِلاَفٍ[1].

ترجمه: دامام مقتدی اوځان له لمونځ کوونکي لپاره ذکر اودعا دټولو لمونځونو نه روسته بغیر دخلاف نه مستحب دی.

(۲) امام بخاری رحمه الله رایه.

امام بخاری رحمه الله دلمانځه نه روسته د دعالپاره مستقل باب قائم کړیدی.

بَابُ الدُّعاء بَعْدَ الصَّلوة (۲).

تشریح: امام بخاری رحمه الله دکلام نه دوه خبرې معلومیږي (۱) دلمانځه نه روسته دعا (۲) قید دفرض اوسنت نشته هرلمانځه نه روسته دعا که فرض وي اوکه سنت وي

(۳) حافظ ابن حجر رحمه الله رایه. حافظ ابن حجر په فتح الباري کې ددغه باب لاندې لیکی چې (وَفِيْ هٰذِهِ الترجمة رَدٌّ عَلیٰ مَنْ زَعَمَ اَنَّ الدُّعَاءَ بَعْدَ الصَّلوٰة لاَيَشْرَعْ) (۳).

---

[1] - شرح المهذب ص ٤٨٨ ج ٣.

[2] - بخاری ص ٩٣٧ ج ٢.

[3] - فتح البری ص ١١٣ ج ١١.

ترجمه: پدې ترجمه کې رددې په هغه چاچې داګمان کوي چې دعا دلمانځه نه روسته روانده.

حافظ ابن حجر رحمه الله په دغه ځائی کې ډیر احادیث نقل کړیدي چې دهغې نه دلمانځه نه روسته دعاثابتیږي.

## لاسونو پورته کول په دعاء کې سنت دي

دابن عباس رضی الله عنه مرفوع حدیث

سَلُوْا اللهَ بِبُطُوْنِ اَكُفِّكُمْ وَلَا تَسْئَلُوْهُ بِظُهُوْرِهَا فَاذَا فَرَغْتُمْ فَامْسَحُوْا بِهَا وُجُوْهَكُمْ (۱).

ترجمه: دالله جل جلاله نه دعا وغواړې دخپلو لاسونو په خیټو او دلاسونو په شاګانو سوال مه کوي اوبیا په دعاکې لاسونه په مخ راکش کړي.

دعائشه رضی الله عنها مرفوع حدیث: رَئيتُ رسول الله صلی الله علیه وسلم رَافِعاً يَدَيْهِ حَتّٰى اَبْدىٰ ضَبْعَيْهِ يَدْعُوْ (۲)

ترجمه: مارسول الله صلی الله علیه وسلم ولیده چې په دعاکې لاسونه پورته کړی وه تردی چې اړخونه دبدن مبارک ئې ښکاره شو

دسلمان رضی الله عنه مرفوع حدیث قَالَ رسول الله صلی الله علیه وسلم اِنَّ رَبَّكُمْ حَيٌّ كَرِيْمٌ يَسْتَحْيِ مِنْ عَبْدِهٖ اِذْ اَرْفَعَ يَدَيْهِ اَنْ يَرُدَّهُمَا صِفْرًا (۳)

---

۱ - ابوداود ص ۲۱۶ ج ۱ ترمذي ابن ماجه مشکوة ص ۱۹۸.

۲ - بخاری جزء رفع الیدین

۳ - ابوداود ص ۲۱۶ ج ۱ حدیث نمبر ۱۴۸۸، ترمذی ص ۱۹۵ ج ۱ حدیث نمبر ۳۵۵۶ مشکوة ص ۱۹۵ ج ۱ صحیح ابن حبان ص ۱۶۰ ج ۳ حدیث نمبر ۸۷۶ سنن کبری للبیهقی ص ۲۱۱ ج ۲ حدیث نمبر ۲۹۶۵ طبرانی فی المعجم الکبری ص ۲۵۶ ج ۴.

رسول الله ﷺ فرمائی چې بیشکه رب ستاسی ژوندی دی مهربان دی دخپل بنده نه حیاء کوي چې بنده ورته ددعااوسوال لاسونه پورته کړي اوالله (ج) ئې خالي (قبول ئې نکړی) ردکړی

دعمر ﷺ مرفوع حدیث: کان رسول الله ﷺ (اِذَارَفَعَ یَدَیْهِ فِی الدُّعَاءِ لَمْ یَحُطَّهُمَا حَتّٰی یَمْسَحَ بِهِمَا وَجْهَهٗ (۱)).

ترجمه: رسول الله ﷺ به چې کله په دعا کې لاسونه پورته کړل ترهغې به ئې نه ښکته کول تردې چې په مخ به ئې راښکل.

دامام زهری ﷫ مرسل روایت: کان رسولُ اللهِ ﷺ یَرْفَعُ یَدَیْه عِنْدَ صَدْرِه فِی الدُّعاء ثُمَّ یَمْسَحُ بِهِمَا وَجْهَهٗ (۲).

ترجمه: رسول الله ﷺ به په دعاکې لاسونه ترسینې پورته کول اوبیا به ئې په مخ راښکل.

## وتر واجب درې رکعته دې په یوسلام سره:

دابی بن کعب ﷺ مرفوع حدیث: کَانَ رسول اللهِ ﷺ یُوْتِرُ بِثَلاثٍ یَقْرءُ فِی الاولی سَبِّحِ اسْمِ رَبِّکَ الْاَعْلٰی وَفِی الرکعة الثَّانیة بِقُلْ یٰاَیُّهَاالْکافِرُونَ وَفِی الثَّالِثَةِ بِقُلْ هُوَ اللهُ اَحَدٌ لاَ یُسَلِّمُ الا فِیْ اٰخِرِهِنَّ (۳).

---

۱- ترمذی ص ۱۷٤ ج ۱ مشکوة ص ۱۹۵ ج ۱

۲- مصنف عبدالرزاق ص ۲٤۷ ج ۲.

۳- دارمی عـ ۱۵۸۹، طبرانی فی الاوسط عـ ۸۱۱۵، نسائی ص ۲٤۸ ج ۱ ابوداود ۱٤۲۳ ابن ماجه عـ ۱۱۷۱ مستدرک ص ۲۸۲ ج ۲ عـ ۳۰۱٦.

**ترجمه**: رسول الله ﷺ به وتردرې رکعته کول په اول رکعت کې به ئې سورة اعلی لوست اوپه دویم رکعت کې به ئې سورة کافرون اوپه دریم رکعت کې به ئي سورة اخلاص لوست اودرې رکعته به ئې په یو سلام کولو.

**وضاحت**: ددې حدیث نه ښکاره معلومیږي چې وتردرې رکعته دی اودریواړه په یوسلام دی.

**دعائشه** رضي الله عنها **مرفوع حدیث** يُصَلِّيْ اَرْبَعًا فَلاَ تَسْئَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُوْلِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّيْ اَرْبَعًا فَلاَ تَسْئَلْ عَنْ حُسْنِهِنَّ وَطُوْلِهِنَّ ثُمَّ يُصَلِّيْ ثَلاَ ثًا [1].

**ترجمه**: رسول الله ﷺ به څلور رکعته تهجد کول نودښائسته والی او اوږدوالی په باره کې پوښتنه مه کوه بیائې څلور همداسی بیا به ئی درې رکعته وتروکړل.

**وضاحت** ددې حدیث نه هم ښکاره ثابتیږي چې وتردرې رکعته دي اودریواړه په یوسلام دی إمام نسائی باب قائم کړیدی چې [2].

**دعائشه** رضي الله عنها دویم مرفوع حدیث: اَنَّ رسول الله ﷺ كَانَ لَايُسَلِّمُ فِيْ رَكْعَتَيِ الْوِتْرِ [3].

**ترجمه** رسول الله ﷺ به دوترو په دوه رکعتوکې سلام نه ګرزولو.

**دعائشه** رضي الله عنها **دریم مرفوع حدیث** ثُمَّ اَوْتَرَ بِثَلاَثٍ لاَيَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ [4]. ترجمه بیا به رسول الله ﷺ دری رکعته وترپه یوسلام اوکړل

[1] - بخاری ص ١٥٤ ج ١، مسلم ص ٢٥٤ ج ١.

[2] باب كيف الوتر بثلاث ص ٢٤٨ ج ١.

[3] - نسائی ص ٢٤٨ ج ١

[4] - مسند احمد ص ١٥٦ ج ٦.

دعائشه رضی الله عنها څلورم مرفوع حدیث: کَانَ رسول الله یُوْ تِرُ بِثَلاَثٍ لاَ یُسَلِّمُ اِلاَّ فِیْ اٰخِرِ هِنَّ (مستدرك الحاکم)

ترجمه: رسول الله ﷺ به درې رکعته وتر کول او سلام ئې واخې په اخر کې ګرزولو.

دابن عباس رضی الله عنه مرفوع اوږدحدیث: دی چې دحدیث اخری برخه را نقلوو.

ثُمَّ اَوْتَرَ بِثَلاَثٍ [1].

ترجمه: بیا رسول الله ﷺ درې رکعته وتروکړل.

د ابن عباس رضی الله عنه دویم مرفوع حدیث: کان رسول الله ﷺ یُوْتِرُ بِثَلاَثٍ یَقْرءُ فِیْ الاولی (بسبح اسم ربك الاعلی) وِفِیْ الثَّانِیة بِقُلْ یــا ایهـــا الکافرون وفی الثالثة بقل هوالله احد [2].

ترجمه: رسول الله ﷺ به درې رکعته وترکولو په اول رکعت کې به ئې سبح اسم ربک الاعلی لوسته په دویم رکعت کې به ئې سورة کافرون لوسته په دریم رکعت کې به ئې سورة اخلاص لوسته.

دعبدالرحمن بن ابزی رضی الله عنه مرفوع حدیث: اِنَّه صَلَّی مَعَ النَّبِیِّ ﷺ اَلْوِتْرَ فَقَرَءَ فِی الْاُوْلٰی بسبح اسم ربك الاعلی وفی الثانیة قل یاایهـــا الکافرون وفی الثالثة قل هوالله احد [3].

---

[1] -مسلم ص ۲۶۱ ج ۱.

[2] - نسائی ص ۲۴۹ ج ۱.

[3] - نسائی ص ۲۵۱ ج ۱. مسنداحمد ص ۴۰۶ ج ۳ حدیث نمبر ۱۵۳۹۰ طحاوی ص ۱۷۲ ج ۱.

**ترجمه:** عبدالرحمن بن ابزی رضی الله عنه رسول الله ﷺ سره وتروکړل نوپه اول رکعت کې ئې سورة اعلی ولوست په دویم رکعت کې ئې سورة کافرون ولوست په دریم رکعت کې ئې سورة اخلاص ولوست.

**دعلی رضی الله عنه مرفوع حدیث:** كَانَ رَسُولُ اللّٰهِ ﷺ يُوْتِرُ بِثَلَاثٍ (١).

رسول الله ﷺ به وتردرې رکعته کول.

**یادونه:** په درې رکعتو وتر دشلونه زیات احادیث دی (٢).

## اثاردصحابه کرامو رضی الله عنهم اوتابعینو رحمهم الله

**اول اثر:** دابوبکر صدیق رضی الله عنه دنوسی قاسم بن محمد بن ابوبکر رحمه الله فرمائی چې رَأَيْنَا اُنَاسًا منذ اَدْرَكْنَا يُوْتِرُوْنَ بِثَلَاثٍ (٣).

**ترجمه:** کله چې مونږ بالغان شواوپه څه پوهیدو نومونږ لیدل چې خلکو (صحابه کرامو اوتابعینو) به وتردرې رکعته کول.

**دوهم اثر دحسن بصری رحمه الله:** اَجْمَعَ الْمُسْلِمُوْنَ عَلَى اَنَّ الْوِتْرَ ثَلٰثٌ لَايُسَلِّمُ اِلَّا فِي اٰخِرِهِنَّ (٤).

**ترجمه:** دټولو مسلمانانو پدې اجماع ده چې وتر درې رکعته دي اوسلام به یواځې په اخر ددې وتروکې ګرزول کیږي.

---

١ - ترمذی ص ٦١ ج ١، مسنداحمد ص ٨٩ ج ١.

٢ - اوجزالمسالك علی موطا امام مالك ص ٤٣٥ ج ١.

٣ - بخاری ص ١٣٥ ج ١.

٤ - مصنف ابن ابی شیبه ص ٢٩٤ ج ٢ نصب الرایه ص ١٢٢ ج ١.

دریم اثر دعمربن عبدالعزیز رضي الله عنه: أَثْبَتَ عمر بن عبدالعزیز اَلْوِتْرَ بِالْمَدِیْنَةِ، بِقَوْلِ الفقهاء ثلاَ ثَا لاَیُسَلِّمُ الاَّفِیْ اَخِرِهِنَّ [1].

عمر بن عبدالعزیز رحمه الله دمدینی دفقهاء په وینا په مدینه کې وتر درې رکعته وټاکل

دعمرفاروق رضي الله عنه اثر عن المسوربن مخرمه رضي الله عنه قَالَ دَفَنَّا ابا بکر لَیْلاً ، فَقَالَ عمر: اِنِّی لَمْ اُوْتِرْ، فَقَامَ وَصَفَفْنَا وَرَاءهُ، فصَلّی لَنَا ثَلاَثَ رَکْعَاتٍ لَمْ یُسَلِّمْ الاَّ فِیْ اخِرِهِنَّ [2].

ترجمه: مسوربن مخرمه رضي الله عنه فرمائي چې مونږ ابو بکر رضي الله عنه دفن کړ، عمر رضي الله عنه وفرمایل چې ماوترندی کړي نوعمر رضي الله عنه ودریده او مونږه دده پسې شاته صفونه جوړکړل نومونږ ته ئې درې رکعت وتروکړل او سلام ئې یوائې په اخر کې وګرزولو.

عمر رضي الله عنه به درې رکعته وترکول: عن عائشه رضي الله عنها قَالَتْ کَانَ رسول الله صلى الله عليه وسلم یُوْتِرُ بِثَلاَثٍ لاَیُسَلِّمُ الاَّ فِیْ اٰخِرِهِنَّ وهذا وتر امیر المومنین عمر بن الخطاب رضي الله عنه وَعَنْهُ اَخَذَاَهْلُ الْمَدِیْنَةِ [3].

ترجمه: عائشه رضي الله عنها فرمائی چې رسول الله به وتر درې رکعته کول اوهمدا درې رکعته وتر دعمر رضي الله عنه هم وه اوپه همدی درې رکعتوبه دمدینی خلکوعمل کولو.

---

[1] - طحاوی ص ۲۹٦ ج ۱.

[2] - طحاوی ص ۲۹۳ ج ۱ نصب الرایه ص ۲۲۱ ج ۲.

[3] - مستدرک ص ٤٤۷ ج ۱ ح ۱۱٤۰.

## ددرې رکعتو وترو په مینځ کې سلام ګرزول نشته.

دعائشه رضی الله عنها مرفوع حدیث اَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ كَانَ لَا يُسَلِّمُ فِی رَكْعَتَیِ الْوِتْرِ (۱).

ترجمه رسول الله ﷺ سلام دوترو په دوه رکعتونو نه ګرزاوه.

دویم حدیث دعائشه رضی الله عنها ثُمَّ اَوْتَرَ بِثَلَاثٍ لَا يَفْصِلُ بَيْنَهُنَّ (۲).

ترجمه بیائی وتر په یوسلام وکړل

دابی بن کعب رضی الله عنه حدیث وَلَا يُسَلِّمُ اِلَّا فِی اٰخِرِهِنَّ (۳).

ترجمه رسول الله ﷺ به دوترو په دوه رکعتو سلام نه ګرزاوه.

ضروری یادونه وتر درې معنی ګانی لری

(۱) معنی لغوی طاق

(۲) تهجدوته هم وتر ویئلی شی دشپې لمانځه ته هم وتر ویئلی شی په ځینو احادیثو کې دتهجدو اودشپې لمانځه لپاره وتر لفظ استعمال شوېدی

عبدالله بن ابی قیس رحمه الله فرمائي چې: سَاَلْتُ عائشه رضی الله عنها بِكَمْ كَانَ رسول الله ﷺ يُوْتِرُ قَالَتْ بِاَرْبَعٍ وَثَلَاثٍ وَسِتٍّ وَثَلَاثٍ وثمان وثلاث وعشرة وَثَلَاثٍ (۴).

---

۱- نسائی ص ۶۹۸، دارقطنی ص ۳۲، بیهقی فی السنن الکبری ص ۳۱ ج ۳، طحاوی ص ۲۸۰ ج ۱.

۲- مسند احمد ص ۱۵۵ ج ۶ ح ۲۵۲۶۴.

۳- نسائی ص ۱۷۰۱ طحاوی ص ۲۸۵ ج ۱.

۴- مسند احمد ابوداود ص ۲۰۰ ج ۱ مشکوة ص ۱۱۲.

مادعائشه رضي الله عنها نه پوښتنه وکړه چې رسول الله ﷺ څو رکعته وتر کول ،عائشه رضي الله عنها وفرمایل چې څلور اودرې رکعته ، شپږ اودرې رکعته ، اته او درې رکعته ، لس اودرې رکعته.

(۳) اصطلاحي وتر کوم ته چې په شریعت کې وتروا ی او دماسخوتن دلمانځه نه روسته کیږي نوداهمیشه درې رکعته وه.

يادونه: وتر طاق ته وائي دنور لمونځ سره چې يور كعت يوځائي كړي نوطاق ګرزی نو په کومو احادیثو کې چې وتر يور كعت راغلی دهغې مطلب دادی چې يور كعت دنورلمانځه سره يوځائي كړي نوهغه نورلمونځ طاق ګرزی (۱).

**دعبدالله بن عمر رضي الله عنه مرفوع حديث دی.**

قَالَ رسول الله ﷺ صَلٰوةُ اللَّيْل مَثْنٰى مَثْنٰى فَاذَا خَشِيَ اَحَدُكُمْ الصُّبْحُ صَلّٰى رَكْعَةً وَاحِدَةً تُوتِرُ، لَهُ مَاقَدْ صَلّٰى (۲).

رسول الله ﷺ فرمائي چې دشپې لمونځ دوه دوه رکعته تړل کیږي کله چې یوستاسې نه و یریده چې سها ربه شی نو يور كعت دمخکنې لمانځه سره ملګر ی کړي نو دایور کعت به هغه شوي لمونځ وتروګرزوي.

دپورتنو احادیثو نه ثابته شوه چې وتر درې رکعته دي اوپه يوسلام دی په ځينو احاديثو کې د درې رکعتونه زیات هم راغلی دي خوځمونږه دامام ابوحنیفه رحمه الله مذهب داحادیثو دصحابه کرامو

---

۱- بخاری ص ۱۳۵ ج ۱ ابواب الوتر مسلم ص ۲۵۷ ج ۱.

۲- بخاری ص ۱۳۵ ج ۱ مسلم ص ۲۵۷ ج ۱.

﵁تابعینو وینا ګانو اوکړنو اودامت داکثریت داجماع موافق دری رکعته دی اودری واړه په یو سلام دی.

**درنولوستونکو**: بنده دقران اوسنت نه درسول الله ﷺ لمونځ بیان کړ د احنافو دلمانځه لپاره ئی دقران اوحدیث اواجماع نه دلائل وړاندي کړل احنافوورونو: ستاسی لمونځ دپیغمبر لمونځ دی دقران اوسنت موافق دی اودلمانځه هیڅ مسئله دقران اوحدیث نه خلاف نده دانسی شیطانانو په وسوسو په شک کې مه غورزیږی اوداخپل عبادت کلک کړی بیان می لنډ کړو تفصیلی لیکنه زیات وخت نیسی اوټول احادیث نقلول پدی وړه رساله کې امکان نلری الله ﷻ دځما لپاره داخرت ذخیره اودمسلمانانو داصلاح اوپوهاوی سبب اولامل وګرزوي.

وصلی الله علی خیر خلقه محمد واله وصحبه اجمعین.

۲۲ ربیع الثانی ۱۴۳۳ چهارشنبه مازدیګر څلور بجی دخا لد بن ولید ﵁ مدرسه ګلاهی غنې خېل ننګرهار





مكتبة الحرم
0300-9395919
0306-7616569